# رروونکی

ز بکس پر سر ایښې هېندارې ته کتل
کې ږمنځ تېراوه. په چپ لاس یې د
ه تورو کې پټ کړل خو سپین ویښته
ږڅه یې وشړې دی بیا درجوت شي،
مره یې په تندي کې ګونځې راپیدا

ې سپینو ویښتانو په وجه څو ځلې
، سر دې سپین شو، په کور کې زړه
نګې کړې، هېندارې ته یې په ځیر
ه: «دا ویښتان خو مې هسې خدای
ې خو دومره زیات نه یم. پلار مې دې
پین ویښته یې په میراث راپاتې دی.
ځوان و، لا په عسکرۍ کې و چې نیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هېنداره کې يې خپل مخ ته وکتل، ځان سره يې وويل: «په رنگ کې خو دومره بده نه يم. سپينې خو هسې بې مالگې وي. همدا سې غنم رنگه ښه يم.»

لاس يې د پوزې سر ته ونيو، خوله او نيمه پوزه يې پټه شوه. په هېنداره کې غټې تورې سترگې د جگې پوزې په سر باندې ښکارېدې. اوږده بانه يې د سترگو شاوخوا ته لکه پيره داران ولاړ وو. سره ښنتي ځيږې وروځې يې لکه د گورېت وزرونه. معصومه موسکۍ کېدله؛ خو لاس يې چې ايسته کړ، خندا يې مروره شوه. پر تندي يې گونځې راغلې. پرېړې غوښنې شونډې يې سره راټولې شوې او د پاسنۍ ژامې راوتلې داړې يې پټې کړې. سر يې وځړېد، تيونو ته يې پام شو. لاس يې ورته وروړ او د شنو پنجابي کاليو له پاسه يې کچ مېچ کړل. گوتې يې له نريو پوښتيو سره ولگېدې او په ورغو کې يې واړه تيونه د پېرکيو لپاره د پېړو په اندازه. همزولې وريادې شوې، له غټو چاغو تيونو سره. يوازې دا لا پاتې وه، همزولې ټولې واده شوې وې. هره يوه يې د درېو - څلورو اولادونو څښتنه وه.

له دالانه د پښو ښکالو راغی. ژر يې تور پړونی پر سر واچاوه او له ځانه يې تاو کړ. د ږمنځ له غاښونو يې خپل تل شوي ويښته راټول کړل. د چپ لاس پر ورغوي يې د ښي لاس په دويمه گوته سره راوپېچل. هېنداره يې بېرته په بکس کې کېښوده. بکس ته يې قلف ورواچاوه او د صندلۍ لاندې چې پر سر يې برېستنې او نيالۍ کتار وې، پورې وواهه. د گامسکوټ له رخته جوړ شوی څادر يې پر کاليو باندې وغوړاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور خلاص شو. د ببو وچ کلک لاسونه له بډ وهلو لستوڼو سره راښکاره شول. د نیالیو له سره یې رومال راواخیست او مخ لاس یې وربانديې وچ کړل. له دېواله راځړېدلی د شطرنجیو جای نماز یې راکښته کړ. د معصومې له څنګه بره تېره شوه. تیندک یې وخوړ، نژدې پړ مخې لوېدلې وه. معصومه ژر ورپاڅېده: ببو ! څه وشول؟

ببو د پښې په ګوتو باندې د تغر راوتلي تارونه هوار کړل، ویې ویل: هېڅ، پښه مې بنده شوه.

معصومې ږمنځ د کوټې د یوازینۍ لوړې کړکۍ له پاسه چې سیوري خوا ته وه، کېښود. تل شوې ویښته یې په لاس کې ټینګ ونیول. له کوټې را ووته. د سرای د دیواله خوا ته لاړه او ویښته یې د خښتو تر منځ په یوه چاوده کې وټومبل.

څو شپې هماغلته ودرېده. د چاودنو اوازونو ته یې غوږ ونیو، چې د کابل له سوېل او لمر خاته خواوو راپورته کېدل. د کلوله پشتې غونډۍ یې د سترګو مخه ډب کړې وه ځکه خو د چاودنو دوړې او لمبې ورته نه ښکارېدلې. دلته هم داسې څه نه وو چې په لېدلو یې د سړي زړه خوشحاله شي خو بیا هم د کوټې تر تیارې ښه وو. کوټې ته لمر نه ورته او دېوالونه یې یوازې اخېړ شوي وو، رنګ شوي نه وو. لکه شګلنه ځمکه چې پر سر یې اوبه نه تم کېږي، دا بې رنګه دېوالونه هم د رڼا تږي وو، رڼا به په کې ورکېدله، ته وا رڼا یې خوړله. د کوټې نیمایي برخه له غولي تر چته پورې په نیالیو، بړستنو او اضافي لوښو ډکه وه او ایله په کې د درې په درې ګزو ځای پاتې و. د کوټې له چته ښکارېدل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوند يې کوم ښېوزلی انسان و ځکه چې لاړي (دستکونه) يې له يوه بله سره لرې اچولي وو. چېرته چې درې لاړي پکار وو، دوه دانې. د لاړو پر سر د دړو او تختو پر ځای د ولي څانګې او کاږه واږه ښاخونه له پاڼو سره. ځای ځای ختې ترې لاندې راوتلې وې.

معصومې لمر ته اېښې د اوبو په ډبکو لاس کېښود، ترمې وې. د منې په مازديګري لمر کې نور د دې وس نه و چې د دوې په ډبکو کې اوبه ګرمې کړي. ډبکې يې راواخيستې او بېرته کوټې ته لاړه. د کوټې له وره سره جوخت يې ډبکې سره څنګ په څنګ کېښودې. د صندلۍ له لاندې يې زړه کمپله راوايسته او ډبکې يې ورباندې پټې کړې چې د سهار اوداسه ته تودې پاتې شي.

مور يې د مازديګر لمونځ خلاص کړی و. مخ قبلې ته پر جای نماز ناسته وه او د اوږدو لرګينو تسبو دانې يې اړولې. پوښتنه يې وکړه: لورې ! د باندې څه خبرې وې؟

ـ نور به نو څه وي. بيا سره ښکر په ښکر دي. سم دم غوبل يې جوړ دی.

ـ په کوم ځای کې، درمالو مېږي که نه؟

ـ نه ببو ! لکه کارته نو خواته چې وي.

ببو سر پورته کړ، چت ته يې وکتل او ويې ويل: خدای دې خير کړي. دا وړور خو دې ډېر ځنډ وکو.

ـ غم يې مه کوه. خدای مهربان دی، را به شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو لړه ها خوا ته شوه. د جای نماز کښته سر یې، چې یو څه سره راټول شوی و، بېرته سم کړ او معصومې ته یې وویل: سترګه رالوېږي، راشه لمونځ دې وکه.

دا په لمانځه ولاړه وه چې د وره غنجا شوه. تر لمانځه وروسته یې د صندلۍ له سره یوه کمپله راواخیسته. چوترې ته راووته. ببو د ورې نیالیچې پر سر ناسته وه. د اومو خښتو د یوال ته یې ډډه لګولې، تسبې یې اړولې.

معصومې کمپله وربانديې واچوله. بېرته کوټې خوا ته لاړه او ژر له یوه بالښت سره راغله. ببو مخې ته کږه شوه، دا یې شا ته ورته بالښت کېښود.

ببو وویل: «ښاده شې، لورې راڅه کېنه»

د دواړو سترګې د انګړ په دړه کې ښخې وې. داسې غلې وې لکه دوه نا اشنا کسان چې یو د بل په ژبه سره نه پوهېږي. یو نیم ځل د ببو غږ اورېدل کېده چې د تسبو په اړولو یې «یا رحمن، یا رحیم» داسې ویل لکه د خوږمن انسان زګېروي.

معصومې سر پر زنګانه کېښود او له پښو یې لاسونه تاو کړل، په کرار غږ یې د حمزه بابا دغه بیت زمزمه کړ:

شوګیرې د خپل زنګون د پاسه خوند کا
خو د خوب لپاره ستا زنګون په کار دی

رڼا خپله لمن ټولوله. لمر هم د معصومې غوندې سر د غره پر زنګانه ایښی و. ببو او لور یې هماغسې غلې وې تر هغې چې د ملا اذان دغه چوپتیا ماته کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معصومه پاڅېده، له کوټې څخه يې دوه زاړه جای نمازونه راوړل. لمونځونه يې هماغلته وکړل. معصومې لمونځ ژر خلاص کړ او بېرته مخ دروازې خوا ته کېناسته؛ خو مور يې په ناسته لا نفلونه کول. تياره وار په وار سره زياته شوه. معصومې غږ وکړ: ببو بس دی، په تياره کې لمونځ نه کېږي، د سجدې ځای نه درمالومېږي.
ببو سلام وګرځاوه خو دعا يې هم د لمانځه په شان اوږده شوه، لکه مزدور چې د خپلې اضافه کارۍ د پيسو په سر چنې ووهي. څند وروسته يې لپه کړي لاسونه پر مخ راتېر کړل. هماغسې په ناسته راوښنېده او ځان يې د معصومې څنګ ته ورساوه. ځان يې راغونډ کړ، متونه يې په ورغوو باندې وسولول. معصومه پاڅېده، کوټې ته لاړه. چې بېرته راغله، په لاس کې يې توره شړۍ وه. د ببو پر اوږو يې وغوړوله. پخپله هم د هغې څنګ ته کېناسته او پښې يې تر کمپلې لاندې پټې کړې. ببو کمپله پورته راکش کړه، تر ستوني په کې ننوته.
تياره لکه وېره خورېدله او شېبه په شېبه زياتېدله. ببو ځان سره لګيا وه، خوله يې ښورېدله، لکه کومه دعا يې چې ويله. يو نيم ځل يې له خولې څخه «خير کې خدايه»، «خدايه ته مهربانه يې» راوتل.
نژدې وه چې تياره لرې او نژدې هر څه تر ستوني تېر کړي چې چا ورو وټکاوه. دواړه اوچت پاڅېدې. جمال له دالانه غږ وکړ: ککۍ، زه به يې وګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی هماغلته ودرېدې او لارې ته يې سترګې وګنډلې. د لرګين وره غنجا پورته شوه. د بايسيکل ټير له وره راتېر شو.
معصومې وويل: هغه دی لالا مې شکر په خير راغی.
ببو پر تندي باندې لاس کېښود ، مخې خواته لړه کړه شوه ، ويې ويل: زه خو يې نه وينم.
ابراهيم په کراره له خپل بايسيکل سره انګړ ته راننوت. له نری لارې راتېر شو. چوترې ته نژدې يې بايسيکل د دېوالـه څنګ ته ودراوه.
ببو ورغږ کړ: زويه په خير راغلې؟
يوه ستړې غږ ځواب ورکړ: خير يوسې، ببو.
جمال بايسيکل ټينګ ونيو او ابراهيم يې له کنجوغې څخه رابړې پړی خلاص کړ. لوی لرګين صندوق يې په کراره راکښته کړ او پر ځمکه يې کېښود.
ببو معصومې ته کړه: هله لانټين ولګوه.
معصومې د کوټې خوا ته ورمنډه کړه. بېرته له لګېدلي لانټين سره راووته. د زاړه لرګين صندوق له يوه سره ابراهيم او له بل سر يې جمال نيولی و او سوکه سوکه د دالان خواته روان وو.
معصومه يې مخې ته رڼا کوله. جمال صندوق د دوی تر کوټې پورې ورساوه. صندوق يې په کراره په ځمکه کېښود ، ويې ويل: د اکا زو ! څه دې په کې اچولي چې دومره دروند شوی؟
ابراهيم ستمی وکېښ: «لوښي دي. چېرته؟ کېنه ډوډۍ همدلته وخوره»

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال له وره سره ودرېد ، شا ته یې وکتل، ویې ویل: «ته دې دمه جوړه که، زه به وروسته راشم.»

معصومې لانټین د ابراهیم مخې ته کېښود. لالا یې د صندوق له زنځیره نیلوني مزی خلاص کړ. سرپوښ یې لرې کړ او د چیني او ناشکن لوښو په راایستلو لګیا شو. معصومې ژر ژر لوښي راواخیستل او د کړکۍ تاخچې ته یې ورپورته کړل.

ببو هم لستوڼي بډ ووهل. شیان یې سره ځای په ځای کړل. ابراهیم هماغلته د غولي په منځ کې وغځېد. معصومې ورته بالښت راواخیست. هغه سر پورته کړ او په بالښت یې سر ولګاوه.

ببو پوښتنه وکړه: زویه لمونځ دې کړی؟

ابراهیم سوړ اسویلی وایست: نه ببو ، کالي مې بې لمانځه شوي.

اواز یې ډېر ستړی و ، د زګیروي په شان. ببو ورته په ځیر وکتل. د خت کینه اوږه او دواړه لستوڼي یې په تورو وینو ککړ وو. اوچته پاڅېده ، ورنږدې شوه. پر اوږې او لاسونو یې لاس ورتېر کړ. په وینښتانو کې یې ګوتې تېرې کړې.

ابراهیم وویل: ببو ! رک روغ یم.

ببو په لړزانده غږ پوښتنه وکړه: مور دې ومره ، وه زویه ژوبل خو به نه یې؟

د ابراهیم پر وچو شونډو نری موسکا تېره شوه ، ویې ویل: نه ببو ، هېڅ بلا نه یم وهلی.

- بلا دې د سر دښمن ووهي. نو دا وینې؟
- د بل چا وینې دي. بیا به یې کیسه درته وکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معصومې د چايو په ګيلاس کې کاشوغه وځرخوله او ګيلاس يې د ابراهيم څنګ ته کېښود. ويې ويل: لالا دغه خوږ چای وڅښه، دمه به دې جوړه کې. سور نه دی.
ابراهيم لاسونه په غولي تکيه کړل، په کراره راکېناست. د کېناستو پر وخت يې د مخ ګونځې زياتې شوې.
معصومې بالښت ورته سم کړ. ده ډډه ولګوله، غاړه يې تازه کړه. له غاړې څخه يې تور او سپين دسمال لرې کړ. د چپ لاس په ګوتو يې سترګې وموښلې. بې لاستي روسي ګيلاس يې پترې نيولو شونډو ته ونيو. د چايو يو غړپ يې چې وکړ، نور يې ګېلاس په سر پورته کړ. ټول ګېلاس يې په يوه ساه وڅښل او تش ګېلاس يې معصومې ته ونيو.
- نورام درته راوړم.
- که يو بل ګېلاسم راکې، بده به نه وي.
پښې يې وغځولې، سترګې يې پټې کړې.
ببو څو شېبې په چوپه خوله ورته وکتل، بيا يې له کړکۍ بهر ته وکتل. هرڅه په تررېمو کې ډوب شوي وو. په نرمه غاړه يې ورغږ کړ: زويه !
ابراهيم سترګې وغړولې. په کراره يې مخ ببو خوا ته کړ. ببو خپله خبره وغځوله: زرمينې...
ابراهيم يې خبره ورغوڅه کړه: هو رينښتيا چېرته ده؟ لا راغلې نه ده؟
ـ نه، ورور يې راغلی و. ويل يې چې نن شپه به هماغلته وي. ته يېم غوښتی يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معصومې وویل: لالا ! په بدنۍ کې مې درته تودې اوبه اچولې دي. جامې دې هماغلته، په تشناب کې دي.
ابراهیم په کراره پاڅېد. له کوټې ځخه ووت.
معصومې وویل: ببو ، وږې خو به نه یې؟
- نه، لورې. صبر وکه چې لالا دې په خیر لاړ شي، بیا به یې وخورو.
ابراهیم چې بېرته راغی، سپین خت پرتوګ یې په تن کې وو. په لاس سره یې ویښتان سم کړل. د واسکټ له جیبه یې د قلم غوندې اوږد نری لاسي څراغ راوایست. ویې لګاوه، بېرته یې مړ کړ. ویې ویل: ببو ، زه به نو لاړ شم.
- همدا اسې ځې؟
- ولې؟
- وه زویه، یخ دی. یا دې پټو واخله یا دې بنیان واغونده.
معصومې ورته د کالیو له سره خړ پټو راواخیست. ده ځان په کې راونغاړه او له کوټې ووت. معصومه لانتېین په لاس ورپسې رهي شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۲. د لارې کيسه

څنګه چې ابراهيم د کوټې په بر سر کې پر ځګې توشکې کېناست، د زرمينې وړوکي ورور بدني او چيلمچي په لاس کې راغی او لاسونو ته يې اوبه واچولې. دسترخوان وېړ شو. د زرمينې خور او وريندارې په څو شېبو کې د وريجو غوري، او د غوښې او کچالانو د زيمنې تالي پر دسترخوان کېښودل. ترکاري، او د مستو کاسې هم راورسېدې. ابراهيم، چې نور کله به په خوراک کې ښه تکړه و، ژر شا ته شو.

خبير وويل: نيسه کنه، تا خو هېڅ شی ونه خوړ.

مور يې له هغې خوا ورغږ کړ: غوښې خو همداسې پاتې شوې، تا خو بيخي لاس ام ورنه ووړ.

ابراهيم په موسکا سره وويل: زړه ته مې نه کېږي. چې رښتيا شي ستړی يم.

د زرمينې پېغلې خور ته يې وکتل: ګلشن خوره کې! ما ته به داسې يو ښه تريخ چای راجوړ کې. کېنه، ډوډۍ دې وخوره، وروسته به يې راوړې.

ګلشن په چټکو ګامونو د وره خوا ته روانه وه، ويې ويل: خير دی لالا، چای تيار په ترموز کې لرو.

خبير ورته د مستو کاسه ورنژدې کړه: ته خو ونيسه دا مستې وڅکه. د کور مستې دي، پوډري نه دي.

ابراهيم کاسه ورپورته کړه. درې – څلور کاشوغې يې ځنې وخوړې. کاسه يې بېرته پر دسترخوان کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلشن يې مخې ته په چيني پياله کې چای کېښود. په مړوند کې يې بنګړي وشرنګېدل. له غټې کريستالي شريني دانۍ نه يې يو چاکلېټ راواخيست. زېړ پوستکی يې چې د غوا عکس وربانديې و، ايسته کړ. چاکلېټ يې په ورغوي کې د اوښې مخې ته ونيو. ابراهيم چاکلېټ واخيست، ويې ويل: «ښاده شې خورکۍ، ژوندۍ دې وې»

زرميني ورغږ کړ: سړيه ! مبارکي نه ورکوې؟

ابراهيم ورته وکتل: د څه شي؟

- نه يې وينې؟ بنګړي يې اخيستي دي.

د ګلشن په لاس کې شپږ داني د سرو زرو بنګړي د کتهور کميس تر لستوڼي لاندې د ګيس رڼا ته ځلېدل.

ابراهيم وويل: اوهو، مبارک، مبارک.

د ګلشن خوله له خندا نه راټولېده، ويې ويل: کبير لالا مې له لنډنه رالېږلي دي.

دستر خوان چې ټول شو، خبير پوښتنه وکړه: خير خو به و؟ څنګه ناوخته شوې؟

ابراهيم چې پښې يې غځولې وې، سم کېناست. د واسکټ له جيبه يې د «مونډ» سګرټو دبی راوايست. يو سګرټ يې ترې راوکيښ، ويې لګاوه. غاړه يې تازه کړه. شنې سترګې يې تنګې کړې. بې له دې چې خبير ته وروګوري، ويې ويل: وروره ګله ! کيسه ډېره اوږده ده. چلسيتون ته تللی وم. ها زموږ د بام لاره خو دې ليدلې وه کنه؟ هلته راکټ لګېدلی و.

خبير وويل: ورانی خو به يې ډېر نه وي کړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم په دې منځ کې له خپل سګرټه لوخړې پورته کړې، ویې ویل: نه خدای ورباندې فضل کړی. بس یو څو لاړې یې مات کړې وو. کوټو ته یې داسې ډېر تاوان نه و رسولی. هغه څه کوې چې کوم ظالم غل مو پر لوښو ورپېښ شوی، ټول مسې دېګونه یې وړې دي.

زرمینې غږ وکړ: وي خدایه ! هغه زما چینې لوښې، هغه په جهیز کې...

ابراهیم یې په خبرو کې ولوېد: غم یې مه کوه، هغه یې نه وو موندلې، رامې وړل.

د چپ لاس په ګوتو یې نرۍ ږیره وموښله او خپلې خبرې یې وغځولې: چینې او ناشکن لوښي مې کارټن کې واچول. لس لس نیمې بجې به وې چې له کوره راووتم.

زرمینه یې بیا په خبرو کې ولوېده: نو تر اوسه پورې چېرته وې؟

ابراهیم ورته بد بد وکتل، خو بېرته یې کیسه شروع کړه: د چلسیتون په سړک باندې هاوانونه لګېدل نو د ویسل اباد(واصل اباد ) په کوڅو راګډ شوم. زه خو دا دومره وخت کې ها خوا ته نه وم تللی. ټول کورونه ړنګ شوي. د چا دروازه نشته، د چا دېوال نړېدلی. خو مطلب روغ کور به په کې پیدا نه کې. په کوڅو کې نو بني ادم څه چې لا په نوم ژوندی ساری نه ښکاري. چوپه چوپتیا ده. یو نیم ځای کې ټوپکیان وینې چې د خلکو کړکۍ یا دروازې یې په اوږو کړې دي. خیر، دغسې روان یم، د جنګلک د فابریکې شا ته رسېدلی وم چې چا راباندې غږ وکو «ودرېږه». کتل مې چې له فابریکې څخه دوه ټوپکوال رامنډې وهي. تریس داره اوږده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهاري ختونه يې په تن، پايڅې يې بډ وهلې، سيلور بوټونه يې پس قات په پښو کړي، کلاشينکوفونه يې ځوړند نيولي، راورسېدل.

دې وخت کې زرمينې وارخطا غوندې وويل: پيسې خو به يې درنه نه وي اخيستې؟

ابراهيم ورته تندی تريو کړ: بابا خبرو ته خو مې پرېږده.

بېرته يې مخ خبير ته واړاوه: نو وروره ګله، لستوڼي يې بډ وهلي دي. دا اوږدې خيرنې ځڼې څه وايي، دا د بلا غوندې سرې سترګې يې څه وايي، دا په لاسونو او مړوندونو باندې په شنه رنګ د مار و لړم عکسونه. سم دم ځناور وو.

راته ويې ويل چې درځه. چې هر څه مې ورته زاری وکړې، پرې يې نه ښودم. د دوی يو کس مخکې شو، زه ورپسې او دا بل يې په ما پسې روان شو. بار مې دروند دی او لاره داسې خرابه چې دخښتو، د ښيښو ټوټې دي، د کانکرېټو ټوټې دي چې هرې خوا ته پرتې دي او داسې ډز و ډوز روان دی چې څه درته ووايم.

بس وروره ګله، يوه خالي انګر ته يې بوتلم. هرڅه ګډوډ وو. د دروازو او د کړکيو خو بيخي درک نه و. ماشينونه يې په بېخ کې غوڅ کړي وو. د برش ــ څلوېښت نور بايسيکلونه هم ولاړ وو. چا باندې د اوړو بوجۍ، چا باندې د غوړو ټيمونه، يوه نيم باندې بيا د کور سامان بار وو.

نو وروره ګله، بايسيکل مې په ستنډ باندې ودراوه. ټوپکيانو بل انګر ته بوتلم. هلته نو داسې کړنګ و کړونګ روان دي چې ته وا د علي رضا خان کوڅه ده او د ښار ټول ټټاران همدلته راغونډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي. ورننوتم چې گورم د برش ـ څلوېښت کسان لګيا دي. څوک د ماشينونو ننوته خلاصوي، څوک د اوسپنو غټې ټوټې لاريو ته خېژوي، د چا په لاس کې مارتول د چا په لاس کې اره چې هره پرزه په رېنج و په پلاس نه خلاصيږي نو يا يې ماتوي يا يې اره کوي.

ټوپکي راته وويل: ماشين خلاصوی سې که يه؟

ما وې ورک کوه يې ځان ترې خلاصوه، ومې ويل: نه بابا، والله که مې په ټول ژوند کې رېنج په لاس کې اخيستی وي.

دا نو خبره نه وه بلا وه. خير وروره ګله، زه يې هم د موټرو بارولو ته ودرولم. دا سې درندې پرزې يې راباندې پورته کړې چې کولمې يې راوشکولې. تر مازديګره پورې مو دوې لارۍ ډکې کړې. اوس نو موټروان چې قدرالله کوي، موټر نه چالانېږي. پاټکيان پخپله د خير په غونډۍ کرار ناست دي، خپله سګرټې څکوي او په موږ باندې موټرې ټېله کوي. ډک زيل موټر وګوره او د سړي زور. نسونه مو هم وړي دي. بس په يو شوا خون مو لارۍ چالانې کړې. د پاټک کومندان يوه ټوپکوال ته په سترګو کې څه اشاره مشاره وکړه. هغه د باغ بابر خواته يو فشنګ والوځاوه. کراره کراري شوه. ډزې بندې شوې. لارۍ بې غمه سړک ته ووتې. په پاخه سړک يې چاراسيا خواته کش ورکړ. موږ هم بايسيکلونه راواخيستل. سړک ته راووتلو.

خبير وويل: چای د بم څښه چې يخ نه شي.

ابراهيم پياله پورته کړه، يو غړپ يې ترې وکړ، د زرمينې خواته يې مخ واړاوه: رېښتيا هغه د صوفي کريم زوی، هغه د قاري له دوکان سره يې چې کور و، هغه څه نو مېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ کوم یو یې یادوې، د هغه خو درې زامن دي.

ـ هغه منځوی، د بابه نظر لور چې ورته ناسته ده.

ـ ښه، رحیم یادوې؟

هو هماغه. هغه خوارکی هم راسره و. بس وروره ګله، همدا سې سره روان یو چې ځنګه د اوسپنو لارې له سترګو پنا شوې، دا زوی مړي بیا سره ونښتل. د باغ بابر د دېوالو شا ته شورای نظاروالا په مورچو کې ناست وو. کلاشینکوفونه یې له پکول خولیو او برګو دسمالونو سره ښکاربدل خو نور پټ وو. حزب اسلامي والا له فابریکې او دا نور له باغ بابره دا سې سره ولي چې قیامت یې جوړ دی. خیر یو رقم ته مو ځانونه د باغ بابر د دېوال څنډې ته ورسول چې ځنګه موږ ورورسېدو ، بیا سره غلي شول. یو دوه تنه برګ پتلانه والا له باغه راووتل. کمیسونه یې په پتلونو باندې خوشې کړي، دا سې په کبر راروان دي چې ته وا ډیلی یې فتح کړی. نو وروره ګله، له چا د اوړو محصول اخلي، له چا د غوړیو او د بورې. ما وې څه نو تا سره خو سودا نشته خو زه یې هم ودرولم. کارتن یې را باندې خلاص کو. اوس رانه د دې زړو لوښو بل غواړي. یو څو شېبې مې ورته سوالونه وکړل چې پرې مې ږدي خو دا سې څپېړې یې راکړې چې ما وې هر څه به ورته پرېږدم خو چې خوشی مې کي. هماغه و چې جیبونه یې راته تش کړل. چې د ټولو شوکول خلاص شول، راته ویې ویل چې: «او مردم از اېجه اموتو ګوله وارې مېګرېزین که اګه هزارګیا از خانې الم و فرنګ دید تان باز دیګه خون تان ده ګردن خود تان.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې، وروره موږ خو به پېژني چې عام خلک يو ؛ نو ولې به مو ولي؟ ټوپکي په زوره وخندل، ملګري ته يې وکتل، ويې ويل: «اي لوده ره سيل کو» بيا يې ما ته مخ راواړاوه: «راستي که اوغان غول استي. برو پشت ګپ نه ګرد ، جان بيادر ! سر مردم شرت مېزنين که اي نفره ده تالاقش بزنم يا ده پايش. بې ناموسه ايتو نشان مېزنه که حيران بپايي.»

موږ چې تر اوسه د ملا او د څټ د درد له لاسه د خوځېدلو نه وو ، داسې چابک روان شوو چې تـه وا د بايسيکلو مسابقه ده. د ګذرګاه پله ته لا نه وو رسيدلي چې د مرميو باران راباندې جوړ شو. چيو چيو چيو ، مرمۍ دي چې تېرېږي. کمبخت غورځېږي او بختور تېرېږي. تيار پل صراط و. د ګذرګاه فارم ته چې ورسېدو ، له مرميو بچ شوو. اوس چې شاوخوا ته ګورم له دېرش ـ پنځه دېرشو کسانو به ابله پنځلس کسه پاتې وو.

نو وروره ګله، چې ګورم د صوفي زوی ورک دی. اوس نو هک حيران يم چې څه وکم. که همداسې ترې نه راشم خو ناځواني ده، بله ورځ به راته وايي چې د نيمې لارې ملګری وې او که پسې ورشم نو څوک د دې مرميو مخه ويني. يو څو شېبې هماغلته ودرېدم. زړه مې نو داسې درزېږي چې درزا يې په خپل غوږونو اورم. ساه مې بنده بنده کېږي. خو اخر مې بايسيکل بل سرې ته وسپاره. د فارم دېواله ته جوخت روان شوم. ځان مې سيند ته واچاوه. ښه و چې اوبه په کې لږې وې، د يوې ويالې اوبه به وې، هغم د سيند په منځ کې. څنډې يې وچې وې. دغسې د سيند په څنډه کې تر پله پورې لاړم. کرار کرار مې د سيند د دېواله د ډبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چاودو کې ګوتې او پښې ښخې کړې او پورته شوم. د سړک سر ته چې ورسېدم، پروت مې وکو. لړ مې سر راپورته کو. چې ګورم ډېر کسان په وينو کې لت پت پراته دي. ځوک د خپلو بايسيکلو څنګ ته پراته دي او د ځينو خو بايسيکلونه هم نه ښکاري. د باغ خوا ته ګورم چې دوه وسلوال دوه دوه بايسيکلونه په غبرګو لاسو کې نيولي او باغ ته ننوځي.

وروره ګله، د صوفي زوی مې له سپين واسکټه وپېژاند. ځان مې کرار کرار په پروت وروړساوه. خوله يې خلاصه وه خو سترګې يې پټې وې. ما وې مړ به وي خو چې لږ مې ورته صبر وکو نو ومې ليدل چې په ځنډ سره يې له ستوني خرهار راوځي. ټټر يې دوه ځايه سوری و. له خرهارو سره يې له ټپونو خوټ خوټ وينې راوتلې. اوس حيران يم چې څه وکم؟ که ودرېږم او دی په شا کم؛ خو ټوپکيان به مې ووينې، دا ځل به ما وولي. نو همداسې په پراته مې کرار کرار راوڅکاوه. ياره بني ادم څومره دروند شی دی. ګز يونيم ګز به مې راڅکولی و چې خرهار يې بند شو. چې هر څه مې ورته صبر وکو، نور يې ساه ونه ايسته، سړی ختم شو.

دې خبرې سره د ابراهيم مخ تک سور اوښتی و. شونډې يې رپېدلې. غږ يې لړزېده. لاړې يې تېرې کړې. د سترګو په کونجونو کې يې دوه څاڅکي اوښکې په څڅېدو وې. د چايو پيالـه يې پورته کړه او په دې پلمه يې په ګوتو سره اوښکې پاکې کړې. د سترګو لاندې يې خپلو بچيو ته وکتل. هغوې د ماما له زامنو سره سات تېري کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څو شېبې ټول غلي وو. د هر چا د ساه کښلو اواز او د چایو د سړپولو غږ تر بله رسېده. ماشومان هم دې چوپتیا ته حیران شوي وو، خپله سات تیري یې بنده کړې وه.

د زرمینې مور وویل: زویه ستړی به یې، که ځملې نو بله کوټه اوزګاره ده.

ابراهیم زګیروي ته په ورته غږېو نیولي اواز وویل: هو والله، ستړی خو یم.

هغه روان شو. زرمینه هم ورپسې جګه شوه. بلې کوټې ته لاړل. ابراهیم په نیلي دېوال باندې راځړېدلي د امیتابچن لوی پوسټ کارد ته کتل. زرمینې دوې نیالۍ سره ځنګ په ځنګ واچولې.

ابراهیم پوښتنه وکړه: اوړکي دلته نه ځملي؟

زرمینې ځواب ورکړ: نه، هغوې به خپلې انا سره ځملي.

ورووتکېده. زرمینه ورغله، د ګلشن له لاسه یې پتنوس او د چایو ترموز راواخیستل. پر ځمکه یې کېښودل او د دروازې قلف یې بند کړ. دواړه ګېلاسونه یې ډک کړل. یو چاکلېټ یې سپین کړ او ابراهیم ته یې ونیو. چایونه یې بې له خبرو اترو سره وڅښل.

ابراهیم په بستر ننوت. مخ یې دېوال ته کړ او شا یې زرمینې ته. زرمینې له اوږې راکش کړ، ویې ویل: څه کوې؟ خپل کور کې خو ستا د مور و خور له لاسه نه جومه لرو نه پنشمبه، اوس رانه مخ اړوې.

ابراهیم وویل: هغوې نو څه ملامتې دي. د مهاجرۍ ژوند دی. همدا یوه کوټه لرو. هغوې نو چېرته وشړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرمینې د سړي د کمیس تڼۍ خلاصه کړه، ګرېوان ته یې لاس ورننه ایست، په ګوتو یې د سینې ځیږه ویښته ونازول. وموسېده په ټیټ لړزانده غږ یې وویل: هغوې مه شړه خو اوس.

ـ څه کړې، د بل کور دی. چېرته به ولاړ شو؟

زرمینې سر پورته کړ، شونډې یې د سړي پر شونډو کېښودې. شېبه وروسته یې سر اوچت کړ. ویښتو ته یې څنډه ورکړ. په سترګو یې د کوټې په کونج کې ځړېدلې پردې ته اشاره وکړه، ویې ویل: غم یې مه کوه. هغه دی تشناب، لاره یې کوټې ته ده. د ګازو ډبه، اوبه، هرڅه پکې تیار ایښي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۳. ناندرې

دروازه خلاصه شوه. اسمعیل، ذبیح او لیمې درې واړو په منډو ځانونه ببو ته ورسول او د هغې غېږې ته وغورځېدل. ورپسې ابراهیم په وره کې راښکاره شو او بیا زرمینه راننوته. زرمینې د معصومې په لاس کې د سمال ته وکتل چې خامک یې په کې ګنډل. بیا یې پر تاخچې باندې لوښو ته وکتل، سوړ اسویلی یې وکیښ. خوله یې خبرو ته جوړه کړه؛ خو څه یې ونه ویل.
ببو ابراهیم ته وویل: زویه ! نوکري ته دې نه ځې؟ پرونم نه وې تللی.

ابراهیم وویل: ببو، نن خو جومه ده.

ــ وی، زویه د ورځو حساب رانه ورک دی. خیر ما وې زویه که د ما یې منې، نور نو چلسیتون ته مه ځه.

ــ ولې ببو؟

ــ ته یې نه وینې؟ څه حال دی؟ پرون چې څو پورې ببرته راتلې، زما په زړه یو خدای خبر و. رېښتیا هغه د وینو کیسه خو دې ونه کړه؟

جمال په دالان کې وتوخېد، له هماغه ځایه یې غږ وکړ: ابراییمه، راغلی یې؟

ابراهیم ځواب ورکړ: هو، راځه انډیواله.

یوه ډنګر لاس د وره پېړه پرده لرې کړه، جمال راننوت. ابراهیم یې خپل څنګ ته وروباله: راشه، دلته کېنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کېنا ستو سره سم یې پوښتنه وکړه: ښه نو په چلستون کې څه خبرې وې؟

ابراهیم ورته د تېرې ورځې کیسه په شد و مد وکړه. خو دا ځل یې د بېگاه په شان رنگ ونه تښتېد او د غږ او شونډو رپېدا یې هم پرون غوندې زیاته نه وه.

ببو، چې د څادر په پیڅکه یې اوښکې وچولې، په ژړغوني غږ وویل: زویه، خدای دې تا راته ژوندی لري. مال به بیا پیدا شي خو که خدای مکړه ...

ابراهیم جمال ته سترگک وواهه، ببو ته یې وویل: ببو، څه وکم نو، دغې نږور دې خپلو چیني لوښو پسې لېږلی وم.

زرمینې ژر ځواب ورکړ: زه نو څه خبره وم چې داسې به کېږي. بیا په لوښو خو به تاسې ښه ښکاره شئ، یوازې ځان ته خو مې نه دي راغوښتي.

ابراهیم د هغې د نورو خبرو مخه ونیوله، ویې ویل: ببو، څه وکو؟ همدا مو د ژوند سرمایه ده. اوس وگوره هغه د مسو دیگونه یې ټول وړي دي.

ببو بیا خپله خبره تکرار کړه: مال خو د سړي د لاس پیدا دی، مال سړی نه پیدا کیي.

- سمه ده، ببو. چې رېښتیا وو ایم نو زه یې هم ډارولی یم. بیا یې د خپل لاس ساعت ته وکتل: نه بجې دي. زه به لاړ شم، که د صوفي کریم د کور پته مې پیدا کړه. یو چا خو ویل چې په بیمارو (بي بي مهرو) کې اوسېږي.

جمال وویل: زه بم لاړ شم، د سماوات د پاره به لرگي مات کم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی چې لاړل، زرمینې معصومې ته تندی تریو کړ: میرات دې شي دا دومره دسمالونه. چا ته یې ګندې؟ ښه د ربړارانو کتار خو دې د دروازې شاته ولاړ دی. دومره دې له لاسه نه کېدل چې دا لوښي ځای په ځای کې.

معصومې ببو ته وکتل. هغې پر شونډو باندې ګوته کېښوده چې څه مه وایه.

معصومې وویل: ما خو تا ته پرېښودل چې پخپله راشې. چې بیا راته ونه وایې چې ولې دې دلته ایښي، ولې دې هلته نه دي ایښي؟ ستا خو بیا ډېرې نخرې زده دي.

ستن یې په دسمال کې ښخه کړه. ولاړه شوه. دسمال یې د کالیو په سر کېښود، ویې ویل: هه، وایه چېرته یې ږدې؟

زرمینې هېڅ ونه ویل. د کوټې په ګوټ کې یې د لرګین صندوق سر خلاص کړ. دوې بخخې یې ترې راوایستې. بیا پاڅېده د تاخچې له سره یې د چیني کاسو یو درځن راکښته کړ. په کراره یې په صندوق کې کېښود.

معصومې ژر ژر د هماغه ګل نورې کاسې، غورۍ، پیالې او نور لوښي راکښته کړل او د زرمینې څنګ ته یې کېښودل.

دغه شان لانجې هره ورځ د معصومې او زرمینې تر منځ کېدلې. ببو هرکله معصومې ته ویل: «هغه خو خدای وهلې، ژبه یې همداسې ترخه ده؛ خو ته ورته او سیله وکه.» خو معصومې به کله کله د ببو په خبرو سر نه ګرځاوه او له زرمینې سره به یې ښه برابره ژبه وهله. د کابل حالات هم د دوې د کور په څېر وو، هره ورځ جګړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱-۴. په میکرویانو کې جنګ

ابراهیم د صوفي کریم د کور په لټه، د دریم میکرویانو له مارکېټ سره له بایسیکله راکښته شو. د دوی بل ګاونډی، اسماعیل، اوس په میکرویانو کې اوسېده او په مارکېټ کې یې د بنجارې دوکان کړی و. د کانټېنرو مارکېټ ته څېرمه پر سړک باندې د دوستمیانو څو جیپ او ډاټسن موټرې ولاړې وې. د دوې موټرې د دوستم په عکسونو پېژندل کېدې. څو تنه ګوپیچه والا له ببرو ویښتانو سره، سور سپین دسمالونه پر سرونو باندې تړلي، کلاشینکوف، راکټ یا پي کا پر اوږو د یوه بل ګوپیچه والا شاته روان وو. د هغه ږیره پاکه خرییلې وه خو اوږده نرې بریتونه یې د شونډو له څنګه ځړېدل. د یوه سره سپین لغړ زني هلک لاس یې په لاس کې و. په بل لاس کې یې د روسي ودکا شرابو یو غټ بوتل نیولی و.

له هغې خوا د شورای نظار څو ډاتسنې چې پر هېندارو یې د مسعود عکسونه سرېښ وو، راغلې. د دوستمیانو تر څنګ تېرې شوې. یو بل ته یې د سلام لپاره ښې لاسونه پورته کړل. یو دم کغهاشوه. لومړی د سر کتار موټر ودرېد او ورپسې نورې. وسله والو د موټرو له باډیو څخه راټوپ کړل. د اول موټر له مخکیني سیټه یو برګه دریشي والا چې پکول یې پر سر او برګ دسمال یې پر اوږه و او لا یې د نورو شورای نظار والاوو غوندې ږېره نه وه لنډه کړې، راکښته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوستميانو پرقوماندان يې غږ وکړ: «او بې ناموس، ده اې دولت اسلامي تو چطو شراب ميخوري؟»

هغه وويل: «نر واري مېخورم. نباشه، برو دثتت خلاث»

له دې خبرې سره شورای نظار والو د توپکو شپېلۍ دوستمي قوماندان ته سيخې کړې. هغه خپلو ملګرو باندې غږ وکړ، په خپله ژبه يې څه ورته وويل. دوو ملګرو يې د ده او لغړزني او د شورای نظار والو تر منځ لکه ډال ودرېدل او د پېي کا خولې يې حريفانو ته ونيولې. قوماندان يې هلک په ځان پسې راوښکاوه.
ټوپکيان سره وخوځېدل، يو بل ته سره مخامخ وو خو هر يو کرار کرار په شټ روان و. يو يو ګام به شا ته تلل او يو بل ته به يې کتل.
دوستمي قوماندان هم ديکتروف تمانچه راايستلې وه. هلک يې د يوه دوکان دېوال ته پناه کړ او پخپله راميدان ته شو. تمانچه يې د دښمن لوري ته ونيوه، لومړی ډز يې وکړ. دې سره جګړه ونښته.
لکه د جوارو ګنې دانې چې په سره تبۍ باندې په يوه وار سره پخې شي او پړق پړق وچوي، د دوی ټوپکې هم همداسې په يو وار سره خلاصې شوې. دې ته يې نه کتل چې مرمۍ پر چا لګېږي.
عام خلک ځوک يوې خوا ته تښتېدل، ځوک بلې خوا ته او په دې ځغاستو کې يې ځينې لګېدل او پر ځمکه لوېدل.
د سړک د غاړې دوکاندارانو هم په تېښتې پېښه وکړه. دوکانونه يې همداسې خلاص پرېښودل. ساعت نيم وروسته ډزې اول کمې شوې او بيا کرار کرار بيخي بندې شوې. ابراهيم د ميکرويانو د جومات له شا څخه په کراره غړی اوږده کړه. مخامخ په عسکري دريشي کې د دوستميان يوه جنرال خپل هغه ملګری موټر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخېژاوه چې جنګ يې پيل کړی و. هغه ځان شا ته راڅکاوه. شور يې جوړ کړی و، ګرېوان يې تر نامه پورې شکولی و. نورو يونيفورم والاوو دوستميانو د قوماندان له نورو ملګرو وسلې واخيستې.
ابراهيم کرار کرار سړک ته راووت. د مارکېټ په بل سر کې، د هوايي ميدان سړک ته نژدې، زيات شمېر برګ پتلانه جنګيالي ښکارېدل چې خپل ملګري يې موټرو ته خېژول. له دواړو خواوو څخه دوو درېو موټرو حرکت وکړ. د دوستميانو جنرال د شورای نظار له يوه قوماندان سره له نورو لرې، څنګ په څنګ ګرځېده. دوی خبرې سره کولې او باډيګاردانو يې ورته پيره کوله. نور وسله وال په موټرو کې د مړو او زخميانو په پورته کولو لګيا وو.
ابراهيم د اسماعيل دوکان ته ځان ورساوه. په دوکان کې داسې ګډوډي وه چې تا ويل غويانو په کې غوبل ګډ کړی. دوکان پاک چور شوی و. يو څو تش کارټنونه، او په ويټرين کې اينبي شيان سره ګډوډ پراته وو.
ابراهيم چې د هغه پريشاني وليده، د صوفي د زوی کيسه يې ورته ونه کړه. د هغه د کور پته يې ورنه واخيسته او رهي شو.
د چهارصد بستر شا ته په چار نله کوڅه کې يې د يوه خامه دوه پوړيز کور ور وټکاوه. د نهو - لسو کالو يو ډنګر وړوکی هلک په خيرن فيروزه يي خت پرتوګ کې راووت. اوږې يې دومره نری، وې چې د هلک کميس ورباندې نه شو ټينګېدای. تا ويل کميس دې وچ لرګي ته وراغوستی دی. هلک وويل چې صوفي په خپل زوی پسې وتلی دی، شفاخانې لټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم پوښتنه وکړه: نور نارینه مو په کور کې نشته؟
د هلک سترګې په هوا کې کاغذباد ته ښخې وې. بې له دې چې د ابراهیم خوا ته وګوري، سر یې وښوراوه، ویې ویل: نه.
ابـراهیم ناچـاره بېرتــه پــه بایســیکل بانـدې پښــه واړولــه او د اسـماعیل دوکـان تـه لاړ. د دوکـان مخـې تـه یـې تـش کارتنونـه، پلاستیکي کڅوړې او کاغذونه ګډوډ پراته وو. دوکان ته یې سر وردننه کړ. په تاقونو او ویټرین کې ځینې شیان بېرته ځای په ځای شوي وو ؛ خو لکه د للمي غنم چې د ملخو سېل ورباندې تېر شوی وي، یو شی دلتـه بـل یـوه لوېشت هـا خـوا تـه. د اسماعیل غـږ یـې واورېد: ابراهیمه، دلته یم. دلته راشه.
شـا تـه یـې وکتـل، ټـول دوکانـداران پـه یـوه پیتـاوي کـې لکـه د چرسیانو ټولی پر دوو پښو ناست وو.
ورغی، اسماعیل تـه یې د صوفي د زوی کیسـه تېره کړه او ویـې ویل چې هغه باید صوفي کریم له پېښې خبر کړي.
د دریم میکرویانو د جومات شا ته بلاک کې د نجف علي کور و. دی، نجف علي او فرید به د مکتب پـه وختونـو کـې سره یـو ځـای ګرځېدل. وروسته چې هر یوه یو کار و بار پیدا کړ، بیا به یې هم په میاشت دوو کې یو د بل حال اخیست؛ خو اوس جنګونو سره بېـل کړي وو. ورغی چې خبر یې واخلي.
د بلاک دویمې زینې ته ورننوت. د دېوالونو پـر فیـروزه یـې رنـګ بانـدې دوړې او لـوګي ناسـت وو او رنـګ یـې توربخـون کـړی و. بایسیکل یې د زینې له کټارې سره ودراوه. په زنځیر یې په کټارې پـورې وتـاړه. قلف یـې راواخیسـت، د زنځیـر د دواړه سـرونو پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستيو کړيو کې واچاوه او ټينګ يې کړ. قلف ته يې ټکان
ورکړ، بند و.
جيب ته يې لاس کړ، کيلي په کې وه.
درې څلورو پټو نه ختلی و چې بېرته راکښته شو.
د بايسيکل زنځير يې بيا وښوراوه، ټينګ و.
بيا يې جيب ته لاس کړ، کيلي يې وښوروله.
په پوړيو کې پورته خوا روان شو.
دويم منزل ته چې ورسېد، له ماتې ښيښې ساړه باد د ده پر لينګيو
بريد وکړ. په زينه کې پرتې پلاستيکي کڅوړې، ګرد او کاغذونه
د باد پـه امر وڅرخېدل او د اوسپنيزې کټارې لـه منځه چې درې
څلور سيخونه يې لادرکه وو، کښته، اول پوړ ته ولوېدل.
ده پر دېوالونو ليکلي خاطرې او نومونه لوستل چې پښـه يې پـه
کوم شي پورې ولګېده، پر ځمکه د اوسپنې د ځښېدو غنجا شوه.
د اوبو د ايشولو سماوار پـه يوه زاړه پتنوس کې د سکرو او وړو
لرګيو په څنګ کې ايښی و.
يوه ډنګره پېغلوټه له درېيم پوړه په منډه راکښته شوه. په بډ وهلو
لاسونو کې يې د غوړيو له پنځه کيلويي ټيمونو څخه جوړ د اوبو
يو تش او بل ډک سطلونه راځړېدل.
ابراهيم يې له څنګه تېر شو.
نجلۍ سماوار لږ پورته کړ، په هوا کې يې وخوځاوه چې ايـرې يـې
لاندې تويې شي. بيا يې په احتياط سره سرې اوبه په خالي ټيم کې
واچولې. سماوار يې بېرته له يخو اوبو ډک کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابـراهیم بېرتـه مـخ د ېوالونـو تـه کـړ او د یادګـارونو پـه لوسـتلو لوستلو څلورم پوړ تـه ورسېد. د مخامخ کور د دروازې پـر زنـګ یې ګوته ټینګه کړه خو د زنګ شرنګې پورته نه شو.

د دروازې تـر څنـګ د بـرق میټرونـو تـه یـې وکتـل، کـړۍ یـې نـه تاوېدې، ټولې ولاړې وې. ور یې په لاس وډباوه.

د نجف علي کشري ورور دروازه خلاصه کړه. لکه هماغـه هلک چې د صوفي کریم د کور ور یې پرانیستی و، هماغسې ډنګر خو پاک سوتره.

ابراهیم ترې د نجف علي پوښتنه وکړه. هغـه لا ځواب نـه و ورکـړی چې دروازه لږه خلاصه شوه.

چـا د دروازې لـه چـولې ابـراهیم تـه وکتـل. بیـا یـې دروازه پـوره خلاصه کړه.

د نجف علي مور وه، د ابراهیم په لیدو یې سترګې له اوښکو ډکې شوې. شونډې یې ورپېدې. د سپین مـخ ګونځې یې زیاتې شوې. په ژړا سر شوه او همداسې په ژړا ژړا یې په هزاره ګۍ لهجه وویل:

ابراییم جو ! علي از مو ...

سلګو یې خبرې ورپرې کړې.

- باچې از مو خو.. ګوم شود ...

ابراهیم ته یې داسې کیسه وکړه چې نجف علي کارته نو ته تللی و چې د فرید خبر واخلي. چا ورته ویلي وو چې د فریـد نـاروغي بیـا راګرځېدلې ده. له هغې ورځې بیـا تـر ننـه یـې درک نـه دی معلـوم. د فرید دوی کور ته یې سړي استولي وو خو هغوی بیخي لیدلی نـه و. فرید پخپله هم په نـاروغ بدن ډېر ورپسـې ګرځېدلی و. د حزب

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي او جنبش پاتکونه يې لټولي وو خو د نجف علي پته نه وه لګېدلې.

ابراهيم د نجف مور ته تسلي ورکړه چې خدای مهربان دی، د ژونديو لاره خلاصه وي. راپيدا به شي. دې سره يې بېرته د خپل کور لاره ونيوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## ۱-۲. شورای هماهنګي

ګړز شو، کوټه ولړزېده. ببو چیغه کړه: «خیر کې خدایه، خیر!»
د زرمینې لړزانده غږ پورته شو: «خدایه، ته مو وساتې!»
ابراهیم نارې کړې: هله څراغ ولګوه.
د رڼا لیکه په چټ ولګېده. ابراهیم د لاسي څراغ رڼا د کوټې ټولو
دېوالونو باندې وګرځوله.
معصومه وټوخېده، ویې ویل: اوف څه بلا دوړې دي.
په ټوله کوټه کې د دوړو معلق ګردونه د څراغ په رڼا کې ښکارېدل
چې لکه د انتظار شېبې ځای پر ځای ولاړ وو.
معصومې لانتېین ولګاوه.
ابراهیم وویل: هله ماشومان سره واخلئ چې د باندې ووځو.
ببو د بالښت له لاندې خپل جاکټ راوایست، په بېړه یې
واغوست. څادر یې له ځانه تاو کړ.
ابراهیم اسماعیل وښواره: اسماعیله، وه اسماعیله!
زرمینې وویل: مه کوه، خوارکی ویده دی. بېرته څملئ، بلا وه
برکت یې نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا يې خبره نه وه خلاصه شوې چې د بل ګړزهار لـه غـرې سره کوټـه داسې سخته وښورېده چې ته وا چا له بيخه پورته کړه او بېرته يې پر ځمکه وويشته.

د «خير کې»، «خدايه خير !» نارې پورته شوې.

جمال له دالانه چيغه کړه، ابراهيمه ! هلئ راووځئ.

اسماعيل وارخطا کېناست. پلار يې ورته وويل: هله بچو ، کمپله دې واخله، ووځه دهلېز ته.

زرمينې ذبيح په غېږ کې ونيو.

ابراهيم ليمه واخيسته.

معصومې يې مخې ته رڼا وکړه. ټول دهلېز ته ورووتل.

د جمال اولادونه لا وختي د دهلېز په منځ کې راټول شوي وو.

ابـراهيم وويـل: خـداى دې خيـر کـړي، لکـه چـې حـزب اسـلامي راورسېد.

جمال ځواب ورکړ: خداى خبر.

مځکه لکـه زلزلـه چې وي، وښـورېده. د دهلېـز ور پـه شـدت سره خلاص شو او لـه دېوالـه سره ولګېد. يو درون غـږ واورېدل شو ، ورپسې د جټ د طيارې شغهاړ راغله چې وار په وار سره لرې کېده.

ماشومانو چيغې کړې.

ابراهيم د ليمې تندى ښکل کـړ: غلـې شـه لـورې، هـېڅ خبره نشـته. شاباس، دغسې سر دې زما په اوږه کېږده، آفرين.

زرمينې د ذبيح سر په سينې پورې ولګاوه او ببو اسماعيل په خوا پورې ونيو.

ببو وويل: «توبه خدايه، توبه مې دې وي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال وویل: نه، ګومان نه کوم. حزب اسلامي خو طیاره نه لري.
ابراهیم ورغبرګه کړه: نو څه خبره به وي؟ معصومې ! ته خو هغه
راډیو راوباسه، ګوندي په خبرونو کې یې ووایي.
جمال په غبرګو لاسونو د دوو زامنو سرونه، چې څنګ ته یې ولاړ
وو، په ځان پورې لګولي وو. هغه وویل: نیمه شپه ده، راډیو به څه
ووايي؟ پرېږده چې سهار شي، بیا به یې بي بي سي ونیسو.
زرمینې په لړزانده غږ وویل: اوه خدایه، اوس څنګه وکو؟ چېرته
لاړ شو؟
چا یې ځواب ورنه کړ.
ځنډ وروسته جمال وویل: اوس خو همدغه دهلېز بهترین ځای دی.
خدای مو دې له هاوان او له بمه وساتي، نور نو که راکټ له هرې
خوا راشي، دلته به خوندي یو. تر سهاره به همدلته کېنو. پلوشې !
کمپلې راواخله.
ببو وویل: دا دوه څراغونه ولې لګېږي، یو یې مړ کئ کنه.
ابراهیم ورغبرګه کړه: رښتیا وايي، یو یې مړ کئ، بل یېم ټیټ کئ.
پلوشې او معصومې یو بل ته سر وکتل.
پلوشې وویل: ته خپل څراغ مړ که. موږ لا یو ګېلن تېل لرو، زموږ
دې بل وي.
تر سهاره د چاودنو او د ډزو غږونه راتلل خو له لرې.
ماشومان بېرته ویده شوي وو.
جمال او ابراهیم په احتمالاتو او په دې سره غږېدل چې څه وکړي
او چېرته لاړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځمنو د يوې لويې برستنې لاندې ځانونه ننه ايستلي وو، په کرار غږيې سره مجلس کاوه خو ببو د اسماعيل سر پر خپل زنګون لګولی، يو ازې ناسته وه.

يو نيم ځل د ښځو د خندا غږ هم پورته کېده خو ببو به ورباندې غږ وکړ: غلي شئ، خدای مو خوارې که.

ښځو به ژر خندا بنده کړه او بيا به يې غږونه ټيټ کړل او سره وبه پسېدلې.

د سهار لمونځونه يې په هماغه دهلېز کې وکړل.

جمال هره شېبه خپل ساعت ته کتل.

کرار کرار د باندې رڼا زياته شوه.

ابراهيم راډيو چالانه کړه. «دا لندن دی. دا د بي بي سي پښتو خپرونه ده چې په لنډو شپو ... خپرېږي.»

اول خبر دا و چې حزب اسلامي د دوستم له ملي جنبش او له وحدت ګوند سره لاس يو کړی او د هماهنګۍ شورا يې جوړه کړې.

دوی په ګډه د برهان الدين رباني په مشرۍ د حکومت پر ضد جګړه شروع کړې ده.

نطاق د خبر په پای کې وويل: «دا په داسې حال کې ده چې د حزب اسلامي مشر ګلبدين حکمتيار پخوا ويلي وو چې دوستم کمونيست دی او تر څو پورې چې دوستم د رباني د دولت په څنګ کې وي، دی به له دولت سره سوله نه کوي.»

ابراهيم وويل: دا يې بله خوشالي.

په راډيو کې د جنبش د يوه قوماندان خبرې راغلې چې ويل يې: «زموږ مېړنيو پيلوټانو د کلوله پشتې او بي بي مهرو پر غونډيو

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې د شورای نظار دافع هوا توپونه ويشتلي دي. هوايي ميدان زموږ په محاصره کې دی. قهرمانه جنګيالي مو د حزب اسلامي له مجاهدينو سره يو ځای د ارګ په لوري روان دي. موږ به ډېر ژر په افغانستان کې يو ملي اسلامي دولت جوړ کړو چې ټول سره ورونه مليتونه به په کې برخه ولري.»

د حزب اسلامي ویاند بیا وویل: «نحمده و نصلي علی نبي الکريم و اما بعد. استاد رباني د اسلامي اصولو او شريعت غرای محمدي د احکامو خلاف، غوښتل چې واک په خپل انحصار کې وساتي او نور مسلمان ورونه په حکومت کې شريک نه کړي. همدا وو چې زموږ مجاهد ورور جنرال صاحب عبدالرشيد دوستم او ايت الله مزاري هم له موږ سره اتحاد وکړ چې په وطن کې يو سوچه اسلامي حکومت ايجاد کړو، ان شاالله د هماهنګي شورا مجاهدين لله الحمد پر مخ روان دي او عنقريب به زموږ مسلمان ملت د دې فاسد حکومت له شره خلاص کړي»

خو د حکومت وياند بيا ويل: «حزب اسلامي د آی اس آی په امر او د ځينو نورو ګاونډيو په تحريک سره له دوسمتي مليشو او حزب وحدت سره ايتلاف کړی دی او د افغانستان د اسلامي دولت پر ضد يې د بغاوت کړی، غته کړې ده خو زموږ مېړني مجاهدين به د دغو خاينانو جزا ورکړي. موږ به هماغسې چې روسان مو مات کړل، د دوستم کمونيستو مليشو او د حزب اسلامي ګوډاګيو باغيانو ته هم ماتې ورکړو. موږ همدا اوس زاړه ميکرويانونه، جاده او چمن د جنبشيانو له وجوده پاک کړي دي او مجاهدين مو د بالاحصار په لوري د پرمختګ په حال کې دي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرونه لا نه وو خلاص چې له لرې دا سې غږونه راغلل لکه څوک چې غالۍ وڅنډي، ډب، ډب، ډب.
شېبه وروسته د شپېلکۍ په شان تېز اوږده غږونه یو په بل پسې واورېدل شول، شیووو- شیووو ...
بیا هماغسې په وار سره د راکټونو د لګېدو وچ ګړزهار او له هر ګړزهار سره د کوټو ښورېدل.
ابراهیم وویل: څنګه وکو؟ چېرته لاړ شو؟
جمال ځواب ورکړ: یاره، یو ځای بم امن نه وي.
- نو څه وکو؟
- ما یو چورت ورته وهلی. د دې دېوال شا ته په حویلۍ کې یو دري متره ځای لرو. هلته به یو بلنداژ جوړ کو. راکټونه د جنوب او د شرق نه راځي. که دې خوا ته ولګېږي، موږ به په بلنداژ کې بچ شو او که مو له سره تېر شي، ها خوا ته به لګېږي نو چرې به یې مخې خوا ته تیتېږي، بیا بم په امن کې یو.
- که هاوان راشي؟ هغه خو نېغ رالوېږي.
- د بلنداژ چت به په لاړو وپوښو. بیا به یې په سر باندې یو څو دانې د موټرو زاړه ټیرونه واچوو، بیا به ښه پربمانه خاوره ورباندې واچوو. هاوان که په نرمه مځکه ولګېږي، نه چوي.
د سهار تر چایو وروسته، جمال او ابراهیم له ښځو او ماشومانو سره په ګډه په کار پیل وکړ. لکه تر دویمې نړېوالې جګړې وروسته چې د روسانو نر او ښځې، واړه او زاړه د خپل وطن په ابادولو لګیا وو، دلته هم ابراهیم او جمال به په وار سره کولنګ واهه، معصومې او پلوشې به په سطلونو کې کېندل شوې خاورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډکولې. ماشومانو به سطلونه په دوو دوو نفرو نیول او د کندې په ځنګ کې به یې چپه کول. ببو د حویلۍ په بل سر کې د لرګیو او خځلو په منځ کې اوږده ښاخونه او ځانګې ښېلولې.

ټول به په کار بوخت وو خو چې راکتونه به راغلل، دهلېز ته به یې منډې کړې. یو څو دقیقې به غلي شول. درز و دروز به چې غلی شو، بېرته به یې کار پیل کړ.

ببو چې د مازدیګر لمونځ یې وکړ، پخلنځي ته لاړه. تر ماښامه هماغلته ورکه وه.

زرمینې د دهلېز له وره څخه ناري کړې: اسماعیله، وه اسماعیله یو وار دلته راشه.

ابراهیم بېلچه په ځمکه ودروله. دېوال ته یې تکیه وکړه، ویې ویل: ځې کوې وه ښځې ! پرېږده چې راسره کومک وکې.

زرمینې ځواب ورکړ: ما سره دې دا پلاستیک ونیسي چې په کړکیو پورې یې ټک ووهم، شیشې ټولې ماتې دي. د یخ د لاسه به مړه شو.

اسماعیل ورمنډه کړه.

د ماښام اذانونه چې وشول، ببو له پخلنځي د باندې راووته. د دهلېز په وره کې لګېدلي پلاستیک باندې یې لاس تېر کړ، ویې ویل: زرمینې لورې خیر یوسې، د یخ باد چاره دې وکړه.

ابراهیم او جمال د بلنداژ پر سر د خاورو وروستۍ بېلچې واچولې او د بېلچو په څټ یې ټپ ټپ خاوره وډبوله.

د بلنداژ بام له ځمکې کم زیات یو ګز پورته، د کوټې تر اورسۍ پورې لوړ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو وویل: زامنو ستړي مه شئ.

جمال ورغبرګه کړه: خير يوسې. ابراييمه راځه چې د ننه يې وګورو چې څنګه شوی.

ابراهيم چې ببلچه يې په ځمکه ښخه کړې او ځان يې وربانديې تکيه کړی و، لويه ساه واخيسته. د ببل لاستی يې خوشې کړ. په غبرګو لاسونو يې ملا وسولوله. ويې ويل: ادې! راځه، ته يې وګوره.

د بلند اژ خوله شمال خوا ته وه او لاره يې مخ په ځوړ کښته خوا تللې وه، لکه کاريز ته چې ورکوزېږي.

جمال مخکې او ابراهيم ورپسې رهي شو.

يو دوه ګامه چې لاړل، ابراهيم بېرته راوګرځېد، د ببو لاس يې ونيو.

ببو په کراره پر کم سورو پوړيو پښه کېښوده.

پنځه شپږ پټې وروسته، ببو وويل: څنګه تياره ده لکه ګور.

جمال لاسي څراغ ولګاوه. ملا يې کړوپه کړه، ويې ويل: پام چې سر مو ونه لګېږي.

د نمجنو خاورو بوی دومره تېز و چې د سړي ساه يې ډوبوله. بلند اژ تيار و. کم زيات څلور متره اوږده، دوه نيم متره سور. همدومره ژور چې ببو لاس پورته کړ، لاس يې په چت پورې ولګېد. ابراهيم او جمال کړوپه ملا ولاړ وو.

ابراهيم وويل: ځه والله ښه وشول. که خدای کول، نن شپه به يو څه بې غمه خوب وکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو وویل: مام درته اوګره پخه ده. ما وې ستړي یئ چې د بدن کوفت مو وباسي. لمونځونه اودسونه مو زر زر وکئ چې بیا یخېږي.

هر چا له پیتاوي څخه د اوبو یوه ډبکه راواخیسته.

جمال د حویلۍ یوه کونج او ابراهیم بل کونج ته لاړ چې اودسونه وکړي.

معصومې ورباندې غږ وکړ: لالا ! صابون دې وانه خیست؟

- نه، چېرته و؟

معصومې د چوترې له ژۍ څخه صابونداني ورپورته کړه او په منډه د ابراهیم خوا ته ورغله.

دومره سخت ګړزهار شو او ځمکه داسې ولړزېده چې ته وا دنیا په بل مخ واوښته.

انګړ په دوړو ډک شو.

د جېټ شغها شوه او بیا یې د لرې تللو غږ راغی.

ابراهیم چیغه کړه: معصومې ! چېرته یې؟ لګېدلې خو به نه یې؟

د دوړو په منځ کې د معصومې تور ټیکری ښکاره شو.

دا له لښتي پورته کېدله.

په زوره یې وټوخل، ویې ویل: لالا ! زه جوړه یم. ته څنګه یې؟

د ګاونډي له کوره شور او بوغارې پورته شوې.

جمال وویل: هلئ، څراغ واخلئ بلنداژ ته ورننوځئ.

ده او ابراهیم اودسونه پرېښودل. ټول ښځینه او ماشومان یې بلنداژ ته بوتلل او پخپله د ګاونډي کور ته ورغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابـراهيم لاس وغځـاوه چـې ور وټکـوي؛ خـو ورلـه چوکـاټ سـره الوتی و. له همـاغه ځايه يې غږ وکړ: قمبر علي !

د ښځو او ماشومانو ژړا زور واخيست.

جمال ورناري کړې: خوار جان خيريت اس؟

د قمبر علي مېرمنې له ژړا سره چيغه کړه: خاک ده سرې از مو شد ، وای علي جو ...

ابراهيم بېرته خپل کور ته ستون شو.

له هغې خوا ببو او څراغ هم ورسره و.

ببو زينب او ماشومان يې خپل کور ته بو تلل.

جمال نور ګاونډيان خبر کړل.

پنځه شپږ تنه شول.

د قمبر علي په انګړ کې دومره لويه او ژوره کنده جوړه وه چې او به په کې وتلې وې.

د قمبر علي لـه مـلا پورتـه سوری سوری بـدن د دهليـز لـه وره سره پروت و.

ترهېدلو ګاونډيانو د لاسي څراغونو په رڼا کې د قمبر پاتې جسـد لټاوه.

چا غږ وکړ: هاغه ده، په کنده کې يوه پايڅه ښکاري.

ورکښته شول.

پايڅه يې د غوښو له ټوټو سره راپورته کړه.

په بلې پايڅې چې څومره وګرځېدل، پيدا يې نه کړه.

د ټولـو سـلا پـه همـدې وشـوه چـې قمبر دې د انګړ پـه کـونج کـې امانت ښخ کړي، بيا چې کراري شوه، هديرې ته به يې يوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ګاونډي وویل: بیا درا مرده ره نمې شو یین؟
جمال وویل: نې بابا شهید پاک اس. غسل کار نداره.
په مړي باندې یې خاورې واړولې.
ټول خپلو کورونو خوا ته رهي شول.
ابراهیم او جمال یو زوړ زمبېل پیدا کړ. د وره په ځای یې ودراوه او شا ته یې ډبرې کېښودې. یو اوږد لرګی یې ورته تمبه کړ. پخپله په دېواله واوښتل.
د بلند اڅ خوا ته ورغلل.
ببو ته یې نارې کړې، ورته ویې ویل: «د قمبر ښځې ته وو ایه چې که په کور کې پیسې میسې یا طلاوې لري، راوادیې خلي چې خلک ظالم دي د شپې څوک پرې ورپېښ نه شي.»
ابراهیم او جمال د بلند اڅ له خولې سره ولاړ وو.
ببو بېرته راغله: «وایي هېڅ شی نه لرم. د مړي پوښتنه کوي چې څه مو ورسره وکړل؟»
جمال وویل: بله چاره نه وه. خدای خبر چې جنګ به کله بند بږي.
اوس مو امانت خاورو ته وسپاره بیا چې جنګ ختم شو، د خپلو خپلوانو خوښه یې چې هر چېرته یې وړي.
دا شپه ابراهیم او جمال په دهلېز کې ډوډۍ وخوړه او هماغلته څملاستل.
سهار د زینب ورور راپیدا شو.
ابراهیم ورته ډېر ټینګ شو چې نه دې ځي؛ ځکه هره ګړۍ بمونه او راکټونه لګېدل.
خو هغه ونه مانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور تېره کراچي یې راوړه. د قمبر په کور کې چې څومره روغ شیان په لاس ورغلل، په کراچۍ کې یې واچول، خپله خور او د هغې ماشومان یې د بار پر سر کېنول او د ډزو او چاودنو په منځ کې یې مزل پیل کړ.
هغوی لاړل او ابراهیم کور ته راغی.
بلنداژ ته ورکښته شو.
ببو سونګېده.
ټول غلي وو.
ابراهیم یې څنګ ته کېناست: ببو ! ولې ژاړې؟
ببو د تور پوړني په پیڅکه اوښکې وچې کړې، ویې ویل: خدای دې یې وبخښي. څومره ښه سړی و.
ابراهیم ورغبرګه کړه: تېر کال منی دې په زړه دی. په خپله کراچۍ کې یې لرګي راته راوړل. غریب و خو غیرتي. یوه روپۍ یې رانه وانه خیسته. ویل یې: «از صد خویش یک همسایه پیش»
ببو په ژړغوني غږ وویل: د ماشومانو له خولې یې زده کړي وو، زه یې ببو بللم. اوه خدایه، جار دې شم چې څه نورې لوبې به رابانديې وویني.
ببو پورته چت ته کتل او په ګوتو باندې یې لرګینې تسبیح اړولې.
ماشومانو لکه د تعلیمي قطعو عسکرو زده کړي وو چې همدا چې د چاودنې غږ واوري، ټول به په یوه منډه ځانونه بلنداژ ته رسوي. دوی ټولو به اکثره وخت ټوله ورځ هماغلته تېروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ابراهیم او جمال د کورنیو خرڅ خوراک سره شریک شوي وو. هر ورځ به په نوبت سره یوه ښځمنه پخلنځي ته تله او نور ټول به په بلند اژ کې وو.

پخلی هم بې جنجاله کار و، بس څلور ګېلاسه پرمل وریجې له میو سره یو ځای په بخار دیګ کې واچوه، غوړي یوه کاشوغه، دومره چې دوه کیلو یې د میاشتې تر پایه ورسېږي. مالګه او مساله له یو ټیمګي اوبو سره پرې حواله کړه، نیم ساعت وروسته شوله پخه ده. که کومه ورځ به د شولې په سر کورت، چکه یا مستې هم وې نو د ماشومانو لپاره به جشن و.

لویانو په ښکاره څه نه ویل خو له خوراکه یې ښکارېدل چې مستو یا چکې ته ډېر خوشحاله دي. نېکمرغه به هغه وو چې د ډوډۍ تر پایه پورې شګه یا ډبره یې تر غاښونو لاندې رانه شي او د خولې خوند یې ورخراب نه کړي.

ښځو به ډېره خواري کوله چې وریجې سمې پاکې کړي خو پرمل وریجې خدای وهلې وې، تکې سپینې لکه د ملا جامې او غټې پړسېدلې لکه د ملا خېټه او ډبرې یې هم همدغسې. ښځو چې به هر څه کول، بیا به هم یوه نیمه وړه د وریجو په رنګ سپینه ډبره ځنې پاتې شوه او دغه ډبرې به اکثره وخت د ابراهیم په برخه شوې چې د ډوډۍ خوند به یې ځنې هېر کړ.

د ټولو کابلیانو خوراک همدا و. ماشومانو ویل چې زموږ په کور کې د «اختاپوت» د سریال پر ځای د شولې سریال روان دی.

خو زرمینې ته خدای ورکړې وه. کله کله به د شپې ناوخته چې ډزې کمې شوې او نور ویده وو، ابراهیم به یې په کراره وسکوندہ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه به خپلې کوټې ته لاړل او ساعت وروسته به د غلو په شان کرار کرار له لمدو وېښتو سره بېرته بلنداژ ته ورننوتل.
سهار به د ببو شور پورته و چې: زما د اوداسه تودې اوبه څه شوې.
زرمینې به په څادر خوله پټه کړه چې څوک یې پسخېدل ونه ویني او معصومې به ورته چپ چپ کتل.
هره شپه د بي بي سي د خبرونو اورېدل فرض عین غوندې و. د هماهنگي د شورا ویاند د ارگ د کلابندۍ دعوا کوله. د جمعیت ویاند بیا د بالاحصار او ان د چاراسیا د نیولو لاپې وهلې خو ابراهیم او جمال به ویل چې دواړه دروا غ وایي. اصلاً دوی ته دا نه وه مهمه چې څوک وروسته او څوک وړاندې کېږي، دواړه خواوې د یوه خره غوږونه دوی؛ بلکې هر کابل مېشتي به ویل چې کافر دې پاچا شي، هندو دې پاچا شي خو چې جنگ بند شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۲. اوربند

د جګړې یو ولسمه ورځ وه، ۱۳۷۲ د جدي ۱۷ چې بي بي سي په خپل ماښامني سرویس کې دغه خبر ورکړ: «په کابل کې ښکېلې خواوې په دې رضا شوي دي چې د ۲۴ ساعتونو په مخه په خپلو منځو کې اوربند وکړي څو خلک خوندي ځایونو ته پناه یوسي.»
پر سبا یې سهار وختي ابراهیم د پلار د لاس وروستۍ نښه، مزاري غالۍ پر بایسیکل باندې وتړله چې د درېیم میکرویانو مارکېټ ته یې یوسي، خرڅه یې کړي او په پیسو یې د خوراک شیان واخلي.
د حویلۍ د وره په درشل کې و چې جمال ورباندې غږ وکړ: صبر وکه. زه بم درسره لاړ شم.
لکه په پسرلي کې چې میږي له مېږه تانه څخه راوځي، کابلیان هم له خپلو کورونو راوتلي وو. خلکو خپلې کډې په کراچیو او موټرو بار کړې وې. څوک یوې او څوک بلې خوا ته تلل.
چا پسې د تور سرو او ماشومانو لام روان وو او ځینو بیا سپین سرې میندې یا بوډا پلرونه په شا کړي وو. د خلکو دغه لالهاندي سرې ته د میږیانو یون وریاداوه چې د هر یوه په خوله کې د دانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنډه وي، ځيني له بره کښته او څوک له کوزه پورته خوا ته روان وي او سړی نه پوهېږي چې د دوی منزل به چېرته وي.

ابراهيم او جمال چې د ميکرويانو مارکېټ ته ورسېدل، جمال وويل: ته دې سودا کوه، زه به يو چکر هوايي بلاکونو ته ورشم. معتمد به وګورم که يې معاشونه راحواله کړي وي.

ابراهيم د اسماعيل دوکان ته لاړ چې غالۍ ورته خرڅه کړي خو دوکان يې بند و. له څنګ دوکانداره يې د اسماعيل پوښتنه وکړه. هغه وويل په دې يوه هفته کې هېڅ څوک خپل دوکان ته نه وو راغلي، دغسې چې ته يې حال نه لرې، موږ م ناخبره يوو.

ابراهيم د يوه کهنه فروش دوکان ته ورغی. غالۍ يې ورښکاره کړه: وروره، دا غالۍ به وانه خلې؟

دوکاندار په دسمال باندې د چينې لوښو له سره دوړې څنډلې، ويې ويل: وروره، د ځان کالي راباندې غمبدلي، په قالينه به څه وکم.

بل ته ورغی. هغه د دوکان مالونه په کراچۍ کې بارول.

ابراهيم هېڅ ونه ويل. دغسې پورته خوا د نورو دوکانونو په تمه روان شو.

غالۍ يې ډېره وګرځوله. هېچا نه اخيستله.

يوه لارۍ راغله، د يوه کهنه فروش د دوکان مخې ته ودرېده.

د لارۍ له سيټه خړ پکول پر سر يو خېټور راکښته شو.

سپين کميس پرتوګ يې پاک اتو کړي وو. د څرمنو تور جمپر يې پر تن و. له دوکاندار سره يې څو شېبې خبرې وکړې. بيا يې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

جېبه د کلدارو بنډل راوایست او په شمېرلو یې لګیا شو. پیسې یې دوکاندار ته ونیوې.
دوکاندار دوو پنډیانو ته ورغږ کړل. پخپله هم ورسره لګیا شو، د دوکان مالونه یې له یوه سره په موټر کې بار کړل.
ابراهیم پکول والا ته ورنژدې شو، ویې ویل: وروره، دا د ما غالۍ به وانه خلې؟
هغه له جېبه د نسوارو وړوکی او سپینیز ډبلی راوایست. یوه چونډۍ نسوار یې له لرې خولې ته وشړله. بې له دې چې ابراهیم ته وګوري، په ډکه خوله یې وویل: هواره یې که.
د غالۍ مخ و شاته یې په ځیر وکتل، لاس یې وربانديې تېر کړ. په ګوتو باندې یې د غالۍ شاته مخ وډباوه، ډب ډب ډب، ویې ویل: په څو دې بیه ده؟
- هغه بل دوکاندار رانه په لس لکه غوښته، ورمې نه کړه.
- ولې دې ورنه کړه؟ ښه بیه یې درته ویلې ده. ورځه چې پښېمانه نه شې.
- ته یې په څو اخلې؟
- خبره به مې یوه وي، دوه زره کلدارې.
- افغانۍ څو جوړېږي؟
- دغه څه باندې نهه لکه اوغانۍ کېږي.
ابراهیم وویل: ځه، سمه ده.
پیسې یې واخیستې. خریدار پر پنډیانو غږ وکړ: او بچه، بیا اې رام ده موټر پرتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳ - ۲. نجف علي چېرته و؟

ابراهیم په بایسیکل باندې پښه واړوله. مارکېټ ته نژدې یې نجف علي په مخه ورغی. راکښته شو. بایسیکل یې په بېړه پر ستڼه ودراوه. نجف علي په ډکه خوله خندا ورته غېږه خلاصه کړې وه. دواړو یو بل په غېږ کې ونیول.
دواړو خندل، یوه هم څه نه ویل. څنډ وروسته ابراهیم وویل: ظالمه چېرې وې؟
نجف علي یو ګام شا ته شو. خوله یې له خندا نه راټولېده. مخامخ یې د ابراهیم سترګو ته وکتل، ویې ویل: ته پخپله یې؟
دواړو په زوره وخندل او بیا یې سره غېږه ورکړه.
ابراهیم وویل: سړی دغسې کوي؟ چېرته ورک وې؟ نژدې مو خیرات درپسې کړی و.
نجف وویل: بد بوټی بلا نه وهي. دا دی بېرته راغلم.
ابراهیم یې لاس نیولی خپل کور ته بوت. په لاره کې یې د ببو، ماشومانو او د جمال حال و احوال وپوښت.
ابراهیم چې څنګه په کوټه کې کېناست بیا یې ورنه پوښتنه وکړه: ښه نو کیسه وکه، ته چېرته ورک وې؟ مور دې خوارکۍ څنګه درپسې ژړل.
نجف وویل: کیسه ډېره اوږده ده. د جوزا اخره هفته وه. ما وې راځه د فرید پوښتنه وکه. ته خو بم خبر یې کنه، سرطان یې بیا راګرځېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خبر یم؛ خو ولله که ورغلی یم. اوس څنګه دی؟
- اوس نو خدای ته معلوم. پر بایسیکل مې پښنه واړوله. د زړو میکرویانو پر لاره همدا سې د کابل نندارې له څنګه تېر شوم او د شاه شهید په لاره کارتۀ نو ته لاړم. رېښتیا یوه پېښنه خو په لاره کې رابانده وشوه. له کابل ننداري سره ګیلم جمانو ودرولم. اول خو یې رانه پوښتنه وکړه چې چېرته ځې؟
ورته مې وویل چې کیسه دا سې ده، د خپل انډیوال پوښتنې ته ورځم.
بیا یې راته وویل چې بایسیکل دې په څو اخلې؟
ما وې دا خو مې په درې زره اوغانیو اخیستی و.
هغوی راپورې وخندل چې موږ درته وایو په څو یې اخلې؟
ما وې وروره دا خو مې خپل بایسیکل دی. له چا نه یې واخلم؟
یو څو شېبې یې راکړې چې بیا دا خبره ونه کې. بایسیکل دې اوس زموږ په لاس کې دی. وایه په څو یې اخلې؟
څه سر به دې خوږوم. چې په جیب کې مې څومره پیسې وې، ټولې یې رانه واخیستې. دومره روپۍ یې راته پرې نه ښودې چې فرید ته وربانده مېوه واخلم. بایسیکل یې بېرته راکړ.
سینما اقبال ته رسېدلی وم چې حزب اسلام والاوو ونیولم. بس دغه خبره یې راته ټینګه کړه چې ته حزب وحدت ته جاسوسي کوې. ته زموږ کوروکي ورکوې. سل قسمونه خو به مې کړي وي خو په چا یې منې. بو یې تلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سینما اقبال شا ته دربمه کوڅه کې په یوه کور کې د دوی قرارګاه وه. سینما اقبال درپه یاد دی. یوه ورځ چې له مکتبه تښتېدلي وو.

- «دهرم ویر» فلم چې مو په کې وکوت.

- هاهاها ، افرین ولله، ګردې دې کار کوې.

- هغه ورځ به مې څنګه هېرېږي؟ د انصاري لیسې نه چې تر چمنه په پښو لاړو.

- د برقي موټر لینونه چې مو خطا کړل. هاهاها ، کلینر څومره وځغلولو. عجب وختونه وو. خیر، تکاوی کې یې واچولم. دوه په څلورو کې به وه. یو څه لوښي موښي، سکاره، منقل، د صندلۍ مېز او څو داني بوجۍ، هر څه په کې ګډوډ پراته وو. بهر ته یې یوه کړکۍ درلوده چې یوه لوښت به جګه وه خو په اوږدو کې درې څلور لوښتې کېده.

تر یوې هفتې پورې خو هره ورځ وهل او ټکول وو. دا تندی مې وینې، دغه ټپ چې دی، دلته یې په کونداغ باندې وهلی وم. یو سات بې سده پروت وم. هره ورځ یې را نه پوښتنې ګروېږني کولې. په شواروز کې به یې نیمه دانه ډوډۍ راکوله هغه هم وچه کلکه. تشناب ته به یې یو سهار بل سهار اجازه راکوله، بولې به مې د تکاوۍ په کونج کې کولې. په اولو ورځو کې د بولو له بویه سخت په عذاب وم، سترګې به مې سوځېدې خو کرار کرار ورسره روږدی شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښې او لاسونه یې په زنځیرونو راتړلي وو. په دویمه هفته لکه
چې پوه شول چې زه بې ګناه یم نو د ورځې به یې لږ څه ازاد
پرېښودلم خو د شپې به یې بېرته تکاوي کې بندي کولم.
اوله ورځ یې چې له تکاوۍ راوایستم، لمر سخت تېز و. سترګو
مې بیخي کار نه کاوه. د لمر تېزې رڼا مې سترګې برېښولې. یو څو
شېبې مې سترګې پټې کړې، بیا مې نیم کښې ونیولې څو پورې
چې له رڼا سره بلدې شوې.
د انګړ لویه دروازه خلاصه وه. یو ډېرور زما پر بایسیکل ناست و
او پښې یې په ځمکه څښېدې. بل یې د کنجوغې نه نیولی ورپسې
روان و. دواړو سره ټوکې کولې او خندل یې.
یوه ټوکې راته وویل: دلته راسه.
د حویلۍ کونج ته ورغلم.
ویې ویل: تر غرمې پورې به دغه لرګي ګرده ماتوې.
یاره، نیم خروار لرګي خو به مې څېرلي وي. لرګي هم خدای وهلي،
لوند خیشت، د ونې څانګې او ښاخونه. یوه نیمه شنه پاڼه په کې
ځړېږي. چې په تبر یې وهې، لکه فنر تبر پورته غورځوي.
یو څو ښاخونه چې مې واړه کړل، سر راباندې وګرځېد. په سترګو
باندې مې توره شپه شوه. نژدې لوېدلی وم.
ټوپکي غږ وکړ: څه بلا ووهلې؟
لاسونه مې د تبر په لاستي تکیه کړل. ورو ورو کېناستم. ومې
ویل: سر مې ګرځي.
له اشپزخانې یو څوک راووت. د چایو ګیلاس یې په یوه لاس کې
او یوه ټوټه ډوډۍ یې په بل لاس کې وه. د کمیس لمن یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتاګه کې منډلې وه. کالي او لاسونه يې غوړ و. ان مخ، ويښته او ږيره يې غوړ ښکاريدل.

ټوپکي ورته کړه: بسلمانه څه کوې؟ کومندان صاب به غوسه سي.

آشپز وويل: خوارکی وږی دی. په دې يوه هفته کې يې خوراک وچه ډوډۍ ده. که دغه خوږ چای په ډوډۍ پورې ونه څښي، کار نه شي کولای. که سم کار ورنه غواړې نو پرېږده چې دا يوه ګوله ډوډۍ وخوري.

لرګي چې مې خلاص کړل، له کوهي څخه يې راباندې اوبه وکښلې او چې ډوډۍ تياره شوه، بيا نو سمه ډوډۍ يې راکړه. د پسه د غوښې ښوروا يې پخه وه. ډېر خوند يې کړی و. د ماسپښين د لمانځه په وخت کې يو تور پټکی والا توري کړې سترګې، خريبلي برېتونه، نرۍ خو اوږده ږيره، د چوترې په سر کې مخکې شو.

نور ورپسې ودريدل.

دوه تنه پيره داران له دروازې سره ولاړ وو.

ما هم اودس وکړ او په يوه ګوټ کې په لمانځه ودريدم.

هغوی چې له لمانځه خلاص شول نو امام راباندې غږ وکړ چې تا ولې ګوښې لمونځ وکو؟

بل يې ځواب ورکړ: «دی خو شيعه دی، په موږ پسې لمونځ نه کوي»

امام وويل: «نه مو دې اوريدلي چې وايي کافر کافر، شيعه کافر، جو نمانې وه بې کافر. دا مو ولې نه دی وژلی؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومندان وویل: ملا صاب، ښې کیږي، یوه ورځ به مو په درد ولګېږي.

زه د ملا په خبرو پوه نه شوم؛ خو دومره پوه شوم چې وايي شیعه کافر دی.

لس پنځلس ورځې وروسته مې له اشپز څخه پوښتنه وکړه چې د ملا څه مطلب و؟

هغه را ته وویل: «دغه ملا په کراچۍ کې مدرسه ویلې ده. په اردو یې ویل چې شیعه کافر دی او څوک چې دا خبره نه مني، هغم کافر دی. ما په کراچۍ کې وخت تېر کړی. هلته په دې خبرو باندې ډېر جنګونه کېږي.»

د دوی مشر په لمانځه ډېر ټینګ و. هغه به چې په قرارګاه کې و؛ نو ټولو به په جماعت لمونځونه کول.

یوه نیمه یا دوې میاشتې یې په قرارګاه کې وساتلم خو یوه ورځ یې له دوو افرادو سره رهي کړم.

د سیاه سنګ سړک ته چې ورسېدو، هلته د ګیلم جمانو یو جیپ ولاړ و.

زه یې ګیلم جمانو ته ورحواله کړم او خپله بېرته لاړل.

د دوی پوسته د کابل ننداري شا ته وه.

په اوله ورځ د پوستې قومندان را ته وویل چې هر څه چې کوې ویې کړه خو تښتې به نه. چې هر چېرته لاړ شې را نه نشې خلاصېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجف علي د خپلې کورتۍ له جيبه د سګرټو دبۍ راوايست. په بېړه يې يو سګرټ ترې راوکيښ. ويې لګاوه او په ډېر خوند يې ورنه لوخړې پورته کړې.

ابراهيم وويل: تا خو ما ته نصيحت کاوه چې سګرټ مه څکوه، اوس يې په خپله څکوې؟

نجف د سون ستار سګرټو ډبلۍ ابراهيم ته ونيوه. هغه ورنه يو دانه راواخيسته.

نجف ورته لايټر ولګاوه او بيا يې خپلې خبرې وغځولې: دا عمل هم د ګيلم جمانو د قوماندان سوغات دی. دوی نور به چې هر څه وو، وو به خو ځوان طبيعته وو.

د هغوی قوماندان، داسې ښه يې نوم و، ته وددرېږه، هو، اکه ياسين زار خور. يوه ورځ يې وليدم چې خپه ناست يم. د ال ام سګرټو قوتی يې راواچاوه. په اوزبکي ډوله فارسي يې وويل: «نباشه چي چورت مېزني. دنيا تېر اث بيګي يک ثګرت بکش که رنجيته ګل کنه.»

سګرټ چې مې وڅکاوه، خوند يې راکړ. سر مې سپک شو. په سر کې مې يو رقم خوندوره ګنګسي پيدا شوه. بس له هماغې ورځې سګرټ راسره ملګری دی.

ياسين زار خور په هماغه ورځ ښار ته بوتلم. په جاده کې يې د جامو لپاره رخت راته واخيست. درزي ته يې وروستم. واسکټ او سيلور بوټونه يې هم راته واخيستل. ويل يې چې نن مې يو ډبل قمار ګټلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکه یاسین یوه بله نادره خبره راته وکړه چې زه یې بېخي هک حیران کړم. راته ویې ویل: «قمار مې د حزب اسلام له هماغه قوماندان څخه وګاټه چې ته مې ورنه ګټلی وې.»

هېڅ مې باور نه کېده چې پر لمانځه او اوداسه دومره ټینګ سړی دې قمارباز وي. پر دې مې هم سر نه خلاصېږي چې حزب اسلام او جنبش خو سره دښمنان وو نو قوماندانان به یې څنګه په یوه میدان کې سره کېناستل.

له ګیلم جمانو سره یو څه هوسا وم. یوازې د کور اندېښنه راسره وه، نور ښه وم. له اشپز سره یې درولی وم چې کومک ورسره وکم. کرار کرار مې اشپزي زده کړه. داسې قابلي پلو به درته پوخ کم چې له پلو سره به دې ګوتې هم وخورې.

ابراهیم په خندا ورته وویل: دا دی تیار درته راغلی یم، پاخه کنه.

نجف وویل: دا خو اسانه خبره ده. هسې مې هم زړه ډک دی. کېنه چې د زړه براس راوباسم.

خپل سګرټ ته یې وکتل چې له نیمایي تر فلټره پورې ایرې شوی او همداسې مړ شوی و.

بل سګرټ یې ولګاوه او ویې ویل: ته کېنه. زه بېرته راځم.

له کوټې ووت. څو شېبې وروسته، ور لرې خلاص شو. بیا د نجف علي پېښه ښکاره شوه چې ور یې پورې وواهه او د چایو له پتنوس سره راننوت. ور یې په اوږه پورې کړ.

پتنوس یې د ابراهیم مخې ته کېښود.

دواړه یې لاستي روسي ګېلاسونه یې ډک کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ګېلاس سره يې د چاکلېټو غاب هم د ابراهيم مخې ته کېښود.
ويې ويل: ته دې چای څښنه، زه به در ته کيسه وکم. د ورځو شپو حساب رانه ورک و خو ګومان کوم چې درې درې نيمې مياشتې به مې ګيلم جمانو سره تېرې کړې وې چې يو ماښام اکه ياسين راته وويل: «نباشه ده اې روزا کم خرچ شده بودم. تو ره سودا کدم.»
زه يې د شورای نظار پر يوه قوماندان خرڅ کړی وم.
د ميکرويانو له پله سره يې شورای نظار والا ته وسپارلم.
وروسته بيا پوه شوم چې د قوماندان اغاشيرين وراره په کوم جنګ کې د حزب وحدت لاس ته ورغلی او زه يې د جنګي اسير په نامه اخيستی وم چې له خپل وراره سره مې تبادله کړي.
د اکه ياسين کارونو ته حيران وم. څو ورځې مخکې يې راته کالي او بوټونه واخيستل. څواني يې راسره وکړه او نن يې بيا داسې ناڅواني وکړه.
څه سر به دې خوږوم. د اغاشيرين انډيوالانو لاس تړلی په موټر کې واچولم.
موټر د هوايي ميدان پر سړک رهي شو. موټر چې له بيمارو (بي بي مهرو ) تېرېده، د خپل کور برنډه مې وليده. مور مې په برنډه کې ولاړه وه. سړک ته يې کتل. ګومان مې وکړ چې زما لاره څاري، زما انتظار کوي. زړه مې داسې تنګ شو چې ما وې اوس به چوي. د خپلو اوښکو مخه مې نشوای نيولی.
اغا شيرين ته مې زارۍ وکړې. د خدای و رسول و قران و سخي د ټولو په نومونو مې قسمونه ورکړل چې يو ځل، فقط يو ځل مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېږدي چې خپله مور وګورم بیا که مې دا ر ته هم وخېژوي، ورسره لاړ به شم خو اغاشیرین په خوله باندې په سوک ووهلم.
ما د خولې وینه په اوږه پاکوله چې یوه ټوپکوال مې خوله په دسمال باندې وتړله.
نور نو د چیغې د وهلو نه وم.
سترګې یې هم راباندې وتړلې.
نه پوهېدم چې چېرته مې بیایي خو موټر چې پر خامه سړک ورګډ شو، پوه شوم چې خیرخانې خوا ته ځي.
څو ورځې یې په یوه وړوکي تشناب کې اچولی وم. هماغه د حزب اسلام کیسه دلته هم وه خو دومره ښه و چې چا نه وهلم.
اکه یاسین چې د میکرویانو خوا ته رهي کولم، د سګرټو دوه دبې یې راکړي وو. دواړه مې د سبا تر ماښامه تش کړل.
اوله ورځ راباندې ډېره سخته تېره شوه. هره شېبه مې مور سترګو ته درېدله. هره ګړۍ، هره شېبه راباندې کال تېرېده. د تشناب پر دیوال له وړوکې کړکۍ څخه د لمر رڼا راپرېوتې وه. رڼاځای پر ځای ولاړه وه. چې هر څه به مې وروکتل، هماغسې پر خپل حال به وه. ما به څو سګرټه ایرې کړل خو وخت به پښه پر ځای په ټپه ولاړ و.

نجف د ابراهیم له ګیلاسه سوړ شوی چای په کنګالي کې توی کړ او تازه چای یې ورواچاوه. ویې ویل: چای دې څښه. پنځه ـ شپږ ورځې چې تېرې شوې. بیا یې لاس تړلی په موټر کې واچولم. خپله اغاشیرین هم له څو نورو ټوپکوالو سره په موټر کې کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غـره پـه ډډه کې وو. شـاوخوا د عسـکري مـوټرو تـش کالبوتونـه دلـې وو. څـو ودانـۍ د عسـکري قشـلې پـه شـان ولاړې وې چـې کړکۍ يې چا وړې وې.

نـه پوهېـدم چـې دا کـوم ځـای دی خـو مـوټر چـې د لـوی انګـر لـه دروازې ووت، پوه شوم چې دا د ۳۱۵ غونډ قرارګاه وه.

موټر د بادام باغ پر لاره رهي شو.

له باغ بالا تېر شو او پولي تخنيک ته ورننوت.

دوه کسان په موټر کې راسره پاتې شول او اغاشيرين له نورو سره کښته شو.

په مخابره کې يې چا سره خبرې وکړې. ويـل يې چې ستا سو سړی مې راوستی، راشئ ويې ګورئ.

لس دقيقې به تېرې شوې وې چې د وحدتيانو څو ډاتسن موټرونـه راغلل. زه يې هغو ته وښودلم.

د وحدتيانو قوماندان لـه سره تر پښـو پورې لـه نظره تېر کـړم. پـه خپلـه لهجـه يـې رانـه پوښـتنه وکـړه: «او باچـه ! تـو باچـهٔ از کـې استي؟»

ما وويل: باچهء ابراهيم آرزو.

قوماندان خپلو افرادو ته مخ ورواړاوه. يوه ټوپکوال چې کالي يې تر نـورو پـاک او د واسکټ پـه جيب کې يې قلـم ايښـی و، وويـل: صايب هغه خلقي آرزو يادوي. هغه شاعر چې و، په مرکزي کميټه کې و. د اغا صايب کسانو چې وواژه.

قوماندان وويل: ښه ښه، نو درځئ، لاړ به شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغا شیرین وویل: چېرته ځئ؟ سړی مو بوځئ. زما وراره را ته راولئ.

د وحدتیانو قوماندان وویل: «او که از ما یه، با ما یه». دا د خلقي زوی زموږ نه دی. تا خو ویلي وو چې د قوماندان قمبر ترور زی درسره دی. هسې دې زموږ زړه خوشاله کړی و. دا کدو دې ځان ته وساته، په کار به دې راشي. که نور څه نه کېږي اچار ځنې جوړ که خو زموږ په درد نه لگېږي.

اغا شیرین لکه بوت ولاړ و او سترگې یې د وحدتیانو موټرو ته نېولې وې.

څنگه چې د هغوی موټرونه له سترگو پناه شول، برید یې راباندې وکړ. تر لغتو یې لاندې کړم. ورځ یې راباندې توره شپه کړه. دومره یې ووهلم چې ما وې بند بند مې مات شو.

درگرده یې ویل چې ته یې د هغه بې ناموسه قوماندان د ترور زې په نامه راباندې خرخ کړی وې. څومره پیسې مې په تا باندې ورکړې خو ته خوشی کدو راوختې.

ما ورته زاری وکړې چې زما گناه نو څه ده. زه خو یې په قمار کې گټلی وم.

خو فایده یې ونه کړه. ورځ مې بده شوه. هر وخت چې به اغاشیرین ته خپلې پیسې وریادېدلې، زه به یې ډبولم.

څو هفتې نورې همداسې تېرې شوې.

د اغاشیرین له عذابه کرار کرار خلاص شوم.

یوه ورځ یې رانه پوښتنه وکړه چې اوس خو مې پیسې درباندې تللې دي، وایه چې څه کمال لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: اشپزي مې له ګیلم جمانو زده کړې ده. ښوروا او قابلي ښه پخولای شم.

پر هماغه ورځ یې راباندې دېګ پوخ کړ.

پخلی به مې ټولو ته خوند ورکړی و؛ ځکه سر له سبا یې اشپز شوم.

بیا نو څو پورې چې له هغه ځایه راوتښتېدم، په اشپزي باندې لګیا وم.

ابراهیم له خپل ګېلاسه وروستی غوړپ وکړ. خپل ساعت ته یې وکتل، ویې ویل: ښه نو بیا کله راوتښتېدې، څنګه؟

نجف علي وویل: دا څو شپې مخکې چې جنګ شروع شو، هلته یوه ګډوډۍ جوړه شوه، تیار محشر و. ټول ټوپکوال یې په موټرو کې بار کړل او جنګ ته یې یوړل. په قرارګاه کې یو زه پاتې شوم او دوه نفره پیره داران.

اغا شیرین راته وویل چې: «د ټولو برخه به پخوې. ماښام به موټر درولېږم. دېګونه به په کې باروې چې خط ته یې راوړي»

ما دېګونه پاخه کړل. ماښام شو خو څوک په دېګونو پسې رانغلل.

له پخلنځي د باندې راووتم.

ومې لیدل چې دواړه پیره داران په یوه ګوټ کې ناست دي، سګرټې څکوي.

یو دم مې په ذهن کې راوګرځېدل چې یاره نجف علي همدا یې وخت دی، پښې دې سپکې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان مې ازاد وګاڼه. ته نه پوهېږې چې څومره خوندور حال مې و.
لکه په تروږمو کې چې روان اوسې او له هر شي وډار يږې، ناڅاپه
رڼا شي، هر څه روښانه ووينې او پوه شې چې خطر نشته.
څه درته ووايم، د ازادۍ په قدر هغه پوهېږي چې بند يې تېر کړی
وي. خو ژر مې په زړه کې اندېښنه راولوېده. وېرې اخيستی وم.
څنګه وتښتم؟
چېرته لاړ شم؟
که پيره دارانو ولېدم؛ نو بيا؟
که يې ډزې راباندې وکړې؟
زړه مې داسې درزېده لکه څوک چې د پوروړي دروازه وډبوي.
ناړې مې وچې شوې وې. ژبه مې په تالو پورې نښتې وه. غوږونه
مې تېز شوي وو. د هر شي غږ ته مې د يوه خطر په سترګه کتل.
له مکتبه چې به کله تښتېدو او سيمنا ته به تلو، هغه وختونه
مې راياد شول. اخر مې وويل يا تخت دی يا تابوت، نن به خامخا
تښتم.
د پخلنځي له څنګه يوه نرۍ لاره تېره شوې وه. له هغه ځايه تر
دېواله پورې به سل ګامه لار وه.
تر دېواله کرار کرار لاړم.
دېوال هم داسې دنګ چې دوه کسان سر په سر سره ودروې، ايله
چې يې سر ته لاس ورسېږي. خو بخت راسره ملګری وو. دېواله ته
نژدې يو زوړ زيل موټر ولاړ و. سر ته يې وروختم. اوس نو له دېواله
يو ګام لرې يم خو چې ودرېدم، سر مې تر دېوال پورته و. د دېوال
سر مې ليدلای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا علي مې وویل او ورټوپ مې کړل.

لاسونه او سر مې ها خواته ځوړند شول، پښې مې دې خواته. وچ ګېډه او ټټر مې پر دېوال لګېدلي وو.

کرار مې اول یوه پښه او بیا بله پښه وروا ړوله.

ځان مې بهر خوا ته راځوړند کړ او لاسونه مې د دېوال په ژۍ ټینګ کړل.

اوس نو ډارېږم چې که ځان وغورځوم، پښه مې ماته نه شي خو بله چاره مې نه وه. بېرته ورختلی هم نه شوم.

بس ځان مې خوشې کړ.

غړز پر ځمکه وغورځېدم.

زنه مې پر زنګانه ولګېده. ټینګ درد یې وکړ خو پسې ونه ګرځېدم.

منډې مې کړې. تر خوړونو پورې مې دمه هم ونه کړه.

خوړ ته چې ورسېدم، شا ته مې وکتل. دېوال د ماښام په تیاره کې ورک شوی و.

یو څه ډاډه شوم چې اوس نو که راباندې پوه هم شي، لیدلی خو مې نه شي.

ځان مې یوه خوړ ته خطا کړ.

کښته پښتۍ مې خوږېدلې. په نس مې درد و.

رایاد مې شو چې کله مې پر دېوال ټوپ وکړ، پښتۍ مې د دېواله پر ژۍ لګېدلې وې.

تر هزارهٔ بغله پورې په خوړونو کې بېخاره لاړم.

د یوه کورور مې وټکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل هزاره مې و.
په ولاړو مې خپله کيسه ورته وکړه.
سړي کور ته بوتلم.
شپه مې ورسره تېره کړه.
چې سهار شو ، ما وې زه خپل کور ته ځم خو هغوی پرې نه ښودم.
ويل يې چې ته دا وضعيت وګوره. حزب وحدت له حزب اسلام او
دوستم سره يو شوی دی. پر شواری نظار باندې يې شپه درولې ده.
اوس که همدا اسې لاړ شې، بيا به دې ونيسي. يو څو ورځې صبر
وکه چې حال مالوم شي.
يو درې شپې ورته تم شوم خو کتل مې چې جګړه نه بندېږي نو
رارهي شوم.
د قصبې پر لاره همدا اسې راغلم، چارکلا ته مې ځان راورساوه. بيا
د بيمارو (بي بي مهرو ) د غونډۍ له څنګه خپل کور ته راغلم.
ابراهيم په ګونډو شو چې پاڅېږي.
نجف وويل: خير خو به وي، څه کوې؟
- بس وروره، ښه شو چې ته په خير بېرته راغلې، د مور زړه به دې
تکيه شوی وي. زه نو ځم چې ځان کور ته ورسوم.
ــ چېرته؟ غرمه ده؟ سات ته دې وګوره، يوولس نيمې بجې
دي.
ــ نه، غرمې نه دې جار شم. لاړ به شم. په دې خلکو باندې اتبار
نشته. بيا به سره نښتي وي او ستا کانې به پر ما شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ خدای دې نه کې. وایم خدای دې په کافر باندې داسې ورځ نه را ولي. راډیو کې خو یې وویل چې تر سبا سهاره پورې به اوربند وي.

ـ دوی په دې خبرو نه دي بند. د خدای په کور کې یې سره قسمونه وکړل چې بیا به جنګ نه کوو خو هغه دي تا ولیدل چې بیا یې څه وکړل.

په همدې وخت کې د هوایي میدان له خوا د بي ام ۴۰ د ډزو غږ راغی.

ابراهیم وویل: ودې لیدل. بیا یې سره شروع کړل. زه نو لاړم چې اوس به یې حزب اسلامي ځواب ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴ - ۲. کلی که پېښور؟

د هوايي ميدان سړک ته نوی ورګډ شوی و چې له لرې چا ورباندې غږ وکړ: ابراييمـــــــــــــــه ! ودرېږه.

بايسيکل يې ودراوه، شا ته يې وکتل.

جمال و چې د هوايي ميدان له خوا پر بايسيکل راروان و.

هغه چې راورسېد ، ابراهيم هم خپل بايسيکل روان کړ.

جمال وويل: څه دې وکړل؟

- هېڅ، نجف علي مې ولید. یوه ګړۍ مې ورسره مجلس وکو.

- اوهو ، ځومره ښه. راپيدا شو.

- هو.

بايسيکل يې ودراوه.

جمال وويل: خير خو به وي؟

- ما خو هېڅ شی نه دی اخيستی. راځه چې ببرته مارکېټ تـه لاړ شو.

- ښــه ده چــې ســودا دې نــه ده کــړې. پيســې بــه دې نــه مصــرفوې. پــوهېږې، دا جنــګ نــه ختمېــږي. زه خــو وايــم راځــه چــې يــو مــوټر ونيسو ، کډه بار کړو ، کلي ته ورشو.

- کلي ته؟ ته وايې په کلي کې به مو ګوزاره وشي؟

- چې هر رقم وي، له دې ځايه خو به ښه وي. سر خو بـه مـو پـه امـن کــې وي. ســر څــه چــې دلتــه خــو مــو نــاموس هــم خونــدي نــه دی. پوهېږې، دوستميانو په بيمارو کې ځو کورونو ته وراوښتي، بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عزتـي يــې وراړولــې ده. شـوراى نظـار والا بيـا د ميكرويـانو شپاړلسم بلاک کې يوه کورته ننوتلي دي، په يوې پښغلې پسې. هغې ځان له شپږم منزله کښته راغورځولی دی.

- دا څه وايې؟ مړه ده که ژوندۍ؟

- نه بابا، چې خلک وررسېدل، د وختـه يې ساه ورکړې وه. ما ورته ډېر چورت وهلی، بلـه لاره نـه لـرو. بهترينـه لاره همدا ده چې ځان وباسو. پـه هوايي بلاکونو کې مې پيلوټان وليـدل، ويـل يې چې بالاناغه هره ورځ ان ۳۲ طيـارې د تاجكسـتان نـه روسي وسلې او مهمـات راوړي. پيسـې پـه کـانتېنرونو کې راځي. وايـي د ايـران طيارې بيا پـه باميـان کې کښني، حزب وحدت تـه وسلې رسوي. دوستم تـه خو لـه ازبكسـتانه نښغ پـه نښغـه راځي. د ګلبدين مخـه پاکستان ته خلاصه ده؛ نو داسې وګڼه چې جنګ نـه دی، ناسور ټپ دی.

ابراهيم لـه جېبـه د سګرټو دبی راوايسـت. پـه کـراره يې يـو دانـه سګرټ راوکيښ او په شونډو يې ټينګ کړ.

له باندې نه يې د جمپر په جيبونو لاس وتپاوه.

له چپ جېبه يې د اورلګيتو کرهار پورته شو.

لاس يې ورننه ايست. د اورلګيتو قوتی يې راوکيښ. يـو خلی يې له قوتي راواخيست، قوتی يې د لپې په منځ کې ونيو.

اوږدو نريو توربخونو ګوتو يې اورلګيت ولګاوه.

سر يې په لپه باندې ورټيټ شو.

سګرټ يې بل کړ او ژر يې يو لوی کش ځنې وکړ.

سګرټ يې په ښي لاس کې ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوله يې خلاصه کړه چې اورلګيت مړ کړي خو اورلګيت سوړ شمال مړ کړ.
پټو يې له اوږې خطا کړه او بېرته يې سمه جر کړه.
- ابراييمه، څه چورت وهې؟
- د اکا زو، نه پوهېږم. د اغا مړی مې کلي ته يونه وور. تول مې پرې خپه کړل. اوس په کوم مخ کلي ته کډه يوسم؟
- هغه، هسې بهانه وه. که دې ترونه د اغا په غم کې وای نو په ژوند کې به يې ولې پوښتنه نه کوله. هېر دې دي چې هر څوک به وطن ته تلل، يا به کاکا يا به د ما دادا ترونو ته د بورو او چايو ګوړو بوجۍ لېږلې چې ودرېږه دوی خواران دي، هلته قيمتي ده خو هغوی به څه کول؟ هم به يې چای و بوره خوړله او هم به يې زياړې ورته کړلې چې دا دووس خلقيان ولله که پرېږدو. تا ته لګيا وو چې د کاکا جنازه به کلي ته راوړې نو زما دادا چې شهيد شو، ولې جنازې ته رانه غلل. خبر مې ورکړ چې که راځئ زه به پخپله درپسې درشم، په طياره کې به مو راولم او بېرته به مو ورسوم خو ځواب يې راولېږه چې د کافرو جنازه نه کېږي. راغلي دې نه وای، تکه توره بلا ورپسې خو چې دا مرداره خبره يې هم نه وای کړې.
ځان به نه ګرموې. هغوی ما و تا ته ګرم دي، موږ ورته نه يوو ګرم.
جمال پر بايسيکل پښه واړوله، ويې ويل: څه چې ځو ! په لاره کې دې چورت ووهه.
کور ته چې ورسېدل، زرمينه يې مخې ته ورغله. ويې ويل: سړيه چېرته وې، راځه چې لالا مې تا ته منتظر دی. جماله وروره ستړی مه شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم بایسیکل د پوالـه تـه ودراوه، ویـې ویـل: مـا ویـل زه بـه یـې پوښتنه وکم خو ښه شو چې دی راغی. ټول سره ښه دي؟

- ښه دي شکر، وایي پېښور ته کډه باروي. راغلی دی چې موږم ورسره بوځي.

خبیر له دهلېزه راووت، غږ یې وکړ: ښه شو چې راغلې په خیر. وخت کم دی، زرمینې درته وویل که نه؟

ابراهیم ځواب ورکړ: راته وخو یې ویل، خووو، نه پوهېږم والله چې څه ووایم.

زرمینې نېغ وروکتل: څه چورت وهې، وربه شو. لالا مې تیار موټر نیولی. زموږ کالي بم په کې واچوي. کابل خو خدای که بیا کابل کې.

- ښځې، تا تـه خو معلومـه ده. د غالۍ پیسې ایلـه د لارې کرایـه پوره کې، نورې پیسې...

خبیر یې خبره پرې کړه: اوهو ملګریه، ما ویل چې د څه شي چورت به وهې. د پیسو غم مه کوه. موټر خو مې هسې هم کرایه کړی. لویه لارۍ ده. په یوه کونج کې به یې تم خپل کالي واچوي. په پېښور کې به یو لوی کور ونیسم. یو دوه کوټې به یې تا تـه درکم. زما زړه بم درپورې ډاډه وي. پردی وطن دی، سړی چې یو خپل دوست عزیز ولري، ښه وي. زه نو لاړم. کالي مو سره وتړئ، نیم ساعت کې به لارۍ راولم. خورې ځنډ به نه کیږې چې په اوربند اېتبار نشته.

زرمینه په منډه د کور خوا ته روانه شوه.

خبیر چې روان شو، ویـې ویـل: جمـال جانـه، کـه تـم راسـره ځې، مشکل به نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال وويل: نه، کور دې ودان. زه به کلي ته لاړ شم.

خبير چې ووت، ابراهيم وويل: زه خو وايم کلي ته مه ځه. پېښور کې به يو کار روزګارم پيدا کو. په کلي کې به څه وکې؟

- دهقاني. خپله مځکه به وکرم. بس يې دی، دا څوارلس کاله يې وخوړه. چې لاړم، خپل حق به ځنې واخلم. اولادونه مې کابليان خو شول، اوس به پېښوريانم شي. تر اوسه پورې خپل پردی نه پېژني. ښه ده چې يو څو شپې په کلي کېم ګوزاره وکي. زه نو لاړم چې موټر راولم. پلوشې، کالي به ژر ژر راوتړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درییم څپرکی

## ۱-۳. مهاجرت

خړ مازدیګر یوه هینو لارۍ د پل چرخي تنګي ته ورسېده. مخې ته یې د غټو او وړو موټرو اوږد کتار ولاړ وو. پنځه لس دقیقې وروسته یې د تلاشۍ وار راورسېد. په برګه دریشي کې پکول په سر ټوپکي له موټروانه پوښتنه وکړه: چې بار کدي؟

- خانه کوچ از اي بيادر استن.

- خوب عیش کدین، میرین د پشاور ګرم. وا به جان ما که ده اې خنک جان مې کنیم. بیا وطندار پایان شو.

ابراهیم تر شونډو لاندې وبونګېد: ستاسو له لاسه ځو.

- چې ګفتي؟

- هیچ، چیزې نه ګفتم.

- نې اګه ده دلت کدام ګپ اس، بګو که دلته بد کنم. زود شو که وخت ندارم.

ابراهیم ورکښته شو.

زرمینې او معصومې د موټروان شا ته په سیټ کې ځانونه غونج کړل.

ذبیح او لیمې ځانونه په دوی پورې ونښلول.

ټوپکي د موټر باډۍ ته وروخوت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو له اسماعیل سره د کالیو په منځ کې ناسته وه، سړی یې چې ولید، مخ یې په پلو پټ کړ.
دواړه تر ستوني په بړستن کې پټ وو.
ټوپکي د کالیو په منځ کې څو ځایه تېره سیخ ورومنډه، بیا یې کښېنته راټوپ کړل: قاچاق ماچاق خو نداري؟
- نې، کل اش سامان خانه اس.
- مره بل اشه.
- چند بتم؟
- برو که چوچه دار استي، همي ده هزار بتې از زیات اش ما ره تېر.
- یک کمې مراعات کو، بېچاره مردم استیم.
- تو مثلی که به انسانیت نه مې فامي.
دې سره یې د ټوپک قنداغ پورته کړ چې ابراهیم ووهي.
ابراهیم ژر جیب ته لاس کړ. لس دانې زرګونونه یې ببل کړل.
ټوپکي په بېړه پیسې واخیستې او په سر یې اشاره وکړه چې مخ دې ورک کړه.
ابراهیم چې سیټ ته وخوت، موټر حرکت وکړ. موټروان وویل: څو یې درنه واخیستې؟
- لس زره.
- عجب کاپر خلک دي. په اوړي کې مې پلنګ کوچ و. تورخم نه مې د کابلیانو مړی په کې راووړ. سړي زامنو ته وصیت کړی و چې مړی به یې خامخا شودا (شهدای صالحین) ته راوړي. چې دقه پاټک ته ورسېدو، سړی یې ټینګ کړ چې د مړي بل راکه.
- د مړي بل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- قسم ده که دروغ درته وایم. سړي چې ځومره ورته زارۍ وکړې چې مړی خرابېږي، نه يې پرېښوسته. اخر ما ورته په ګوتو اشاره وکه چې پيسې ورکه پيسې، شرنګ عيله سلام. پيسې يې چې ورکلې بيا يې خوشې کو.
- عجيبه ظالم خلک دي.
- هغه يې سه کې، لګيا و چې تاسې د پېخور په يخه هوا کې سات تېروئ مونګه دلته د ګرمۍ نه مړه شو.
موټروان کټ کټ وخندل خو د ابراهيم پر شونډو ايله يوه نرۍ موسکا تېره شوه.
ماخوستن د ماهيپر له تونله ووتل او مخ په زوړ روان شول. وروسته هوارې ته ورسم شول. نيم ساعت نور يې هم مزل وکړ، موټروان وويل: وروره، شپه به همد قلته کوو. وړاندې خطره ده. تورسرې درسره دي، خه نه ده چې په دې توره شپه کې مزل وکو.
لارۍ د درې په يوه نسبتاً پراخ ځای کې د يوه هوټل مخې ته د اتو نهو سراچه موټرو په څنګ کې ودرېده.
ابراهيم له موټره کښته شو.
د غاړې په دسمال باندې يې کالي وڅنډل.
د موټر د څراغونو په تېزه رڼا کې د دوړو ګردونه ښکاره شول.
ژر ژر يې مخ او سر په دسمال پاک کړل. بيا راغی، د موټر مخکينی سيټ يې قات کړ.
ذبيح يې د زرمينې له غېږه راواخيست.
زرمينه راکښته شوه، معصومې ليمه له دواړو لاسو ونيوه او راځوړنده يې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرمينې هغه په غېږ کې واخيسته.
کلينر د موټر د باډۍ تخته راخلاصه کړه.
تش بېلر يې ورته ودراوه او د بېلر په څنګ کې لويه پلاسټيکي ډبکه.
ببو اسماعيل راوېښ کړ. د هغه لاس يې ونيو او پخپله چې له هر ګام سره ټوخېده، له موټره راکښته شوه.
کلينر ابراهيم ته مخ واړاوه: وروره، وايم بيخي بې غمه اوسه. زه پخپله په باډۍ کې پرېوزم. مال به دې خداى ساتي، زه به يې ساتم.
ابراهيم په هوټل کې د ځان په شان يوه اوږده نرۍ کوټه ونيوه، دوه په څلورو کې به وه.
اسماعيل چې ورننوت، ترنګ شو. پښه يې په چيلمچي لګېدلې وه چې د وره په څنګ کې پر ځيګري رنګه موکېټ باندې ايښې وه.
د ګيس رڼا د خيرنو دېوالونو او لوګي وهلي چت په تياره کې ورکېدله.
ببو مخکې نورې ښځې ورپسې د نري زرغون دسترخوان له سره تېرې شوې او پر سپنجي نياليو چې ګلداره ځيګري پوښونه يې وو، کېناستې.
د هرې يوې له کېناستو سره له نياليو ګردونه پورته شول او د ګيس رڼا ته وځلېدل.
د اسماعيل په عمر د هوټلي شاګرد يوه غېږه لرګي په لاسونو کې راننوت. د کوټې بر سر ته تېر شو، بخارۍ يې ولګوله.
درې واړه ماشومان بخارۍ ته جوخت کېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرمينې او معصومې کباب وروغوښت، نورو قابلي.
زرمينې د ګوتې په اندازه وړې پيالې له شنو چايو ډکې کړې، ويې ويل: دا چای ولې داسې خړ ښکاري؟
ابراهيم وويل: د سيند اوبه کله خړېږي.
- وی، دا د سيند اوبه دي؟
- نه، د زمزم اوبه دي، ته لا په دښته کې هم د نل اوبه غواړې؟ غوښه به ښه ژدويې چې ناروغه دې نه کې.
ډوډۍ خلاصه شوه. ابراهيم سر ته بالښت کېښود، اوږد وغځېد.
هوټلي دسترخوان ورټول کړ.
له هغې خوا چې راغی، بړستنې ورسره وې.
په دوو وارو يې پنځه ځيګري بړستنې راوړې.
ببو سم له لاسه يوه بړستن پر ځان وغوړوله خو زرمينې د ګيس رڼا ته د بړستنې مخ او څټ ته په ځير سره وکتل. ويې ويل: زه خو يې ولله که واغوندم. ته وګوره ځيګري رنګ يې د خيرو له لاسه تور اوښتی.
ابراهيم وويل: هلته يې کوټه کئ، زه به مو خپلې له موټره راوړم.
ابراهيم په درووند خوب ويده و، چې چا ورو وټکاوه: جګ شئ چې د لمانځه وخت دی.
راکېناست. سترګې يې وموښلې. غږ يې وکړ: ببو! ويښه يې.
- هو، زو يه د ټوخلي د لاسه کله ويده شوې يم.
ابراهيم لاسي څراغ ولګاوه.
د کوټې له وره سره يې بدنۍ پيدا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بخارۍ په سر کې له ايښې غټې چاينکې څخه يې تودې اوبه په بدنۍ کې واچولې او د باندې ووت.

د باندې د ډيزلي موټرو د لوګيو بوی فضا ډکه کړې وه. موټرونه ټول چالان وو. د هينو په څنګ کې څو نورې لارۍ هم ولاړې وې.

ابراهيم لا لمونځ نه و خلاص کړی چې د موټروانانو غږ يې واورېد: هلئ حرکت وکئ چې ځو، د تورخم مسافر ژر کوئ، هلئ.

ابراهيم لنډه دعا وکړه، په منډه کوټې ته لاړ.

له هغې خوا له ښځو او ماشومانو سره بېرته راووت.

هغوی يې موټر ته وخېژول او پخپله لاړ د هوټل له دروازې سره مېز ته ودرېد. د بېګاه حساب يې خلاص کړ او په منډه موټر ته وخوت.

د درې چپ لاس ته د غرونو پر سر د لمر تتنه رڼا لګېدلې وه چې لارۍ د زرداد پاټک ته ورنژدې کېده.

ابراهيم له جيبه د پيسو بنډل راوايست. څو دانې زرګونونه يې بېل کړل او په بغل جيب کې يې ننه ايستل. نورې پيسې يې زرمينې ته ورکړې چې پټې يې کړي.

په پاټک کې يو ږيرور په يوه لوړه کې پر دوو پښو ناست و، په پټو يې ځان داسې پيچلی و چې يوازې يې سترګې ښکارېدې.

درې نور ټوپکيان لاندې د سړک په منځ کې ولاړ وو.

ابراهيم ورکښته شو. پيسې يې له جيبه راوکښلې. ټوپکي اول دانه دانه وګڼلې بيا يې د هر زرګون مخ او شاته په ځير وکتل.

ويې ويل: کمې دي، نورې راوباسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- وﷲ که یې لرم. څه چې راسره وي، په نورو پاټکونو کې یې رانه واخیستې.
- لانجه به نه کوې، که نه خیر به دې نه وي.
- قسم دی که یې لرم. دا ته، دا مې جیبونه.
ټوپکي یې جیبونه تلاشي کړل.
خولۍ یې له سره ایسته کړه، د خولۍ ګرد چاپېره یې په ځیر وکتل. بیا یې لاسونه د ابراهیم تر جمپر لاندې تېر کړل، په څټ او ولي او ملا یې لاس ورتېر کړ.
د پرتوګ ښتوله دوره یې وپلټله.
جورابې او بوټونه یې ورباندې وکښل.
خو یوه روپۍ یې هم پیدا نه کړه.
په لوړه ناست ږیرور ورغږ کړ: څنګه چل دی؟
ټوپکي وویل: لس زره یې راکړي، وایي نورې نشته.
سړي چیغه کړه: سپیه، وېې نیسه.
ابراهیم شاوخوا ته ترهېدلی وکتل چې سپی به له کومې خوا ورځي. خو سپی نه ښکارېده.
د سړک له بلې غاړې په لویه ږیره او اوږدو برېتونو کې یو سړی، تکې سرې سترګې، جینګه خوله، زېړ غاښونه راښکاره شو.
د ابراهیم خوا ته یې ورمنډه کړه.
په ورانه باندې یې خوله ولګوله. غاښونه یې ټینګ کړل.
د ابراهیم بوغارې پورته شوې.
په لاسونو یې د سپي سر پورې وواهه خو نورو ټوپکوالو یې لاسونه ټینګ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرمينې د موټر له کړکۍ څخه لس دانې زرګونونه ورواچول، ويې
ويل: د خدای روی و منئ خوشې يې کئ، دغه ټولې پيسې
درواخلئ.
يوه ټوپکوال ورغی. پر ځمکه تيت شوي زرګونونه يې دانه دانه
ورپورته کړل.
په لوړه کې ناست ډيرور سپي باندې غږ وکړ: بس يې دی، خوشې
يې که.
ابراهيم ګوډ ګوډ روان شو او موټر ته وروخوت.
څنګه چې پر چوکۍ کېناست، په پايڅه يې لاس تېر کړ، اووف
يې وويل، ورون يې وسولاوه.
پايڅه يې د سرې په داړو سورې شوې وه.
زرمينې وويل: ډېر يې ژوبل کړی يې؟
- سخت درد کوي.
د کلونيا بوی پورته شو.
زرمينې ورته په کلونيا لوند کړی دسمال ونيو: هه، په دې باندې
يې وتړه چې ګزک ونه کې.
په سروبي، سرخکان، درونټې او تر تورخمه پورې په هر ځای کې
پاټکونه او شکول وو.
له تورخمه چې واوښتل، موټروان وويل: نور به نو غم نه کوئ. دې
خوا ته ان تر پېښوره بيا سمه مسلماني ده، پوليس خپلې پيسې
اخلي خو په سپيو سړی نه داړي. هاهاها
خو نورو ونه خندل.
د مازديګر له اذانه سره لاری، کارخانو ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبیر تیار ورته ولاړ وو.
هغـه لـه خپلـې کـورنۍ سـره پـه سـراچه کـې راغلـی و او غرمـه رارسېدلی و.
د حیات آباد په درېیم فېز کې یې دوه پوړیز کور کرایه کړی و.
درې مزدوران د کور له وره سره تیار ناست وو.
دوی چې ورورسېدل، خبیر ابراهیم ته کړه: تـه دې دمه جوړه کـړه، زه به کالي په مزدورانو راکښته کړم.
نـیم ساعت وروستـه چې ابـراهیم لامبېـدلی راووت، مزدورانـو غالۍ څنډلي او په کوټو کې یې هواري کړې وې. نور کالي یې پـه دهلېز کې ایښې وو.
خبیر د لارۍ باډې ته وروخوت. چارچاپېره یې سترګې وغړولې، هېڅ شی پاتې نه وو.
راکښـته شـو. د موټروان کرایـه او د مزدورانـو اجوره یـې ورکـړه، رخصت یې کړل.
تر ماښامه پورې ښځې سره لګیا وې. توشکې یې هوارې کـړې او نور سامان یې په الماریو او پخلنځي کې ځای پر ځای کړل.
سرونه خوندي شوي وو او اوس یې باید د ګېډې غم کړی وای.
ابراهیم به هره ورځ ملابانګ د بوړۍ له پله سره د مزدورانو اډې تـه تـه.
په ټوکرینه کخوړه کې یې یـوه جوړه زړې جامې او زاړه بوټونـه پـه شا، غرمې مهال به بېرته وچې شونډې راستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لسو ورځو کې ایله یوه ورځ کار ورته پیدا شو، هغه هم داسې چې ماښام ټیکه دار د اتیا پر ځای شپېته کلداري ورته ورکړې چې: کابلیه، د تا کار نه دې زده. سبا له به نه رازې.
په اډه کې یې له نورو مهاجرو سره سلام علیک پیدا شو.
یوه ربړې والا مشوره ورکړه چې ربړه دې کرایه کړي او پیاز او آلوګان دې ورباندې خرخ کړي.
همداسې یې وکړل خو هره ورځ به پولیسو ځوراوه.
نیمایي ګټه به پولیسانو ځنې یووړه، وهل ټکول او سپکول هم ورسره.
غوږونو یې د «مهاجره، کابلیه، ګیلم جمه» له اورېدو سره حساسیت پیدا کړی و. دغه حساسیت هغه مهال لازیات شو چې یوه ورځ یې په صدر کې د سړک له دې غاړې پورې غاړې ته پر هوایي پله تېرېده چې څو هلکانو دوربینونه په لاسونو ناري وهلې: «راشه کابلی وګوره، ګیلم جم وګوره، په دوه دوه روپۍ.»
ده ورته دوه کلداري ورکړې. دوربین ته کېناست. که ګوري چې د نجونو لوڅ عکسونه په کې ښکاري.
د نورو د هر چا خپل نومونه وو «امجد، شاهین، تسلیم، سرفراز، جهانګیر، سلمان...» خو دی چا په نامه نه باله. پولیسو به هم مهاجر یا کابلی باله، دوکاندار او خریدار هم. پېښوریان خو لا خیر، په خپله افغان مهاجرو چې پخوا یې هجرت کړی و، هغوی به هم ځینو ګیلم جمعي او ځینو سکر شصت والا مهاجر باله.
دوه میاشتې دغسې ووتې.
ابراهیم ورځ تر بلې ډنګرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې موده کې زرمينې ورته ځو واره وويل: د دې وړو کارونو څه نه جوړېږي. زه خو وايم چې لالا سره مې کار وکه چې سمه ګوزاره مو پرې وشي.

خو ده هر ځل يوه خبره کوله: خپله لاسه ګله لاسه.

يو مازديګر د ناصر باغ په سړک باندې سخته ګڼه ګونه وه.

د يوه مهاجر خرګاډی په هوا شوی و او لاره يې بنده کړې وه.

خرګاډی نه چې خر پخپله په هوا شوی و. بار درونډ و ، ګاډی په ځمکه لګېدلی و ، خر يې په هوا کې معلق درولی و.

له هغې خوا پوليس راغی ، چيغه يې کړه: وه مهاجره ، ايسته که دا ګلبدين دې. مړه ، لاره خلاصه که.

دغه پوليس نيم ساعت مخکې ابراهيم ته درېدلی و چې پيسې ورکړي خو ابراهيم لا سودا نه وه کړې.

د ابراهيم ربړې ته چې ورسېد ، په سوټي باندې يې ربړه وډبوله: اې د ګلبدين زامنو ، شابه لاره خوشې کئ.

ابراهيم ورو وبونګېد: ګلبدين خو ستاسو سوغات دی.

پوليس وروګرځېد: مهاجره ، سه دې ووې؟

- هېڅ.

پوليس د لښتې وار ورباندې وکړ. د اوږې په راوتلو هډوکو يې ولګېده.

ابراهيم خپله اوږه ټينګه کړه.

پوليس يې لينګيو ته لښته ونيوه. پر له پسې پنځه شپږ واره يې پرې وکړل: د خره بچيه ، د رنډۍ زو ، ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم یې لښتې ته لاس وا چاوه، چیغه یې کړه: بې ناموسه، څه
مې کړي دي؟ ولې مې وهې؟
د پولیس بل انډیوال راورسېد.
ابراهیم یې د سیند غاړې ته ورکش کړ.
تلاشي یې شروع کړه.
جېبونه، پایڅې، لستوڼي، ټول ځایونه یې وکتل.
بیا هغه بل پولیس یې جېبونه تلاشي کړل.
له یوه جېبه یې د چرسو تلی راوکیښ، ویې ویل: اوس مې سمګلر
پیدا کړ. والله که رانه خلاص شې، د چرسو سمګلنګ کوې هه؟
په رکشا کې یې کېناوه.
پولیس یې څنګ ته کېناست.
پولیس رکشا والا ته وویل: تهانې ته ځو.
رکشا روانه شوه.
سپین جومات ته چې ورسېدل، رکشا والا وویل: سړیه، یو پنځه
سوه ورکه چې خوشې دې کي.
پولیس وویل: والله که یې په زرو روپو خوشې کم. سه اسانه خبره
خو نه ده. په چرسو مې نیولی.
ابراهیم وویل: والله که روپۍ رانه واخلي.
رکشا بیا یو څه مزل وکړ.
بیا د سړک څنګ ته ودرېده. رکشا والا ابراهیم ته مخ واړاوه:
ګوره، څه سړی یې، یو زرګون ورله ورکه، زان خلاص که.
ابراهیم بیا وویل: والله که یوه روپۍ ورکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خوخه دې خپله. خو که يې تهانې له د ننه کړې، والله که بيا په لس زره ورنه خلاص شې.
- چې هر څه کېږي، ودې شي.

دی يې تهانې ته بوت. هلته چې ورسېدل، پوليس ابراهيم ته مخ واړاوه: ورکه د رکشې کرايه.

ابراهيم شل روپۍ ورکړې.

رکشا والا پوليس ته وکتل: صاحبه، دا خو کمې دي.

پوليس وويل: ورکه يو پنځوسی بلم ورکه، مړه.

تر سهاره پورې چا خوب ته پرې نه ښود. په هرو دوو ساعتونو کې به پوليسان بدلېدل.

نويو پوليسانو به هغه زړې پوښتنې بيا بيا له سره کولې: خه نو شابه، دا راله اووايه چې چرس نه به غير نور د چې شي سمګلنګ کوې؟ پوډر د چا نه الې؟ ګيراکان دې سوک دي؟ ګيراکان دې راله وخيبه...

ده به قسمونه کول چې په ټول ژوند کې يې لا چرس په لاس کې دی نيولی خو چا نه اورېده.

له هر انکاره سره د وهلو ډبولو يوه جوپه.

سبا غرمه مهال خبير وررورسېد او دی يې له تهانې راوايست.

هغه په هماغه اولو ورځو په کارخانو کې دوکان جوړ کړی و او د پوليسو ژبه يې زده کړې وه. پنځه سوه کلدارې يې ورکړې چې ابراهيم خوشې کړي.

خبير ورته وويل: نور دې بانې مانې نه منم. سر له سبا به د ما سره په دوکان کې کار کيې. که د ځان د پاره يې نه کيې، زما د پاره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکه. دوکان په یو کس نه چلېږي. په بل چا باندې اعتبار نه شم
کولای، ته مې خپل یې. هغه تنخواه چې بل ته ورکوم، همغه به تا
ته درکم.
دا ځل ابراهیم له ضده تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲-۳. نوې هيله

معصومه په دې ورځو کې په ځان کې ډوبه وه. پېښور کې ګرمي ډېره وه، هره ورځ به يې لامبل خو نن بيا دوه وارې تر اوبو وو تله.

هېنداريې ته ناسته وه د املـه پـه تېلـو يـې ويښتان غـوړ کـړل. د ويښتو هر تار يې جلا جلا وکتل چې کومه دانه سپين ويښتـه خو به پکې نه وي پاتې.

مخ يې په کريمو غوړ کړ.

د دوا ړو لاسونو د ګوتو په سرونو يې د مخ پوستکی وسولاوه.

څـو شـېبې وروسـته يـې د مـخ پوسـتکی نـرم او تـر پخـوا سـپين ښکارېده.

هغه ګونځې چې د ډېر ډنګروالي په وجه يې د خولې پـه څنډو کې جوړې وې، ورکې شوې. تـه وا چې کريم بـه يې مـخ پړسولی وي، ځان ته تر پخوا لږه چاغه ښکاره شوه.

د معصومې سترګو د سينګار د مېز پر سر د کريم او لـب سيرين د ډبليو خوا ته کتل.

چا يې سترګې ورپټې کړې.

معصومې يې پر لاسونو ګوتې وموښلې. تر مړوندو پوري يې خپـل لاسونه وروغځول. بيا يې ښی لاس د هغې اوږه او سر تـه پورته کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زرمينې غوږ والى يې پر لاس ولګېد. ويې ويل: «ومې پېژندلې، وربنداره يې.»

زرمينې وويل: واه واه ! څومره ښايسته شوې يې. که بل څوک دې ووينې، بيخي به پوه نه شي چې دا هماغه معصومه ده.

- رېښتيا وايې؟

ـ خود.

ـ دا خو ستا له برکته دي. که نه نو ما به دومره پيسې له کومې کولې چې داسې شيان واخلم.

ـ اې ليونۍ، زما او ستا يې لا څه مانا؟ چې هر څه دې پکار وو بس په ما غږ وکه.

ـ خير يو سې. هسې هم زه نو څوک لرم؟ ببو خوارکۍ د بلې زمانې ښځه ده. خور نه لرم. بس همدا ته مې هر څه يې.

هغه حيرانه وه چې په دې ورځو کې د زرمينې ژبه څنګه پسته شوې ده؟ څنګه له دې سره يې ګوزاره ښه شوې او مهرباني يې زياته شوې ده؟

کله کله به يې پر دې خبرې ډېر فکر کاوه خو کوم ځواب يې ورته نه شو موندلای. بيا به يې ځان سره ويل: څه يې کوې هسې خدای راباندې رحم کړی. خدای دې وکړي چې تل همداسې پاتې شي.

نور نو يوازې ببو نه وه چې د معصومې خبرو ته غوږ ونيسي. اوس يې له زرمينې سره هم د زړه خواله کولای شوه. زرمينه يې ملګرې شوې وه. د دوی طبعې سره لګېدلې وې.

معصومې ته د ببو په څېره کې د يو ډول پټ خپګان نښې ښکارېدلې. دې به اکثره وخت له زرمينې سره ناسته پاسته کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو څوک نه وو چې له ببو سره مجلس وکړي. ببو ورته حال نه و ویلی خو زرمینه پرې پوهېدله چې خپه ده.
له هغې سره د معصومې د کیسو رنګ هم بدل شوی وو. کله کله به د معصومې زړه پرې وسو. څنګ ته به یې ورغله. د چوترې لاندې سیوري ته یا په کوټه کې به ورسره کېناسته، څو شېبې به یې دا غرها غر ویشته خو چې څنګه به زرمینه د پخلنځي په لور یا بله خوا روانه شوه او دې ته یې په لاس اشاره وکړه چې پسې ورشي نو بیا به یې ځان نه شو ټینګولای. ببو ته به یې پلمه وکړه چې پلانکی کار مې پاتې دی، زه به لاړه شم، ژر بېرته راځم.
ببو به موسکۍ شوه خو څه به یې نه ویل. په کوټه کې به یې خپلې سترګې په چت کې ګنډلې. خدای خبر چې د چت او سپنیز ګاډرونه به یې څو ځلي شمېرلي وي.
ببو کله کله دومره په چورت کې ډوبېدله چې ان د لمسیانو ټوپونه یې هم نه لیدل چې په کوټه کې به پورته پورته غورځېدل. هله به یې له خولې اخ ووت چې کوم لمسی به یې پر دې باندې ولوېد او نس یا پښه به یې ورخوږ کړه او معصومه به راغله، ماشومان به یې له کوټې وشړل.
څنګه چې د زرمینې او معصومې زړه د ښمنې ورو ورو پر دوستۍ اوښتله، د کابل جګړې هم کرار کرار سوکه کېدلې.
د طالبانو د راتلو اوازې ګرمې وې. څوک چې به له کندهاره یا له خوسته پېښور ته راتلل، د طالبانو د ښه سلوک او ګوزارې کیسې به یې کولې. هغوی به ویل چې د طالبانو په واکمنۍ کې غلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشته، پاټکونه یې لرې کړي دي، ظاهر خاني امنیت یې برقراره کړی.

معصومې د طالبانو د کامیابېدو دعاوې کولې. د هغې سترګو د یوه بل زړي د راتلو لاره هم څارله. زرمینې ورته ویلي وو چې کوم سړی یې ورته موندلی دی.

د زرمینې غږ هغه له چورته وایسته: څنګه داسې موسکۍ موسکۍ کېږې؟

معصومې سترګې خلاصې کړې.

لپه شوي لاسونه یې پر مخ راتېر کړل.

همداسې چې جګېدله، په دواړو لاسو یې د جای نماز دوې څنډې هم راپورته کړې.

زرمینې ته یې مخ ورواړاوه.

شونډې یې سره نه ورتلې.

جای نماز یې قات کړ، ویې ویل: هېڅ، هسې یوه خبره مې په زړه کې ګرځېده.

ـ ښه ګوره، ورور دې وریجې راوړې دي، راځه چې سره پاکې یې کو.

ـ سمه ده. چېرته کېنو؟

ـ هلته په چوتره کې.

ـ ولې په کوټه کې یې نه پاکوو؟

ـ دلته تیاره ده کنه.

ـ پروا نه لري. په چوتره کې خو ببو ناسته ده. بیا خو سره کیسې نه شو کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ خوره کې، دلته خو زما سترګې کار نه کوي.

ـ پروا نه لري. ته مازې را ته کيسه وکه. وريجې به زه پاکې کم.

ـ ښه؟ نو سمه ده.

د پراشوټو سپين دسترخوان يې و ېړ کړ. وريجې يې په منځ کې کوټه کړې.

څو شېبې چوپتيا وه.

معصومه د دسترخوان څنډې ته ناسته وه. د وريجو له کوټې يې د ګوتو په سر وريجې را اخيستې، خپلې مخې تـه يې شيندلې او شګې، د ډبرو ټوټې، خس او د وريجو تورې دانې يې ترې لرې کولې.

حيرانه وه چې خبره له کومـه ځايـه پيـل کړي. زړه کې يې ويـل چې کاشکې زرمينه پخپله په خبرو سر شي.

همدې چورت کې وه چې زرمينې وپوښتله: څنګه، وريجې خو بـه ډېرې ناپاکې نه وي؟

ـ نـا پـاکې خـو دي. څـه وکـو، ورور خـو مـې هروخت پـه پټـو سترګو سودا کيي.

ـ رېښتيا وايې. ها د بلې ورځې کچالان دې وليدل.

ـ هو ومې ليـدل. نيمـايي پکـې خوسـا وو. پـه دومـره خـوارۍ باندې پيسې ګټي خو بيا يې داسې لګوي چې تـه وا اوبـو راوړي دي.

ـ سودا اخيستل دې څوک زما له وروره زده کي. هر چېرته چې وي، خداى دې يې ښاد لري. په بازار کې چې به تر هغـه ښـه شـى نـه و، هغه به د ما لالا اخيستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ریښتیا هم لالا دې تکړه دی. خو ، هغه شکر په وس کې ښه و.

- شکر چې ښه دی. څه غلا خو یې نه ده کړې، د چا مال خو یې نه دی خوړلی.

معصومه پر خپلې خبرې پښېمانه شوه چې دا دې څه وکړل؟ روغ مجلس دې خراب کړ.

ویې ویل: زر واري شکر. چا ویلي دي چې غلا یې کړې ده. ټولو ته مالومه ده چې بل وړور دې په لندن کې خواري کوله، ده دلته پیسې یې حقې حلالې دي.

د زرمینې د تندي ګونځې ورکې شوې. ویې ویل: خدای دې ستا نصیب هم په داسې ځای کې وکي چې د خوارۍ رنګ ونه وینې.

معصومې داسې لویه ساه واخیسته چې ته وا تر اوسه به یې چا د ساه ایستلو مخه نیولې وه. د زرمینې خبره یې له لنډې خندا سره بدرګه کړه.

 څو شېبې بیا سره غلې وې.

دغه چوپتیا پر معصومې وغمېدله.

دا ځل یې پخپله پیل کړه: یو وخت کې به مو بغلانې وریجې خوړلې. څومره خوږې وریجې وې. دغه سیله هم بده نه ده خو خدای دې هغه پرمل ووهي چې په کابل کې مې زړه ورنه شین و ، په وچ زور به مې تر ستونې تېرولې.

زرمینې وویل: زما بابا به هر منی په وریجو پسې کندوز ته تله. یو کندو یې خاص د نیک پی وریجو ته اخیستی و. هی هی د کنجد له تېلو سره به یې عجب خوند کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ هغه وختونه به بیا په خوب کې هم ونه وینو. ریښتیا تا ویل چې هغه سړی د وریجو دوکان لري؟

ـ کوم سړی؟

ـ هغه بل.

ـ کوم هغه بل؟

- ځه، ورک کوه یې توره بلا ورپسې.

زرمینه په خندا شوه: ښه نو هغه بل یادوې؟

معصومې د لاس وریجې بېرته په زوره د ناپاکو وریجو پر کوټې وشیندلې، تندی یې تریو کړ: زه نو دومره خواره شوم چې اوس را پورې ملنډې وهې؟

ـ اې ساده ګلې ! ولې به ملنډې وهم. هسې مې ځورولې. هو هغه د وریجو، د اوړو او غوړیو دوکان لري. وایي سم دم ګوزاره یې جوړه ده.

ـ دوکان یې چېرته دی؟

ـ په ریشخورو کې. کور یې هم هماغلته دی، دوکان ته یې نژدې.

ـ تا یې کور لیدلی؟

ـ نه، ما نه دی لیدلی خو شفیقه یې د کور نښې راته ویلې دي. د شفیقې دوې تر کوره سړک ته نژدې دی.

د ببو راتګ د هغوی مجلس خراب کړ خو د معصومې په ماغزو کې ټوله ورځ د هغه فکرونه ګرځېدل. په خیال کې یې د هغه انځور کله یو خېل او کله بل خېل جوړاوه خو په هر تصویر کې به هغه یو دنګ، برېتور هډور سړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د معصومې په ګومان د هغه عمر له دېرشو پورته او تر څلوېښتو کم و ځکه چې زرمینې ورته ویلي وو چې سرې کونډ دی، ښځه یې مړه شوې ده.
معصومې به په خیال کې هر وخت هغه په سپینو کالیو کې له کندهارۍ غاړې او پېښوري تور واسکټ سره لېده.
زرمینې ویلي وو چې هغه بېسواده دی خو د معصومې په جوړ کړي تصویر کې د هغه د واسکټ په برني جیب کې د یوه قلم نکلي سرپوښ ښکارېده. ږېره یې خرېبلې او وېښتان یې نه دومره زیات او نه ډېر کم، پیکی یې له کینه ښي طرف ته اړولی وي. همدا د معصومې په ذهن کې د «هغه بل» خیالي تصویر و.
د معصومې او زرمینې د هرې ورځې خبرې اترې همدا وې.
معصومې به چې د هر څه په هکله خبرې کولې، یو ځل به یې خبره په وریجو یا د شفیقې په پلمه په ریشخورو راوستله او زرمینې به هم لکه د دې په مطلب چې پوهېدله، د «هغه بل» نکلونه به یې ورته کول.
د معصومې په زړه کې تلوسې په څپو وې. هغه به څه رنګه وي؟ ښایسته به وي که نه؟ مور او خور به یې په ګوزاره کې څه خپل وي؟ کور، د کور چارې او لسګونه نورې پوښتنې د معصومې په ذهن کې لرې برې کېدې او پخپله به یې ورته ډول ډول ځوابونه جوړول.
خبیر دوی یو نیم کال په پېښور کې پاتې شول. بیا یې دوکان خرڅ کړ او له ټولې کورنۍ سره لندن ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم د کار و بار چل یو څه زده کړی و. په کارخانو کې یې شو کېس (ویټرین) درلود. بټوې، لاسي څراغونه، چینایي راډیوګانې او نور واړه برقي شیان یې خرڅول.
په نوتیه کې یې یو کور کرایه کړی و چې درې کوټې او دوه تشنابونه یې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳-۳. د کلي حال

په هماغه ورځ چې ابراهیم دوی د پېښور خوا ته راغلل، جمال کلي ته لاړ او بیا یې حال نه شو معلوم چې څه یې وکړل.
ابراهیم یوه ورځ په کارخانو کې یو کلیوال ولید ، د هغه په لاس یې جمال ته خط ولېږه، د کور او دوکانګي ادرسونه یې ورته ولیکل خو ځواب یې رانه غی.
د خط تر لېږلو څو اوونۍ وروسته ابراهیم د خپل شو کېس شا ته ناست و چې سترګې یې د جمال پر اولادونو ولګېدې. دوی له خپلې مور او یوه تربور سره وو ، ټول سپېره مخونه، چپلکې په پښو ، خیرنې جامې، ببر ویښتان.
ابراهیم د جمال پوښتنه وکړه.
چا ځواب ورنه کړ.
د ماشومانو په سترګو کې اوښکې ورغړېدې، د مور یې سونګا شوه.
ابراهیم ژر ژر شو کېس بند کړ.
مخامخ دوکاندار ته یې وویل: ما ته مېلمانه راغلي، زه به لاړ شم. که تکلیف نه وي، بیا دغه شو کېس دننه که.
ټکسي یې ونیوه، دوی یې کور ته بوتلل.
جمال مړ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشې د غريو او ژړاوو په منځ منځ کې کيسه وکړه: کاشکې يې د تا منلي واى. کلى نه و، غم و. اول سر کې چې لاړو، په محکمه باندې دعوا وه. ترونو يې حق نه ورکاوه چې پلار دې خلقي و، په ميراث کې حق نه لري.

دى ورته رټې شو چې که شريعت راسره کوئ که نرخ او رواج، زه درته ولاړ يم.

په يو شوا خون يې خپله محکمه وکتله.

نه يې شپه مالومه وه نه يې ورځ، درګرده به لګيا و، د محکمې کار به يې کاوه.

دوه کوټې يې جوړې کړې، په يوازې سر.

ما به ورسره خټه جوړوله، ماشومانو به په خټه باندې ختل. بيا به دى د دېواله په سر و، ما به په بېلچه خټه بېلوله، ماشومانو به لاس په لاس ورته رسوله.

د کابله راوړې پيسې ټولې د ټېکټر په کرايې لاړې. هره غرمه مو خوراک تروې وې. خپله غوا مو نه وه، هلکانو به د بل کلي نه راوړلې.

يو څو دانې چرګې مې ساتلې وې، هګۍ به مو په نوبت سره خوړلې. غنم مو چې وربېل، د چاى ګوړې پيسې پيدا شوې. بل فصل ته مو مې او جوار کرلي وو. نوې مو ګوزاره يو څه سمه شوې وه چې ظالمانو وويشت.

ژړا نورو خبرو ته پرې نه ښوده.

ببو، زرمينې او معصومې ټولو ورسره ژړل.

ابراهيم سر پر زنګانه ايښى و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلو شي چي زړه په ژړا تش کړ، بیا یې کیسه شروع کړه: خدای دې
یې تباه برباد کي. کاپر به داسې ظلم چا سره نه کي لکه دوی چې د
مونږ سره وکو.
دا شپږ میاشتې مو په محکمه دعوا وه. د مشرتره زوی یې د عربو
نه راغلی و، هغه گل ولي خان یې چې بولي. حاجي نه و، تیار
شیطان و.
چې ځنگه راورسېد، په دویمه ورځ یې دعوا شروع کړه. دغه شپږ
میاشتې مو د زړه وینې ورسره خوړلې. چې دا درېیمان شول، دا د
خلات پیسې شوې، چې هله ورته چرگ حلال که.
درېیمان راسره ستړي شول؛ خو دوی خدای شرمولي یوه نه منله.
یوه ورځ جمال بېلچه راواخیسته، له کوره ووت چې په پولو کې د
مړو سوړې پټې کړې. چې گوري گل ولي خان لگیا دی پوله
ړنگوي. چې ولې؟
ویل یې: که دومره رټې یې خو منع مې کړه.
جمال پرې ورمنډه کړه، بېلچه یې ورته ونیوه. ښه یې وډباوه.
هغه بې غیرت د کور خوا ته منډه کړه.
چې بېرته راووت ماشین یې په لاس کې و.
اخ چې زما په مخ کې خو یې نه وای ویشتلای.
بیا یې ژړا زور واخیست.
د جمال اولادونو هم دا وار په زوره وژړل.
ابراهیم د هغوی په سر باندې لاس ورتېر کړ خو خبرې یې نه شوې
کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو د پلوشې سر په سينې پورې ولګاوه. څټ يې ورو سولاوه خو د خپلو اوښکو مخه يې هم نه شوه نيولای.
پلوشې اوښکې پاکې کړې، ويې ويل: ما ځان ورورساوه.
همدومره يې له خولې ووتل چې ابراييم.
دغه يې آخري خبره وه.
زه پويه نه شومه چې مطلب يې څه و خو ستا نوم يې ياد کړ.
وروسته مې په زړه کې راتېر شول چې زړه يې وو راته ووايي چې ابراييم ته به ځئ.
ابراهيم يوه کوټه دوی ته ورکړه.
د جمال ماشومان يې د مهاجرو مکتب کې شامل کړل.
مشر زوی يې کور ته نژدې د آيس کريم په يوه دوکان کې شاګرد کړ چې له مکتبه وروسته کار وکړي.
معصومې به په کور کې خياطي کوله. موسسې به رخت، تار او ستن او مشکنې ورکولې، دې به د کتلاک له مخې د ختونو په غاړه او لستونو کې مشکنې، ستوري او زرتار ګنډل.
دغه کار يې پلوشې ته هم ورزده کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## ۴-۱. مرکه

ذبیح او لیمې کټ کټ وخندل.
ببو شاوخوا ته وکتل.
د لمسیانو سترګې په دې پورې ګنډلې وې.
مخ باندې یې لاس تېر کړ.
ګوته یې پر پزې وموښله.
خپلو جامو ته یې هم وکتل.
په تندي کې یې ګونځې پیدا شوې. ویې ویل: څه خبره ده؟ په ما پورې خاندئ؟
ذبیح له خندا په ډکه خوله وویل: خود.
ـ ولې په ما څه شوي دي؟
ـ ببو ته لګیا یې پخپل سر خاندې.
ـ زه؟
ـ او کنه. ها بله ورځ د بم همدا سې خندل. بیا مې مور عمه ته اشاره وکړه. هغوی درپورې وخندل خو د تا هېڅ ورته پام نه شو.
د رېبارانو په راتګ سره ببو خوشحاله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرون د هلک مور او خور له شفیقې سره د دوی کور ته ورغلې وې او سبا یې وعده وه چې بیا به ورځي.

زرمینې معصومې ته وویل: گوره، سبا ربیاران ستا لیدو ته راځي خو تر هغې چې ما درته نه وي ویلي، ځان به نه ورښکاره کوې.

ببو وویل: ولې؟

- هېڅ، بس همدا اسې. زه یې په چل پوهېږم.
- سمه ده، لورې. ته پوه شه او کار دې.

سبا سهار هغوی راغلل.

داخل ببو مور او لور ته ښه په ځیر وکتل.

د هلک مور په ونه ټیټه او په رنگ تور بخونه وه. سترگې یې د رانجو په زور ایله د لیدلو شوې وې. لنډ تندی یې له گونځو ډک و. د پزې بره برخه یې پیته او سپږمې یې ارتې او غټې وې. د ورېږ خولې دواړو خواوو ته یې گونځې داسې پرتې وې لکه اوبو ته چې ډبره ورواچوې او شاوخوا ته یې څپې پیدا شي.

راوتلې نرۍ زنه یې هغه جادوگرې ته ورته وه چې ببو له لمسیانو سره یو ځای په یوه کارتوني فلم کې لیدلې وه، هغه چې پر جارو به سپرېدله او په هوا کې به گرځېدله.

د هغې لور فاطمه هم نوره هماغه شی وه خو په ونه یو څه دنگه او مخ یې یو څه ښوی و. په عمر پخه ښکارېده.

د ببو په اټکل تر پنځه دېرشو به پورته وه.

په خبرو کې دواړه تېزې وې. د تلویزیون د هغو نطاقانو په څېر چې خبرونه به یې له یاده ویل او د ببو ماغزه به یې خوړل.

دواړو په وار سره د خپل کور او ژوند صفتونه رااخیستي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې خبرې فاطمې کولې. د خبرو پر وخت يې لاسونه ډېر خوځول، سترګه يې ټومبله، او يونيم ځل يې له خبرو سره خوله هم کږوله.

مجلس ګرم روان و چې زرمينې معصومه راوستله.

د پيالو پتنوس د معصومې په لاس کې و او چاينکه زرمينې اخيستې وه.

د معصومې يوازې سترګې او د پزې پورته نيمايي ښکارېدله. تور ځادر يې د ښي غوږ له پاسه راغلی، خوله او پزه يې پټه کړې او بېرته د کيڼ غوږ له پاسه تېر شوی و.

غټې سترګې يې په رانجو او ريملو لا ښايسته شوې وې او د پيکي پېچل شوي ويښته يې د وروځو سر ته راکښته شوي وو.

ان ببو ته هم تر دې مخکې دومره ښکلې نه وه ښکاره شوې.

معصومې له فاطمې او د هغې له مور سره د لاس روغبړ وکړ.

پيالې يې ورډکې کړې او د مېلمنو مخې ته يې کېښودې. پخپله د ببو څنګ ته کېناسته.

يو ځل به يې ميلمنو ته کتل او بل ځل تر سترګو لاندې زرمينې ته.

د ميلمنو څو پوښتنو ته يې لنډ ځوابونه ورکړل او کله چې زرمينې ورته په سترګو کې اشاره وکړه، ولاړه شوه.

همدا چې معصومه له کوټې څخه ووته، فاطمه د مور په غوږ کې وپسېده.

مور يې هم په کراره کوم څه ورته وويل.

هغه خندنۍ شوه، ويې ويل: ښه نو زموږ خولې به کله راخوږې کئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ببو زړه په درزا شو. د تندي او د مخ ګونځې يې کمې شوې خو هڅه يې وکړه چې خپله خوشحالي پټه کړي. شونډې يې په زوره سره راټولې کړې، ويې ويل: خورې دا خو د ژوند ماميله ده. د يوې دوو ورځو خبره نه ده. موږ،م خپل پردي لرو. دا سې ژر چېرته کېږي.

زرمينه په خبرو کې ورولوېده: ببو ! دا خوارکيانې ولې ځوروې. ان له کومه ځايه راغلې دي.

ببو په لړزانده غږ وويل: لورې، يو پوښتنه موښتنه خو به موږم کوو.

د هلک مور په بېړه وويل: زر وارې خو پوښتنه وکړ.

فاطمه يې خبره ورپوره کړه: موږ ټول کلي پېژني. چې له هر چا د سيدانو پوښتنه وکړ، درته وبه وايي چې څه رقم خلک دي.

ببو هغوی تر بلې جمعې رخصت کړې خو پخپله يې ځان سره کرل ربېل چې د معصومې واده به څنګه وي؟ په دې پردي وطن کې به ځوک واده ته خبروي؟ جهيز به څنګه ورکوي؟ او سل خبرې نورې.

دغه خوشحالي له سلو اندېښنو سره مله وه. سړی ريښتيا ښه سړی دی؟ څه چې زرمينې او شفيقې ويل، ريښتيا به وي؟ که هغه صفتونه چې دوی يې کوي، ريښتيا وخېژي خو بيا يې ګټه کړې ده.

يو ځل يې معصومې ته وويل چې وه نجلۍ ته په کې څه وايې؟ وايي چې سړی بېسواده دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معصومې په بېړه ځواب ورکړ: ورور مې چې مکتب ویلی، څه گټه یې کړې ده؟ مکتب یې څه په درد ولگېد؟ هرڅومره خواري چې کوي یوه یې نه دوه کېږي.

ببو هغې ته نور څه ونه ویل خو ابراهیم ته یې دومره وویل چې د سړي سم مالومات وکړي چې څه رقم خلک دي.

ابراهیم وویل: ښه وایې خو ترکابله څنگه لاړ شم؟

- همدلته به څوک پیدا نه شي چې دوی وپېژني؟

- زه به یې وگورم.

بله ورځ یې ببو ته حال ته ورکړ: یو سړی مې په صدر کې پیدا کړ، د ریشخور دی. ده وویل چې سیدان روغ خلک دي. نور نو خدای پوهېږي او کار یې.

د دوی کور ته د شفیقې تگ راتگ ډېر شوی و. مېړه یې هم وخت نا وخت سر ورجوتاوه. هغه د خپل کلیوال په صفتونو نه مړېده.

د ببو زړه ته د پلوشې خبرې لویه اندېښنه وراچولې وه. هغې ویلي وو چې که دا سړی دومره ښه سړی دی نو ولې زرمینه او شفیقه خپله پېغله خور نه ورکوي چې د معصومې کوښښ ورته کوي؟

ببو دا خبره معصومې ته هم وکړه خو هغې وویل: ببو خبره دې تا سره وي. خپلې خور ته یې په لنډن کې یو سړی لیدلی. وایي ښې پیسې لري.

ببو زړه نا زړه وه خو د معصومې عمر ته او دې خرابې وضعې ته چې به یې وکتل، همدا یې خپله پرده گڼله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله اوونۍ یې له فاطمې څخه د ورور عکس وغوښت.
هغې په خندا وویل: ببو په عکس باندې یې څه کوې؟ پخپله تیار راغلی، په کوټه کې ولاړ دی.
ببو ابراهیم ورپسې ولېږه چې کور ته یې راولي.
هغوی چې راغلل، ببو او زرمینې د کوټې په پردو کې چوله جوړه کړه او معصومې د پخلنځي له نیم کښې دروازې ورته وکتل.
سړی دومره بد نه و. د ځلو ښت کالو به و. دنگ، هډور سړی و. سپینه خولۍ یې نیم سر پټ کړی وو او د خولۍ له شاو خوا تک تور ځلېدونکي ویښته راوتلي وو. د ویښتانو څټ او ږیره یې پاکه خرېیلې وه. داسې ښکارېده چې همدا اوس به د نایي له دوکانه راوتلی وي. د اوږده مخ پلنې ژامې یې له ډبلو برېتونو او لوړې پوزې سره د نارینه هیبت کیسه کوله.
همدغه شی د ببو خوښ و.
هغې به ویل چې نارینه باید هیبت ولري.
د سید عثمان خړې سترگې یو څه وړې او په خپلو کاسو کې ننوتلې وې او د غومبرو له راوتلو هډوکو سره یې چندانې ښې نه برېښېدې.
خو ببو په دې خبرو پسې دومره نه گرځېده او ویل به یې چې نارینه عیب نه لري.
د ټولو سلا په همدې شوه چې دوستي به ورسره کوي.
په بله جمعه کې یې هغوی ته دسمال ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو جهېز ته حیرانه وه چې څنګه یې ورپوره کړي؟ په دوی کې خو د ولور رواج هم نه و او زوم والا هم په دسمال کې ایله پنځه زره کلداري ایښې وې.
هغې خپله له موړه لوېدلې د سروزرو ګوته ابراهیم ته ورکړه چې خرڅه یې کړي.
په پیسو یې د معصومې د جهېز لپاره یو څه لوښي موښي واخیستل.
د معصومې له کوژدې تر واده پورې درې میاشتې دومره ژر تېرې شوې لکه درې ورځې. خو تر واده وروسته هره ورځ کال غوندې وه.
معصومه یې څنې بوتله.
دوی په پېښور کې پاتې شول او معصومه یې کابل ته بوتله.
ابراهیم او زرمینه ورسره لاړل. ماشومان ببو ته پاتې شول.
ابراهیم او زرمینه په دریمه ورځ بېرته راغلل.
سړی خوشحاله و خو زرمینې د زوم د کور ډېر صفتونه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## ۵-۱. نوی ژوند

معصومه د ښکلي تخت د پاسه پر بخملي توشکه پرته وه. تخت ته مخامخ د سینګار پر مېز باندې د سره مرسل د ګلانو ګېډۍ او د سینګار ډول ډول سامانونه ایښي وو.

هغـه راپاڅېـده. ګلانـو تـه یـې پـزه ورنـژدې کـړه، لویـه سـاه یـې واخیسته.

په هېنداره کې یې ځان ته وکتل.

پر غوږنو اننګو یې ګوتې تېرې کړې.

یو څه حیرانه شوه ځکه غاښونه یې تر پخوا کوچني شوي وو او لکه په لاس چې دې پېیلي وي، سره برابر وو.

شونډې یې هم تر پخوا نرۍ شوې وې.

یو وار یې ځان سره ویل چې زه بدله شوې یمه او بیا یې په زړه کې وګرځېدل چې نه زه له پخوا همداسې ومه.

یوه لاس ورته په ګیلاس کې د انارو شربت مخې ته کېښود.

دې ښي لوري ته وکتل.

ګلداره ښیښه یې جګ یې د مېږه په لاس کې و.

هغه ورتـه موسـکۍ شـو او بیـا یـې د نـاکو، مڼو، کېلـو او انګـورو څخه ډکه غورۍ مخې ته ورکېښوده.

ښه شېبه دواړو په ټوکو او خنداوو مېوې خوړلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخر کې سید عثمان ورته یوه دانه کېله سپینه کړه.
د دې خولې ته یې ونیوه.
په مینه یې ورباندې غږونه کول: معصومې، معصومه ګلې! دغه یوه دانه بله وخوره، نوره دې نه ځوروم.
خو دا مړه شوې وه.
په لاس باندې یې کېله پورې وهله.
مخ یې بلې خوا ته ګرځولی و.
څنې یې پر مخ باندې خورې وې.
په نخرو یې ویل: نه، نه، بس دی. نه یې خورم.
خو مېړه یې همدا غږونه کول چې معصومې، وه معصومې!
غږونه وار په وار په زوره کېدل او د چیغو بڼه یې راخپلوله.
د وره په درشل راوپیښه شوه.
خوابښې یې چیغې وهلې: معصومې! تا ته وایم، وه د خان صایب لورې! ترکله به خوبونه کوې؟ پاڅه تنور ولګوه. ډوډۍ پخه که چې مازدیګر شو.
معصومې سترګې وموښلې.
په ښۍ پوښتیو او په نس باندې یې درد و.
هغه پر وچ کلک تغر باندې ویده شوې وه.
خوابښې یې توشکې ورڅخه اخیستې وې چې تا ولې په جهېز کې درسره بستره نه ده راوړې.
کولمې یې تاوېدې، ان سهار یې یوه ټوټه وچه ډوډۍ خوړلې وه، بیا یې تر اوسه په څه شي څکه هم نه وه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاطمې ډوډۍ پرې درولې وه چې ولې بچي نه راوړې؟ شنډې غوا ته چا وابنه ورکړي دي؟ د ډوډۍ صندوق ته يې قلف وراچولی و.
معصومه په سختۍ راپاڅېده.
خپل ډنګر بدن ورباندې درونډ و.
د انګړ په ګوټ کې يې تناره ته ځان ورساوه.
بوټي يې پکې ورواچول، خړ، تراخه لوګي راپورته شول.
د معصومې له سترګو د اوښکو څاڅکي راوبهېدل، د غومبرو له راوتلو هډوکو يې تېر شول او په ګونځې ګونځې سپېره مخ کې يې لارې جوړې کړې.
څو شېبې وروسته د دې لوګيو ځای يو بل ډول تکو تورو غوړو لوګيو ونيو. د رابړ د سوځېدلو بوی هوا کې خور و.
په تناره کې زاړه بوټان سوځېدل.
ډوډۍ يې چې له تناره څخه راوابستلې، فاطمه راغله.
شګور يې ورپورته کړ او ويې ويل: وه خړمبنې ! چې بيا دې چايجوش هېر نه شي. تناره ته به يې کوزوې.
معصومې د سوالګرو په شان لاس وراوږد کړ: وږې يمه.
فاطمې د يوې ډوډۍ سوځېدلې څنډه ماته کړه او د اسې يې د هغې مخې ته ګوزار کړه لکه سپي ته چې يې واچوي.
***
د وره له خلاصېدو سره کوټې ته د لانټين ژېړه رڼا ورننوته.
معصومې پورته وکتل، لانټين د سيد عثمان په لاس کې و.
زړه يې په درزا شو.
پروني دردونه يې ورياد شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښې او لاسونه يې راټول کړل.
د کوټې کونج ته يې ځان وښکاوه.
د سرې اوږده او غښتلي لاسونه يې کمڅيو ته ورولوېدل.
د معصومې چيغه پورته شوه: د خدای لپاره، څه مې کړي دي؟
گناه خو مې راوښه
د مېږه لغته يې پر چپ تشي برابره شوه او خبره يې ورپرې کړه.
ژړا، انگولا، زاری، او د لغتو او سوکان دربا په گډه سره کوټه په سر واخيسته.
څو شېبې وروسته د خوابنې غږ معصومه له وهلو خلاصه کړه:
زويه بس يې دی، ولې ځان پرې ستړی کوې. هسې له دې خرې سره دې ماغزه خورې.
سيد عثمان چې ساه يې بنده بنده کېده او ستمی يې خوت، له کوټې څخه د راوتو په حال کې وويل:
وه د سپي لورې...که بيا دې... د غرمې خوبونه... کړي وو... زه به درسره جوړ شم.
سيد عثمان هر شپه په جلا کوټه کې څملاسته.
دې ته يوازې هغه وخت ورجوتېده چې خور يا مور به يې ورته شکايت کړی و او د دې وهل به حتمي وو.
معصومې ته ببو وريادہ شوه.
په زړه کې يې وگرځېدل چې کاشکې ببو يو ځل راغلې وای.
خو ژر له خپلې هيلې پښيمانه شوه.
وريـاد يـې شـول چـې دوې مياشـتې مخکـې چـې ببـو ورغلـې وه، خوابنـې او ننـدرور يـې ورسـره څنگـه چلنـد کـړی و. اول خـو يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوابښې له خپل بکس څخه دې ته صابون ورکړ چې مخ او لاس وربانديې پرې مينځي او د يوې مياشتې خيره په يو وار صابون وهلو پاکه کړي. بيا يې بل بکس ته کونجي واچوله. د دې پاکې جامې يې ورکړې او په غوږ کې يې ورته وويل: که دې مور ته حال ويلي وو ، بيا به دې گيله له ځانه وي.

اوږده شېبه وروسته ببو پوښتنه وکړه چې معصومه چېرته ده؟ فاطمې ورته وويل چې هغه تر اوسه وېده وه. همدا اوس راوېښه شوه. مخ لاس مينځي، رابه شي.

معصومه هغه وخت دومره خواره نه وه لکه اوس خو بيا هم ببو ورنه ځو ځلي پوښتنه کړې وه چې ولې دومره ډنگره شوې يې؟ ناجوړه خو به نه يې؟

خو دې ورته ويلي وو: نه، زه بيخي جوړه يم. هسې مې تاسو ته اندېښنه وي چې څنگه به يئ. نوره هېڅ خبره نشته.

په هغه ورځ څو شېبې د ببو په څنګ کې کېناسته. د ورور او کورنۍ د حال پوښتنه يې وکړه. خو خوابښې ورته سترگه وټومبله او دا جگه شوه.

چې د غرمې ډوډۍ يې تياروله، د خوابښې پيغورونه يې واورېدل چې ببو ته يې ويل: زوی مې خوارکی له ملابانگه تر ماښامه خواري کوي خو ټولې پيسې ستا د لور په دواگانو ځي. بيا کاشکې کومه گټه خو وکي. له اولاده خو يې تمه ختلې ده. بيا په ژړا سر شوه له ژړا سره يې وويل: زما قسمت خوار دی. زړه بوډۍ مې د خوارکي زوی په نصيب شوه. نه يې اولاد کېږي، نه يې د کورکار زده، نه کومه قواره لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو هېڅ ونه ویل.
ډوډۍ ته یې لاس نه ورغځېده. لکه ډوډۍ چې دا خوري.
په دوو دریو شخوندونو مړه شوه.
پلمه یې دا وه چې فشار یې لوړ دی، ډاکترانو له ډېر خوراکه منع کړې ده.
دسترخوان چې ټول شو، هغه ولاړه شوه.
چای ته نشوه تمه.
ویل یې چې د کوم چا دوعا ته ځي. د خدای پامانۍ په وخت کې یې د معصومې په غوږ کې وویل: لورې اوسېله وکه.
ببو چې لاړه، دا په ژړا شوه.
خوابښې ته یې وویل: زه خو مو هرڅه په چوپه خوله تېروم، اوس مو ببو ته هم ملا تړلې ده.
خوابښې ورته هېڅ غږ ونه کړ. خو بېگاه چې یې زوی راغی، یو دم یې په ژړا پیل وکړ: وه خدایه، زه دې همدې ورځې ته ساتلې ومه؟ په څه خوارۍ مې زوی رالوی کو. واده مې ورته وکو چې یو څو شپې ارام وکم خو دا.
سید عثمان یې په خبرو کې ورولوېد: څه خبره ده؟ بیا یې څه کړي دي؟
مور یې د نیالۍ لاندې لاس تېر کړ. دوه ټوټې قات قات کاغذونه یې راوایستل او زوی ته یې ونیول.
- دا څه شی دي؟
مور یې د څادر په پیڅکه باندې اوښکې وچې کړې. پزه یې پورته کش کړه، ویې ویل: څابښت دي. ټوله خبره په همدې کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ سم مې پوی که، خبره څه ده؟

ـ نن يې هاغه جادوګره ببو راغلې وه. دا ښاښتونه يې دې ته راوړي وو چې په تا يې وخوري. چې د تا زړه له موږه تور کې.

معصومه يې په خبره کې ورولوېده: دروغ ولې وايې؟

د خوانښې ژړا لـه سره زور واخيست: ودې ليدل؟ ستا پـه مخ کې راته دروغجن وايي، چې تـه نـه يې څه څه بـه راتـه وايـي؟ تـه څه خبر يې وه زويه.

بيا د ببلچې لاستى و او د معصومې ولي، ملا ، سر او پښې.

د دې خاطرې په پای کې د معصومې سترګې درنې شوې او خوب يوړه.

خوب يوازينى شى و چې د معصومې هيلې يې ورپوره کولې. ښـه خواړه، روغ بدن، ښکلا او خوشحالي دا ټول يوازې پـه خوب کې ورتـه رسېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲-۵. نوې ګوتمۍ

ابراهيم د زرمينې په ګوته کې د نوې ګوتمۍ په لېدو سودايي غوندې و. دا يې له کومه کړې؟ زه څنګه پرې نه يم خبر؟ له دوکانه يې پېټه کړې ده؟ نقلي خو به نه وي؟ کېدای شي د سرو زرو نه وي، هسې به نورو ته ځان ښيي. يا کېدای شي له خپلې ورېندارې يې امانت اخيستې وي. دغو فکرونو د ابراهيم چورت خراب کړی و.

په دې تمه و چې کارونه ژر سره خلاص شي. خلک خپلو کورونو ته لاړ شي او دی له کيسې خبر شي.

هغه د معصومې د واده په ورځ دغه ګوتمۍ ولېده او ماښام چې د واده له جنجاله خلاص شو، له زرمينې سره يې اوله خبره همدا وه:

وه ښځې دا ګوتمۍ دې له کومه کړې؟

زرمينې د ښي لاس په غټه او بټه ګوتو د کيڼ لاس په منځوۍ ګوته کې ګوتمۍ تاو راتاوه کړه، په نخره يې وويل: دا خو مې لالا له لندنه رالېږلې وه.

ابراهيم خپل ښی لاس وراوږد کړ: ته را.

ښځې نوې ګوتمۍ راوايسته او د مېړه په ورغوي کې يې کېښوده.

سړي د ګوتې له ډنډره ونيوه. سترګو ته يې پورته کړه. د ډنډر د ننه خواکې يې ۲۱ نمبر ته وکتل. بيا يې په ورغوي باندې کېښوده. يو دوه وارې يې سوکه سوکه پورته وغورځوله او بيا يې وويل: امم، عربي ده. ښه درنه خو ښکارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ څلور نیم ګیرامه ده؟
ـ ته څه پوی شوې؟
ـ هغه، کبیر، کبیر راته وویل.
ـ ښه نو دا یې کله رالیږلې وه؟
ـ ان هغه وخت چې خبیر لالا مې لا دلته و.
ـ ښه، نو تر اوسه دې ولې نه وه راښودلې؟
ـ هیڅ، همداسې. ما ویل چې رانه وایې نخلې. چې خرڅه یې نه کې.
ـ غلې شه ! کم عقلې.
له هغې خبرې میاشتې تېرې شوې.
بله ورځ یې له خبیر سره په ټیلفون کې خبره یاده کړه چې لالا دې هغه ګوتمۍ په لندن کې اخیستې وه که یې پیسې درلیږلې وې او تا دلته واخیسته؟
خبیر له ګوتمۍ بیخي ناخبره و. هغه وویل چې ما خو چا ته ګوتمۍ نه ده راوړې.
د ابراهیم سودا ورځ تر بلې زیاتېدله خو چا ته یې غږ نه کاوه.
د معصومې د واده دریمه چې تېره شوه نو زرمینې به هڅه کوله چې خپل مېړه او خوابنې د هغې کورته له تګ څخه منع کړي.
همدا به یې ویل چې څه یې کوئ؟ شکر ارامه ده.
سید عثمان شاه هم په دې پنځو میاشتو کې یوازې یو وار پېښور ته راغلی و، هغه هم یوازې. بهانه یې دا وه چې د کور کارونه ډېر دي، مور یې ناروغه ده او معصومه ایله د کور کارونه سمبال کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو هم چې يو ځل د معصومې لېدو ته ورغلې وه، ويل به يې چې شكر ارامه ده خو ابراهيم د هغې په څېره کې خپګان لېده.
ځو واري يې زرمينې تـه هم دا خبره وکړه خو هغـې بـه ويـل: د ببو خوارکۍ خو همدا يوه لور وه. خامخا به ورپسې خپه کېږي.
هغه چې به له ببو پوښتنه وکړه، د هغې ځواب هم همدا شی و.
پس له پنځو مياشتو يې يوه ورځ ببو ته وويل: ډېرې شپې وشوې چې د معصومې پوښتنه دې نه ده کړې. دا ځو شپې يې سر په سر په خوب کې وينم. ما وې که يو ځل تللې وای.
ببو سوړ اسويلی وکيښ، ويې ويـل: هو زويه، زما زړه هم ورتـه تنگ دی خو څه وکم مجبوري ده.
ـ د څه شي مجبوري؟ ته خو چا نه يې منع کړې. وايم چې هر وخت دې زړه وي، ورځه.
ـ نه زويه تا خو نه يمه منع کړې. خو
ببو غلې شوه.
ـ ولې خبره ژوبې؟ زرمينې خو به درته څه نه وي ويلي؟
ـ نـه بچيـه. دې څـه نـه دي ويلـي خـو د معصـومې خوابنـې او نندرور ډېر خراب خلک دي. زه چې ورغلې ومـه، پيغـور يې راکړ چې لور تـه دې سم جهيز نه و کړی، کار يې نه زده، اولاد يې نه کېږي...
ببو خپلې اوښکې د پوړني په پيڅکه وچې کړې. پـه ژړغـوني غږ يې وويل: وايي چې لور دې شنډه ده، زړه ده.
ابراهيم وويل: دا څه وايي؟ نو ولې دې ما تـه نه ويـل؟ پـه زوره خو مو نه ده ورکړې، پخپله ورپسې راغلي وو. دله خلک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا ته ابراهیم له غټو کڅوړو سره کور ته راغی. ببو ته یې کړه: سبا وختي به له خیره ځم.
خړ مازدیګر یې د سید عثمان د کور ور وټکاوه.
د معصومې خوابنې ور ته دروازه خلاصه کړه.
دی چې انګړ ته ورننوت، ښي لاس ته یې یوه ډنګره خوارنجوکې ښځه ولیده چې اورلړونی په لاس د لوګیو په منځ کې د تناره سر ته ناسته ده.
ګومان یې وکړ چې کومه پردۍ ده.
سر یې ټیټ کړ او د کوټو خوا ته روان شو.
خو له هغې خوا یې د معصومې غږ له ژړا سره واورېد: اخ، لالا جانه ! خوب خو به نه وینم؟ ته په رېښتیا راغلی یې؟
هغه مخ ورواړاوه.
غږ د معصومې و خو څېښتنه یې بدله ښکارېدله.
ښه ورته ځیر شو.
نه، سترګې خو یې هماغه وې. خو ډېرې ننوتلې، تر سترګو یې توره کړۍ راتاوه شوې وه. د مخ پر راوتلو هډوکو یې ګونځې ګونځې تور پوستکی لکه یخ وهلي بانجان پروت و. ان غاښونه یې هم د پوستکي لاندې شمېرل کېدل. د تندي ګونځې یې عمر دوه چنده زیات ښوده.
د مرۍ دوو خواو ته یې دوې پلې لکه د رنګې کېږدۍ لرګي په ځان پورې ګونځې ګونځې پوستکی پورته نیولی و او له ساه اخیستلو سره کښته پورته کېدې. هغې ځان د ورور غېږې ته واچاوه او ښه اوږده شېبه یې وژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورور په سترگو کې هم اوښکې راټولې وې خو مناسب ځای ته
یې کتلې چې راوبهېږي.
د معصومې خوابښې داسې غلې ولاړه وه چې ته وا ساه پکې
نشته.
نور نو د معصومې د صبر کاسه ډکه شوې وه.
لالا ته یې ښه زړه تش کړ.
د ټولو ظلمونو کیسې یې ورته وکړې.
د هغې له هرې کیسې سره د ابراهیم د اوښکو یوه لړۍ گرېوان ته
رهي کېدله او د هغه د تودې سینې په ویښتانو کې ورکېدله.
کله چې دی راولاړ شو ، معصومه یې پښو ته ورولوېده چې زه
نوره دلته نه شم کېناستی. ما هم درسره بوځه.
ابراهیم هغه دلاسه کړه: یو دوه درې ورځې نوره هم صبر وکه. زه به
د سپین ږیرو جرگه راولم. که داسې پخپل سر کور پرېږدې نو بیا
به مو خلک گرموي.
ـ لالا د خلکو په خبرو پسې مه گرځه. ما درسره بوځه که نه نو
دوی به مې ووژني. ما ته یې اخطار راکړی و چې چا ته به حال نه
وایې.
ابراهیم غرېلوړ کړ چې ټول یې واوري: کوم د نر زوی به وي چې په
تا لاس پورته کې.
مخ یې د خور خوابښې ته کړ: اې ! تاسو ته وایم. ها بې غیرته زوی
ته به دې وایې چې که د معصومې د سر یو ویښته کم شو نو بیا به
زه ورسره جوړېږم. بس دي همدومره ظلمونه مو چې کړي دي،
همدا مو بس دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳-۵. رسوایي

زرمینې په زړه کې خدای خدای کول چې ابراهیم دې په هرڅه پوه شوی نه وي. ځمکې ځای نه ورکاوه. کله به پخلنځي ته تله او کله چوترې ته.

ببو ته یې هم خپله اندېښنه نه شوه ویلای.

همدا چې د کوم بچي غږ به یې واورېد، د لیونیانو غوندې به یې چیغه کړه: غلي شئ!

ماشومان یې څو څو وارې پر همدې ووهل چې ولې شور کوئ.

سر یې تود و. ماغزه یې کار نه کاوه. ساه کښل هم ورته ګران وو. په ستوني کې یې د کومې غوټې احساس کاوه. هر ځل چې به د سرای دروازه لرې شوه، د دې زړه به په ټکان شو.

ماښام نژدې و چې مېړه یې په دروازې راننوت. رنګ یې تور اوښتی و او شونډې یې وچې کلکې وې.

زرمینې ځان په پخلنځي کې پټ کړ.

هغه چې کوټې ته ورننوت، د چایو پتنوس یې واخیست او په رېږدېدلو ګامونو کوټې خوا ته روانه شوه.

د کوټې له دروازې سره پښه نیولې شوه.

د ذبیح او لیمې غږونه یې واورېدل چې پلار ته یې ویل: پلاره! نور چې هرچېرته ځې، موږ م درسره بوځه. چې ته نه یې مور مو وهي.

زرمینې د کوټې د وره پرده د ښي لاس په څنګل ببرته کړه.

سلام یې واچاوه خو چا ورته علیک ونه وایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېره يې لا زياته شوه.
پتنوس يې د مېږه مخې ته کېښود.
پياله يې کنګاله کړه او کنګالي ته يې تشه کړه.
لا يې پياله پر نالبکۍ نه وه ايښې چې د ابراهيم لاس وروغځېد.
د دې ګوتې يې ټينګې کړې.
ځان خوا ته يې وروښکوله.
نژدې پر پتنوس لوېدلې وه.
د مېږه سترګو ته يې وکتل.
په سرو سترګو کې يې غضب لمبې وهلې.
هغه په کراره خو د ريشخند په ژبه وويل: ښه نو دا ګوتمۍ دې لالا
درته راليږلې وه، هه؟
د ببو او لمسيو خولې وازې پاتې وې.
يوه هم څه نه ويل.
زرمينه غلې وه.
ـ تا ته وايم. خبرې وکه.
زرمينې ځمکې ته کتل.
شړک شو. مخ يې تود شو.
د ابراهيم څپېړه يې پر سپين مخ باندې سرې ليکې وايستې.
چيغه يې کړه: ببو ! هله چې وهي مې.
د ابراهيم غرږ ږ شو: اوهو، لا مې وهلې چېرته يې، ته ودره.
ورپسې جګ شو.
لغته يې ورته سيخه کړه.
يووار يې پر تشو باندې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببو ځان ور ورساوه.

د هغه لاس يې ټينګ ونيو.

د ېوال خوا ته يې پورې وواهه: وه زويه، څه خبره ده؟ شرم دی، خلک راباندې خبروې؟

هغه د ببو لاس په يوه ټکان پورې وواهه، ويې ويل: خبره له خلکو تېره ده. دې راته دروغ ويلي. ستا د لور ژوند يې ورتباه کړی.

بيا يې پر زرمينې د لغتو وارونه وکړل.

د هغې په چيغو د جمال مېرمن په منډه راورسېده.

زرمينه يې د کوټې په کونج کې کېنوله او پخپله يې هم څنګ ته کېناسته.

ببو ابراهيم خپل څنګ ته کېناوه.

ابراهيم سوړ اسويلی وکيښ. ژر ژر يې ساه کښله. پر شونډو يې ژبه تېره کړه، ويې ويل: ببو! دې مکارې مور ټول غولولي وو. پر معصومې سخت ظلم روان دی. مېړه يې يو قاتل انسان دی.

ببو په خبرو کې ورولوېده: دا څه وايې؟ څوک يې وژلي؟

ابراهيم زرمينې ته مخ وروا ړاوه: ووايه کنه، ته خو خبره وې.

د زرمينې سر کښته و. يوازې د سلګيو غږ يې راته.

مېړه يې وويل: تا خو راته ويلي وو چې سړی کونډ دی. ولې دې صفا خبره نه وه کړې چې ښځه يې پخپله وژلې ده؟

ببو وويل: خپله ښځه يې وژلې ده؟ دا څه وايې؟

ابراهيم زرمينې ته اشاره وکړه: دا بې شرفه په هر څه خبره وه. خو د يوې ګوتمۍ په خاطر يې له مور پټ کړې وو.

د زرمينې سلګو زور واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم ببو ته کړه: هغه ګوتمۍ، چې دې پدرنالتې ویل وړور یې له لنډنه ورته رالیږلې ده، هغه ورته عثمان خان اخیستې وه.
اوف چې وایم دا ګوته یې له ګوتمۍ سره ورغوځه کم.
زرمینې د ځادر له چولې نورو ته وکتل.
د ټولو سترګې د هغې خوا ته وې.
بیا یې ژړا ته زور ورکړ.
مېړه یې چیغه کړه: بس که مکارې ! اوس نو ژاړه مه ، داسې به کله رانه خلاصه شې.
د ښځې ژړا بیا په سلګیو بدله شوه.
سړي خپله خبره پسې وغځوله: عثمان خپله ښځه په دې وژلې وه چې اولاد یې نه کېده. هغې کومه ورځ ورته ویلي وو چې تاوان په تا کې دی، ته کمزوری یې. همدې سره یې هغه تر مرګه پورې وهلې وه. هغه وخت دی په کوم تنظیم کې و. ښځه چې له اخه ټوخه لوېدلې وه، بیا یې په مرمۍ ویشتلې وه. اوس یې معصومه هم په وهلو وهلو مرګ ته رسولې ده. ببو ! د کاپر زړه به پرې وسوځي. ما خو په اول نظر بیخي ونه پېژندله. وچه کلکه، تیار لرګی ورنه جوړ دی.
د ببو غږ له ژړا سره پورته شو: څه خوار قسمت مې دی. یوه لورکۍ مې وه، هغه یې هم په ژوندون رانه بېله کړه. نه هغه راځي، نه زه ورتلی شم.
زوی یې وویل: ژاړه مه. په دې کې خو ته هم ګرمه یې. تا خو یې حال لیدلی و. ولې دې ما ته څه نه ویل؟ ته چې تللې وې، ما درنه پوښتنه وکړه چې خور مې څنګه وه؟ تا ویل چې بیخي شکر ښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژړا په منځ کې د ببو غږ واورېدل شو: څه به مې کړي وای، وه زویه! ما ویل که ته خبر شې او ښې ته به دې څه وواېي. د معصومې ژوند به لا پسې خراب شي. ما خو ځکه څه نه ویل.

پلوشې وویل: خیر اوس نو دا خبرې کومه ګټه نه لري. د چارې خبره وکئ چې څه وکو چې دا لانجه خلاصه شي.

ابراهیم پر تندي لاس کېښود. لویه ساه یې واخیسته، ویې ویل: زما خو ماغزه بیخي کار نه کیي. څه وکو؟ هېڅ نه پوهېږم.

پلوشه یوه شېبه غلې وه، بیا یې وویل: زه وایم که د سپین ږیرو جرګه راوبولو څنګه به وي؟

ابراهیم په دوو ګوتو د تندي پوستکي ته ګونځې ورکړې: زما زړه هم همدا سې ده. معصومې خو غوښتل چې هماغه ګړۍ راسره راشي خو ما وویل چې نه، دا خبره به په جرګې حل کوو. خو څوک راوبولو؟

ببو وویل: زویه، چلستون ته خو تللی وې، ګاونډیان بېرته راغلي وو که نه؟

- راغلي وو. ځینو بېرته خپل کورونه جوړ کړي.
- نو ورشه چلستون ته، هلته خو دې خلک پېژني. د جومات ملا، ملک، حاجي ولي مامد او هغه د شفیقې مېړه، هغوی خوم ریشخورو ته تللي دي کنه.

ابراهیم یې په خبره کې ورولوېد: بس، د هغه دووس نوم خو راته مه اخله. دا ټوله دووسي هماغه کړې ده.

یوه شېبه غلی شو. بیا یې وویل: نن یک شنبه ده؟ زه خو وایم چې تر جمعې پورې به ورشو. ریښتیا یو انډېوال مې ولید، ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې چې په طالبانو کې کسان پېژني. که خبره په جرګه نه شوه چې په حکومت يې خلاصه کو.

### ۴-۵. له بد نه بدتره

همدا چې ابراهيم له معصومې سره مخه ښه وکړه، د هغې په زړه کې وېره خوره شوه. په لړزاندو ګامونو يې د کوټې لاره لنډه کړه. ټول بدن يې رېږدېده. لکه يو لوی قمار يې چې وهلی وي، د سبا په اړه يې فکر کاوه. دغه فکر له اندېښنو او اميدونو ډک و. ځان به يې په څو ورځو کې ازاد ليده. د ورور په کور کې، د ببو په خوا کې، له وهلو ټکولو، لوږې او تندې څخه بېغمه ژوند. خو اندېښنه له دې چې خبره له بده بتره نه شي. که مېړه يې د جرګې خبره ونه مني؟ که هغوی وغولوي چې معصومه به نوره ښه ساتو خو وروسته يې بيا همدا حال وي؟ په شريعت کې خو د طلاق ورکولو حق د مېړه دی، که سيد عثمان دا طلاقه نه کړي، څنګه به شي؟

په همدې فکر کې و چې د وره د ټکولو غږ يې واورېد. کړکۍ ته ودرېده. خوابښې يې وليده چې د وره خوا ته روانه ده. له هغې خوا بېرته له خپل زوی سره راغله.

همدا چې دهلېز ته راننوتل، فاطمه په چيغو په ژړا شوه: وه ورور جانه ته چېرته وې؟ زما په سر کې خو يې يو تار ويښته پرې نه ښود.

معصومې د کوټې د وره له چولې وروکتل.

د فاطمې په ګوتو کې د ويښتو يوه غوټه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور يې هم په ژړا سر شوه.
معصومه حيرانه وه چې خبره څه ده؟
خوابښې يې څادر لـه سره ايسـته وغورځاوه. د ورمېـر پـه دواړو خواوو کې يې د نوکارې خراشې وې.
پـه ژړا يـې زوی تـه وويـل: نن د دې پـدرنالتې ورور راغلی و. مورې دواړه يې دومره ووهلو چې بيخي له پښو ولوېدو.
خپل ورمېـر تـه يـې گـوتې يـووړې: دا وگـوره، نژدې يې وژلې ومه. هسې خدای وساتلم که نه اوس به ته بې موره وې، وه شـيرينه زويه.
له دې خبرې سره يې ژړا ته نور هم زور ورکړ. ورسره د فـاطمې ژړا هم زور واخيست.
سـيد عثمـان لـه دهلېزه ووت. فـاطمې مـور تـه سترگه ووهلـه. دواړه موسکۍ شوې.
سيد عثمان د تبر لاستی په لاس په دهلېز راننوت.
د مور او لور ژړا بيا پيل شوه.
مـور يـې هغـه لـه لاسـه ونيـو: زويـه، څه يـې کـوې؟ کـه تـه دا پليتـه ووهې، بله ورځ به بيا خپل ورور ته شکايت وکي.
يوه شېبه يې وژړل، بيا يې وويل: دا وار به مورې ژوندۍ پرې نـه ږدي. دا وار به تام ووهي.
سيد عثمان غابښونه وچيچل: ته ما لـه هغـه وچموري ډاروې؟ اوس دې راشي، خپله خور دې رانه خلاصه کي.
معصومې د وره له شا زارۍ وکړې: دروغ وايي. والله کـه چا گـوتـه وروړې وي. خدای ته وگوره، د دوی خبره مه منه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید عثمان پرې برچ وهل: ته و دربړه، د سپي لورې !
د کوټې دروازې ته یې لاس کړ. ځان خوا ته یې زور وکړ.
له هغې خوا د معصومې بې غوښې ګوتې د وره پر زنځیر ټینګې وې.
دوارو زورونه وهل خو سید عثمان په یوه ټکان دروازه خلاصه کړه.
معصومه پړ مخې ولوېده.
لا یې سر نه و پورته کړی چې د سوټي ګوزارونه پرې شروع شول.
اول وار یې پر ملا باندې وشو. دا شا ته قات شوه او چیغه یې کړه.
وروسې پر ولو، ورنونو او پښو باندې یې سر په سر درانه وارونه وشول.
له هر وار سره د هغې چیغه اسمان ته پورته کېده. وی، الله، وخ، وه خدایه، وه مسلمانانو، هله چې مړه یې کړم، وی الله.
خو د سید عثمان سپکې سپورې د هغې تر چیغو تېزې وې.
هغې لاسونه سر ته نیولي وو چې سر له ګوزاره وساتي. خو، سوټی یې پر ګوتو ولګېد. همدا چې لاس یې ایسته کړ، بل وار یې پر سر باندې وخوړ، له چیغو ولوېده، بې سده شوه.
وخت ورته نه و معلوم خو د سپوږمۍ رڼا کوټه روښانه کړې وه چې په سد شوه. سر یې ځړیکې کولې.
ګوتې یې پر سر وموښلې. ویښتان یې په سر پورې کلک نښتي وو.
اندامونه یې بند په بند خوږېدل. ولاړه شوه خو سر وربانـدې وګرځېد. بېرته راولوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول بدن يې رېږدېده. غاښونه يې کړس کړس سره لګېدل. يخه هوا
يې پر بدن داسې لګېده لکه مالګه چې پر زخمونو ودوړوې.
ځان يې کړکۍ خوا ته وڅکاوه. انګړ ته يې وکتل.
د سپوږمۍ سپینه رڼا د لغړو ونو څانګې روښانه کړې وې. د انګړ
په ګوټ کې د منې تر زړې ونې لاندې د هغې غوښ شوي لوی لوی
ښاخونه دلۍ وو.
ځان ورته لکه ونې بې وسه ښکاره شو. هر بند يې جلا جلا خوږېده.
لاسونه يې د پښو په منځ کې کېښودل او په پښو باندې يې ټینګ
کړل. ورنونه يې په نس پورې لګولي وو.
د منې يخې هوا خوب ته نه پرېښوده. په کراره ولاړ شوه. په
لړزاندو ګوتو يې د کړکۍ پرده راخطا کړه. په پرده کې يې ځان
ونغښت. لاسونه يې پر متو وسولاوه. سر يې پر زنګانه کېښود او
پرده يې په سر باندې راکش کړه.
څو شېبې دغسې ناسته وه. کرار کرار يې بدن تود شو.
پاڅېده. په کړو په ملا تر وره پورې لاړه. ورو يې د وره دستګیر تاو
کړ. په کراره يې ټېله کړ. ور بند و.
بېرته د کړکۍ خوا ته لاړه.
څو شېبې يې انګړ ته وکتل.
الله اکبر، الله اکبر...
د آذان غږ راغی.
کېناسته.
آذان خلاص شو. د وره خوا ته لاړه. ساه يې ډوبه کړه. غوږ يې د وره
پر درې کېښود. هېڅ غږ و غوږ يې وانه ورېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو شېبې د غسې ولاړه وه. د بلې کوټې د وره د لرې کېدو غږ ته منتظره پاتې شوه خو هېڅ خبره نه وه.

بیا د کړکۍ خوا ته لاړه. کړکۍ یې خلاصه کړه. د چپراسونو ځیګروی پورته شو.

ځای په ځای ودرېده. مخ یې وره ته نیولی و. د چا غږ یې وانه ورېد.

د باندې خوا نه کړکۍ ته پلاستیک ټک وهل شوی و. په نرۍ ګوته یې پلاستیک سوری کړ.

ساه یې ډوبه کړه. د هېڅ شي غږ نه راته.

په پلاستیک کې یې ګوته ومنډه. پلاستیک یې وشکاوه. یوه پښه یې له کړکۍ تېره کړه، بیا بله پښه. لاسونه یې د کړکۍ په چوکاټ پورې ټینګ کړل. ځان یې ځوړند کړ. پښې یې له ځمکې یوه لوېشت پورته وې. ځان یې خطا کړ.

یوه شېبه غلې ودرېده.

د انګړ د دروازې خوا ته غلې غلې روانه شوه. په لاره کې یې ځو ځله د دهلېز خوا ته وکتل.

دروازې ته غټ قلف لوېدلی و.

د تناره خوا ته لاړه. زینه یې راواخیسته. د ېوال ته یې ودروله.

شا ته یې وکتل.

څوک نه و.

ژر ژر وختله. پر دېوال کېناسته. زینه یې په کراره راپورته کړه. له دېواله یې واړوله. کوڅې خوا ته یې ودروله. په زینو ورکښته شوه.

چې ځمکې ته ورسېده، زینه یې لرې کړه او له دېواله سره یې هواره کېښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې ته یې تش پتی و. پر پوله روانه شوه. کوټې ته ورسېده. یوه شېبه ځای پر ځای ودرېده. شا و خوا ته یې وکتل.
د کوټې له کړېلېچه یو سړی راښکاره شو چې په پټو کې یې ځان پېچلی و. سړی مخامخ د دې خوا ته راته. مړلانټین یې په لاس کې ځوړند نیولی و. قات شوی جای نماز یې پر اوږه پروت و.
معصومه د بواله ته جوخته روانه وه. سړي ته چې ورورسېده، په ټیټ غږ یې وویل: وروره، د خدای لپاره ما ته پناه راکه. له کوره تښتېدلې یمه. وژني مې.
سړی ودرېد. لاندې باندې وروکتل. ویې ویل: راځه.
سړي د مخامخ کور دروازې ته مخ واړاوه. له جېبه یې کیلي راوایسته. قلف یې خلاص او زنځیر یې بېرته کړ. ورو یې دروازه پرانیسته. معصومې ته اشاره وکړه چې راننوځه.
معصومه ورننوته. د دروازې شا ته ودرېده.
سړي ور پورې کړ. دا یې تر مټ ونیوه: راځه، په کور کې څوک نشته.
معصومې زړه نا زړه ورو ورو ګامونه واخیستل.
سړي د دهلېز د وره قلف ته کیلي ورواچوله. ور یې خلاص کړ.
دواړه ورننوتل.
معصومه یې وړوکې کوټې ته ورننه ایسته.
د کوټې په منځ کې بستره غوړېدلې او بړستن یې ګډه وډه پرته وه.
سړي وویل: راځه، پر دې توشکې کېنه.
بړستن یې پر پښو باندې ورواچوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخامخ ورته په ګونډو کېناست او د دې مخ ته يې وکتل: دا سترګه دې ولې پړسېدلې ده؟

- مېړه مې وهلې يمه.
- ولې؟
- بس نو. هر وخت مې وهي.
- خدای دې يې غرق کي. دا څه رقم انسان دی؟
- پوښتنه مه کوه وروره. ټول بدن مې شين او ښتی. سر مې مات دی.

سړي يې له سره پرده لرې کړه. پر وېښتو يې وچه شوې تور بخونه وينه ښښتې وه.

د معصومې زنې ته يې لاس وروړ.

د هغې سر ځوړند و. سترګې يې په ځمکې پورې ګنډلې وې.

سړي وويل: د خدای په قهر دې اخته شي. دا سې ښکلې ښځه د وهلو وي. سړی بايد ښځه ونازوي. حيوان خو نه ده چې ويې وهي.

د معصومې مخ يې په ورغوو کې ونيو: حيف دی. دا دله د ښځو په قدر نه پوهېږي.

معصومې يې لاسونه لرې کړل. سر يې شا ته يووړ.

سړی لږ په څټ شو.

پاڅېد. د کړکۍ خوا ته لاړ.

يوه شېبه ودرېد.

بيا د کړکۍ تاخچې ته ورکړوپ شو. ترموز يې راپورته کړ.

په ګېلاس کې يې لږ چای واچاوه. ويې رغړاوه. چای يې په بل ګېلاس کې تش کړ. بيا يې ګيلاس ډک کړ. بوره يې په کې واچوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاشوغه یې په کې ووهله. راغی. په لړزانده غږ یې وویل: دغه، دغه خوږ چای و - وڅښه.
د معصومې څنګ ته کېناست. په چپ لاس یې ګېلاس د هغې خولې ته ونیو.
معصومې یو غوړپ څښې وکړ.
سړي ښی لاس د دې پر اوږې کېښود.
معصومې ځان راغونج کړ. پرده یې پر سر سمه کړه.
سړي بیا لاس وروغځاوه.
دا یې د ځان خوا ته وروڅکوله.
معصومې یې لاس پورې وواهه. سړي ته یې وروکتل.
د سړي لمن پورته وه. چپ لاس یې تر پرتوګ لاندې و.
معصومې چیغه کړه: د سپي زویه، څه کوې؟
دې سره په منډه له کوټې ووته. په درنګ شېبه کې یې د انګړ وره ته ځان ورساوه او هماغسې یېلې پښې کوڅې ته ووته.
پورته خوا وځغاسته. له پنځو - شپږو دروازو واوښته. ساه یې وسوځېده. ودرېده.
شا ته یې وکتل.
څوک نه وو.
دېوال ته یې ډډه ولګوله.
د زړه دربا یې پخپله اورېدله. ساه یې تېزه تېزه اخیستله. مخ یې تود و خو لاسونه لا هماغسې ساړه.
د چا د منډو ترپا یې واورېده.
شا ته یې وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید عثمان له کړلېچه راتاو شوی و.
منډه یې کړه.
د سید عثمان چیغه یې واورېده: ودرېږه، د سپي لورې. وایم ودرېږه.
دې منډې وهلې خو د سید عثمان لاس یې اوږې ته ورورسېد.
چیغه یې کړه: وه مسلمانانو، د خدای لپاره.
د سید عثمان غبنتلي لاس یې خوله وربنده کړه.
له دوو سره مخامخ کورونو دوه سرې رااووتل.
سید عثمان وویل: ورونو، هېڅ خبره نشته. دا مادر خطا تښتېدله. ومې نیوله. ځئ تاسې خپلو کورونو ته. درځه، د سپي لورې.
معصومه یې هماغسې چې پر خوله یې لاس ایښی و، په ځان پسې راوښکوله.
راوتلي سړي بېرته په چوپه خوله کورونو ته لاړل.
معصومې هڅه وکړه چې خوله خلاصه کړي. زور یې وکړ خو د مېړه هډور لاس یې ورمېږ کلک نیولی و.
پر زامو یې زور وکړ چې خوله خلاصه کړي. د مېړه ګوته یې د غاښونو تر منځ راغله. غاښونه یې پرې ټینګ کړل.
د سید عثمان سوک یې پر ټېک ولګېد. په سترګو یې تیاره راغله او لکه مړی د مېړه لاسونو ته تسلیمه شوه. بیلو پښو یې د کوځې په خاورو کې دوې کرښې وږې لیکې ایستلې.
د انګړ دروازه په شدت سره خلاصه شوه. دړې یې پر دېوالونو ولګېدې او د زنځیر شرنګها یې پورته شوه.
سید عثمان یې سر راتاو کړ او پر ځمکه یې ګوزاره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاطمې په بېړه ور پورې او زنځير يې بند کړ.
خوابښې يې پر ويښتو بريد وکړ. لکه د لاندې له پسه نه چې سرې ويښته وباسي، په دواړو منګولو يې د معصومې ويښته وشکول.
د معصومې چيغه پورته شوه.
سيد عثمان له شا نه خپل تاو کړی پټو د قيضې په شان په خوله کې ورواچاوه. پر ځت يې پښه کېښوده. سينه يې پر ځمکې ولګېده. نور يې غږ او چت نه شو.
پر پښو او ځت يې د لرګيو وارونه وشول. د مار غوندې تاوېده راتاوېده خو د مېړه پښه يې د پورته کېدو مجال نه ورکاوه.
سيد عثمان وويل: هله، غوجله خلاصه که.
معصومه يې د غوجلې خوا ته وځکوله.
پښې يې په پړي وروتړلې.
معصومې زارۍ وکړې: بد مې کړي. غل مې خوړلي. د خدای په خاطر. خوشې مه که.
سيد عثمان چې تېزه تېزه ساه يې اخيستله، وويل: اوس به زه غل دربانديې وخورم. کم ذاتې، د سپي لورې.
بل ډبل پړی يې د معصومې په خوله کې واچاوه. زامې يې سره لرې شوې. پړي يې ژبه وربنده کړه. يوازې د امممم - امممممتت اواز يې له خولې راوته.
سړی ووت. ور پورې شو. غوجله په تيارو کې ډوبه شوه. د وره د زنځير د بندولو غږ راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۵-۵. جرګه

چا ور ووډباوه. عاطفي په ترهېدلو سترګو ورور ته وکتل: خدای دې خیر کي. په دې مازدیګري کې به څوک وي؟

مور یې وویل: ګاونډیانو خو به له بامه نه یوو لیدلي؟

سید عثمان ځواب ورکړ: نه، ما شا و خوا ته کتل. هېڅوک نه وو.

- نو دا به څوک وي؟
- وبه یې ګورم. فاطمې! دا ختې د لارې نه ایسته که.

سید عثمان لاسونه سره وسولول چې نیمه وچې ختې ځنې تویې شي. د وره خوا ته روان شو. په نیمایي لاره کې ودرېده، شا ته یې وکتل. په لاس سره یې خور و مور ته اشاره وکړه چې کوټې ته دې ننوځي.

په رېږدېدلي غږ یې پوښتنه وکړه: څوک؟

- ابراهیم یم. ور خلاص که.

ور یې خلاص کړ.

ابراهیم د وره مخې ته و. ښي لاس ته لږ څنګ ته درې سپین ږیري او یو تور پټکی ځوان ولاړ وو.

سید عثمان بې ستړي مشي وویل: خیر – خیر خو به وي؟

- خیر و خیریت دی. یو څو دقې به سره کېنو.

سید عثمان سپین ږیرو ته مخ واړاوه: سلام علیکم. زه به کو- کور ته یو وار ورشم. بېرته راځم.

ابراهیم او مېلمانه یې د وره شا ته منتظر پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید عثمان چې بېرته راغی د یوه سپین ږیري غږ یې واورېد چې ویل یې: د مني ماز دیګر بې برکته وي. چې زر زر ورته خپلې خبرې وکو او راووځو. تر چلستونه یو سات لاره ده.
ابراهیم وویل: ډېر وخت به مو نه نیسم. راساً به اصلي خبره ورته وکو.
ور خلاص شو. سید عثمان چې لانده لاسونه یې په لمن وچول، وویل: راځئ.
مېلمانه یې کوټې بوتلل. پخپله بېرته په وتو و چې سپین ږیري غږ وکړ: راشه، کېنه. چایو پسې مه ګرځه چې ناوخته کېږي.
- یو پیاله خو به وڅښئ؟
ابراهیم وویل: نه، آغا صاحب. کېنه.
سړی د دروازې په خوله کې کېناست.
سپین ږیري وویل: زه د چلستون وکیل ګذر یم. اونبی دې شکایت کوي چې له خور سره یې بده رویه کوئ. ډېر سر به دې نه خوږوم. وایي نکاح سنت ده طلاق فرض. موږ چې اورېدلي نور نو نه سره جوړېږئ او چې نه سره جوړېږئ نو شرعي لاره یې همدا ده.
سید عثمان وویل: سم - سمه ده. وکیل صاحب، څه چې تاسې وواییئ خو ما ته به وخت راکوئ.
- څومره وخت؟
- دوه، دوه - درې ورځې.
- سمه ده. موږ به د جمعې لمانځه نه وروسته درته راشو.
- بیخي - بیخي سمه ده.
مېلمانه راپاڅېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګړ له وره چې ووتل، ابراهيم وويل: کور مو ودان. تکليفونه وبخښئ.
تور پټکي والا وويل: ته څه کوې؟ شپه به دې ما سره وي.
- والله، هو سمه ده. ته يوه شپه راته ودرېږه، زه به مې خور په منډه وګورم. ژر بېرته راځم.

سيد عثمان وويل: په دې خوارکي به ناوخته شي. سبا – سبا به يې وګورې.
- نه يې ځنډوم. سليم جانه فقط يوه شپه. وکيل صاحب، په مخه مو ښه. تکليفونه معاف کئ.

حويلۍ ته ورننوت. سيد عثمان ورپسې و. د دهلېز وره ته چې ورسېد. غږ يې وکړ: معصومې !
چوپه چوپتيا وه.
بيا يې غږ وکړ: خورې ! ژر کوه چې يو وار دې ووينم، بيا ځم.
عاطفه له کوټې راووته، مور يې ورپسې.
عاطفې چيغه کړه: خور دې تښتېدلې ده. مور ته يې آبرو او عزت نه دی پرېښی.
ابراهيم وويل: دا څه بد کوئ؟
سيد عثمان يې لاس ونيو: رښتيا وايي. پرون راهيسې ورکه ده. ټول کلي مې ورپسې ګز و پل کړ، درک يې نه و.
ابراهيم د سيد عثمان له ګرېوانه ونيو: څه دې ورسره کړي؟ خبره وکه. وايم چېرته دې پټه کړې ده؟
فاطمې په لوړ آواز وويل: مور يې څه په بلا وهو چې پټه يې کو. خدای چې له چا سره جوړه وه. هاغه دې وتښتېده، ورسره لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خولې سره دې پام کوه، پليتې.

سيد عثمان يې لاسونه له خپل ګرېوانه پورې ووهل: لا مور، څه نه وايو، ته يې وايې؟ خور د تا تښتېدلې، نوم يې زما بد کړی او خبرېم لا ته کېې؟

ابراهيم کوټې خوا ته روان شو. ودرېد. شا ته يې مخ واړاوه، ويې ويل: داسې مو نه پرېږدم. درباندې پيدا به يې کم.

فاطمې چيغه کړه: ځه، ورځه. لاس دې خلاص، توره دې تېره.

ابراهيم ووت. د کوټې ور يې په شدت وواهه.

## ۲-۵. پلټنه

سليم پوښتنه وکړه: خيريت خو به وي؟

ابراهيم پر تندي باندې لاس ايښی و. سر يې ځوړند و. سړه ساه يې وايسته، ويې ويل: ته راځه، په لاره کې درته کيسه کوم.

د سليم لاس يې ونيو. دواړه روان شول.

له کرلېچه تېر شول. ابراهيم وويل: خبره ورانه ده.

- ولې؟
- وايي خور دې تښتېدلې ده خو زړه ته مې نه لوېږي. هغه ډېره عاجزه ده. د تېښتې نه ده.
- ته ودرېږه. تر کاسې لاندې به خامخا نيم کاسه وي. که داسې واى نو په مجلس کې به يې د ټولو په مخ کې دا خبره کړې واى. راځه چې حوزې ته خبر ورکو.
- نه، نه. په حوزه کې به څه ووايو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ګوره، د سړي سترګې د جنايتكارو دي. زما ورته ښه پام و. په كوټه كې چې ناست و، ډېر وارخطا ښكارېده. خداى مه كړه څه بد يې نه وي كړي.

ابراهيم ځان په دېوال ه تكيه كړ.

سليم يې پر اوږې باندې لاس كېښود: زړه به نه غورځوې. لا هېڅ نه دي معلوم خو هرې خبرې ته به ځان چمتو كوې. حوزې ته به لاړ شو. ته به ټوله كيسه ورته كوې او دا به هم وايې چې كېداى شي هغه يې بندي كړې يا خداى مه كړه وژلې وي. دا كار بايد ژر وكو چې سړى ونه تښتي.

- اوه، خدايه. دا څه حال دى.

سليم يې لاس ونيو. له ځان سره يې رهي كړ.

د حوزې آمر په دفتر كې پر توشكې غځېدلى و. سپين پاج لونګى يې څنګ ته د تفدانۍ په خوا كې پرته وه. تورې كړې يې سترګې يې پورته كړې، په اوږده توره ږيره كې يې ګوتې تېرې كړې، ويې ويل: خداى دې خير كړي؟

سليم وويل: ملا صاحب، يو عرض لرو.

سړى نېغ كېناست: كښېنئ.

سليم او ابراهيم پر مخامخ نيالۍ كېناستل.

- ښه نو وايه، څه كيسه ده؟

- ملا صاحب، يو ظالم دى، د دغه ورور اوښى. د ده پر خور باندې يې ډېر ظلمونه كړي دي. هره ورځ وهل، ټكول. اوس وايي چې هغه تښتېدلې ده خو موږ شک لرو چې وژلې به يې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ځنګه، ځنګه؟ سر مې نه سو خلاص.
- صاحب، بلـه ښـځه يـېم وژلـې وه. مخکې قومانـدان و ، پـه حزب اسلامي کې و.

د حوزې آمر ناري کړې: څه سوئ، وه هلکانو !
د شل – دوه ويشتو کلونو تور پټکی ځوان را ننوت.

- يو درې – څلور کسه ورسئ له دغه سړي سره. سړی بـه لاس تړلی راولئ.

په تور ډاټسن کې کېناستل. د ماښام له آذانه سره د کوځې پـه اخر سر کې ودرېدل.
په سپېره پټي کې يې څادرونه وغوړول. يو يې مخکې شو ، نور يې له ابراهيم او سليم سره شا ته.
لمونځ خلاص شو. هغه چې جماعت يې ورکړی و ، وويل: کوم کور يې دئ.
ابراهيم په ګوته د پټي په بل سر کې ايکي يوازې کور تـه اشاره وکړه: همدغه دی صاحب.
ورغلل. ور يې ودړباوه.
څوک را ونه وتل.
بيا يې ودړباوه.
ابراهيم وويل: صاحب، چې تښتېدلی نه وي.
يوه طالب غږ وکړ: راتا سه د خنزير زويه.
ټولو هغې خوا ته وکتل چې د دې طالب مخ ورته و.
د سيد عثمان سر له دېواله پورته ښکارېده.
ابراهيم وويل: ملا صاحب، چې ونه تښتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشر دوه طالبان ولېږل چې د کور شا و خوا وڅاري. پخپله يې چيغه کړه: درګاه خلاصوې که يې درماته کړو؟
ډبه، ډبه، وره ته يې لغتې ورکړې.
خو څوک راونه وتل.
د کور له بلې خوا د درب آواز راغی، لکه يو شی چې له لوړه ځايه غورځېدلی وي.
د طالب ناره واورېدل شوه: ودرېږه، چې ونه خوځې.
ټولو د آواز خوا ته منډه واخيسته.
د چا د پښو ترپا راغله چې ځغستل يې.
ابراهيم دوی د دېوال له ګوټه تاو شول.
سيد عثمان د تش پټي په منځ کې په ځغاسته و.
مشر غږ وکړ: ويې وله.
کړپا شوه.
طالب په کلاشينکوف کې مرمۍ تېره کړه.
سيد عثمان شا ته وکتل خو ونه درېد.
طالب ډز وکړ.
د سيد عثمان له پښو سره له ځمکې دوړه پورته شوه.
ځای پر ځای ودرېد. مخ يې راواړاوه. لاسونه يې پورته نيولي وو.
ويې ويل: مه، مه کوه. ډز مه کوه.
دوه طالبان وروررسېدل.
وار له واره يوه يې د کلاشينکوف په کنداغ هغه پر ځټ وواهه.
سری يې راڅملاوه. دواړه پرې بريد وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مه، مه مې وهئ. د خدای د پاره، اخ، وی، وی، وی. توبه مې کړې ده.

د سید عثمان فریادونه د طالبانو له ښکنځلو سره ګډېدل.

ټول ورور سپېدل.

له شا څخه د ښځو بوغارې پورته شوې: وه مسلمانانو، د خدای د پاره. وه خلکو، هله چې سړی یې مړ کو.

فاطمه او مور یې سرتورې، یبلې پښې راوتلې وې.

یوه طالب د هغوی خوا ته ورمنډه کړه. لښته یې پښو ته ورسیخه کړه: ځغلئ، بې شرمو. ژر کوئ، کور ته ننوځئ. خدای مو وشرموه، بې غیرته خلکو.

ښځې په چیغو چیغو ورکې شوې.

سید عثمان یې له ځمکې راپورته کړ.

یوه طالب خپله لونګۍ له سره ایسته کړه. د هغه لاسونه یې تر شا وتړل.

مشر پوښتنه وکړه: ښځه دې چېرته ده؟

- ملا صاحب، قسم دی، په خدای، په والله بالله که مې لیدلې وي.

- غلی سه، دووسه. خوشې قسمونه مه کوه.

سید عثمان په ګونډو شو. سر یې د مشر پښو ته ورټیټ کړ: ملا صاحب، په خدای قسم کوم. تښتېدلې ده. خدای خبر چې چېرته تللې ده.

د طالبانو مشر ابراهیم ته وکتل.

ابراهیم وویل: ملا صاحب، باید چې کور یې تلاشي کو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید عثمان یې مخکې روان کړ. طالبان ورپسې شول.
لاسي څراغونه یې لګولي وو.
حویلۍ ته ورننوتل.
مشر وویل: ګېس ولګوئ.
یو طالب له ابراهیم سره په ټولو کوټو وګرځېد.
معصومه نه وه.
راووتل. ابراهیم وویل: تناره ته به ورشو.
د تناره او سپنیز سرپوښ یې لرې کړ. څوک نه وو.
غوجلې ته ورننوتل.
خس، خځلې، لرګي، زړې جامې، د موټرو د ټېرونه ټوټې ګډوډ پرتې وې.
مشر پوښتنه وکړه: څنګه سوه؟
ملګري یې وویل: ملا صاحب، څوک نسته.
- درځئ. سړی موټر ته واچوئ.

## ۵-۷. بیا پلټنه

سبا سهار سلیم او ابراهیم حوزې ته ورغلل.
د اول پوړ په دهلېز کې ودرېدل. وره ته مخامخ کوټه کې یې سید عثمان د اوسپنیزو پنجرو شا ته ولیدل.
ابراهیم ورنژدې شو. د سړي چپه سترګه پړسېدلې، شنه اوښتې وه. پر ټېک باندې یې توربخونې وچه شوې وینې د ږیرې تارونه سره نښلولي وو.
سړي وروکتل: زه خو به آخر د دې ځای نه خلاصېږم خو تا به والله که پرېږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلیم د ابراهیم لاس ونیو: راځه.
د حوزې آمر ته ورغلل.
برستن یې لا غوړېدلې وه. دی تر ټټره په کې ننوتلی و. د دوی په لیدو یې مسواک له خولې لرې کړ. تفداني یې ورپورته کړه. ناړې یې تو کړې: سړی خو مو تر سهاره وډباوه خو اقرار یې ونه کړ. که ستاسې دعوا غلطه وخته، بیا به ستاسې هم دغه حال وي.
سلیم وویل: صاحب، اجازه راکئ چې کور یې یو وار بیا وګورو.
- بېګاه خو مو ټول ځایونه وکتل، شی مو پیدا نه کړ. چې بیا یې وګورئ، څه به وکړئ.
- ملا صاحب، زما مسلک جنایي دی. که ما ورته پرېږدئ، خبره به معلومه کم.
- څه به وکړې؟ ته وایې زما انډیوالان سترګې نه لري که ستا سترګې څلور دي؟
- ګوره ملا صاحب، پرون چې ورغلو، په دهلېز کې یې د خټو بوی و. په دې وخت کې به یې په خټو څه کول؟
- نو؟
- ضرور به یې کوم څه پټ کړي وي. بېګاه تیاره وه، هر څه سم نه ښکارېدل. خیر دی ملا صاحب، دغه یو وار اجازه راکه چې زه یې پخپله په رڼا کې وګورم.
دوه طالبان ورسره روان شول.
د سید عثمان مور چې څنګه ور خلاص کړ، په ژړا یې پیل وکړ: خدای ته وګورئ، زوی مې راخوشی کئ. خوارکي هېڅم نه دي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالب وویل: لرې شه، بې شرمې.
څلور واړه ورننوتل.
په دهلېز کې ودرېدل.
سلیم هغو زینو خوا ته ولاړ چې له دهلېزه بام ته ختلې وې. نور
هم ورپسې شول.
پر زینو د کاهګل تور بخون رنګ ویل چې لا نه دی وچ شوی.
سلیم شا و خوا ته وکتل.
د دهلېز له کونجه یې ګل ماله راواخیسته.
د اولې پتنې ختې یې په کراره پورته کړې، لاندې یې خطا کړې.
ویې ویل: لږ دې خوا ته ودرېږئ چې رڼا شي. دا وګورئ.
پر پتنې د وینو د وچو څاڅکو لیکه پرته وه.
د بلې پتنې ختې یې لرې کړې. همدغه شی یې ولیدل.
دغسې مخ په بره لګیا شو. څومره چې پورته تلل، هماغومره د
وچو شویو وینو لیکې ډېرې او پراخې کېدې.
بام ته لګېدلې دروازه یې خلاصه کړه.
پر بام وګرځېد. څه یې ونه موندل.
راکښته شو.
عاطفه او مور یې د دهلېز په سر کې ولاړې، په رډو سترګو یې
ورته کتل.
سلیم پوښتنه وکړه: چېرته مو ښخه کړې ده.
چا ځواب ورنه کړ. یوازې د دواړو سونګېدا واورېدل شوه.
سلیم وویل: هېڅ مه وایئ، زه به یې پخپله پیدا کم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ابراهیم له سرو سترګو د اوښکو څاڅکي په مدار مدار بې غږه
و غوږه راڅڅېدل.

سلیم یوې کوټې ته ورننوت. ټغر یې پورته کړ. راکش یې کړ.
کوټه یې لوڅه کړه. په کې وګرځېد. په پښه سره یې هر ځای
وډباوه.

په دېوال کې د لګېدلې الماری پلې یې خلاصې کړې. د کالیو
پنډونو یې راوایستل. لاندې درې یې لرې کړې. تر الماری
لاندې ځمکه یې وکروله.

بلې کوټې ته لاړ. هلته یې هم همدا کارونه وکړل. څه شی نه و.
غوجلې ته لاړ. ابراهیم او طالبان ورپسې شول.
غږ یې وکړ: دا شیان به له غولي لرې کوو.
ټول سره لګیا شول.

خځلې، زړې جامې، د ټیرونو ټوټې او د ونو لنډې کړې څانګې
یې د باندې وغورځولې.
لاندې غولی تازه کاه ګل شوی و.
بېلچه یې راوخیسته.
د کاه ګل ټوټې د لرګیو د دړو په څېر امانت جلا شوې.
تر لاندې یې پسته نم جنه خاوره وه.
سلیم ورو ورو په بېلچې سره خاوره لږه لږه لرې کړه.
کړنګ شو. لکه بېلچه چې له او سپنې سره لګېدلې وي. له جیبه
یې دسمال راوایست. په لاس کې تاو کړ. لاس یې ورټیټ کړ.
د درې لوښتو په اندازه سیخ یې راوایست.
خاورې یې ځنې وڅنډلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېره څوکه يې په وينو ککړه وه.
ويې ويل: په دې به لاس نه وهئ.
يو څه نوره خاوره يې ايسته کړه.
د دوو پښو وچې، نرۍ ګوتې راښکاره شوې.
ابراهيم ړنګ شو. شا ته ولوېد.

پای
۱۳۹۳د وري ۳۰ مه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**